# افغانستان

## د ۲۰۱۳ کال شپږ میاشتنۍ راپور
## په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه




د عمر سبحاني تصویر،

**دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی**

**کابل – افغانستان**
**۲۰۱۳ جولای**

## AFGHANISTAN ADMINISTRATIVE DIVISION



په لومړي مخ د هغو ملکي وګړو انځور دی چي د څلورو ځانمرګو بریدګرو چې په پیکا، راکټ ،ټوپکو او چاودیدونوکو توکو باندې سنبال او د چاودیدونکو توکونه ډک یو موټر هم ورسره و ډله ایز برید پر مهال اخستل شوی دی. طالبانو د ۲۰۱۳ کال د میٔ په دوویشتمه نېټه ،په کابل ښارکي دیوه دفتر پر ودانۍ د برید مسؤلت په غاړه واخست چي په پایله کې یې څلور ملکیان مړه او ۲۲ تنه نور ټپیان شول.

**د افغانستان په شخړه کې ترټولو دمخه، په لومړي سرکې ملکي وګړي زيانمنېږي**
**د دوي د خوندي ساتنې لپاره باند هر ډول اړين ګامونه پورته شي .**

یان کوبش، د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی

د ۲۰۱۳ کال د جون ۳۰مه

## صلاحیت/ واک

دغه کلنی راپور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له خوا په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه چمتوشوې دي چې د ۲۰۱۳ کال د جنوري د لومړۍ ورځې څخه د جون تردیرشمې نیټې پورې موده رانغاړي. دا راپور د بشري حقونو د عالي کمشنرۍ د دفتر لخوا د تخنیکي مرستي او کتنې وروسته چمتو شوې.

دغه راپور د یوناما د هغه صلاحیت له مخې چمتو شوې دی چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا د ۲۰۹۶ /(۲۰۱۳) پریکړه لیک په اساس ورته ورکړې شوې څو د ملکي وګړو وضعیت وڅاري ، د دوي د ساتنې په موخه هڅې همغږې کړي، حساب ورکوونه تقویه کړیاو د اساسي ازادیو او بشري حقونو، چې د افغانستان اساسي قانون او د نړیوالو تړونونو، چې افغانستان یې غړیتوب لري،برخه ده، په بشپړ ډول پلي کیدو کې مرسته وکړي ، په ځانګړې ډول د ښځو د ټولو بشري حقونو څخه د برخمن کیدلو په اړه هڅې وکړي.

د امنت د شورا ۲۰۹۶/(۲۰۱۳) پریکړه لیک،په افغانستان کې د وسله والو شخړو په ترڅ کې د ملکي وګړو د وضعت او په ځانګړې توګه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړوند روانې څارنې او راپوررکونې ته اهمست ورکوي .

یوناما یو لړ فعالیتونه تر سره کوي چې هدف یې په ملکي وګړو د جګړې د اغیزو راکمول دي لکه: په خپلواکه او بې پلوه ډول د داسې پیښو څارنه چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځي، د وسله والو ښکېلو لوریو او نورو نوښتونو ترسره کول چې په ښکېلو لوریو کې اغیزمنوشوي ملکي وګړو د ساتنې په اړه، د ملاتړکوونکو فعالیتونو او نورو نوښتونو ترسره کول چې په ښکېلو لوریو کې ښکېلي خواوې د بشرپالنې او بشري حقونو د نړیوالو قوانینو او د افغانستان د اساسي قانون د احکامو رعاېت کولو ته رابولي.

## اصطلاحګانې

**هوايي بريد:** له الوتکې څخه ويشتونکې مهمات چې په هغوکې نږدې هوايي ملاتړ (د الوتکې لخوا بريد) او نږدې جنګي بريد چې د چورلکې په مرسته ترسره کيږي راځي. همدارنګه په هوايې بريدونوکې هغه هوايې بريدونه هم شامل دي چې بې پيلوټه جنګي الوتکې يا ډرون يې تر سره کوي.

**ABP:** افغان سرحدي پوليس

**ALP:** افغان سيمه ايز پوليس

**ANA:** افغان ملي اردو

**ANP:** افغان ملي پوليس

**ANSF:** افغان ملي امنيتي ځواکونه، يوه ټوليزه اصطلاح ده ، چې افغان سرحدي پوليس، ملي اردو، ملي پوليس او د ملي امنيت اداره په کې شامليږي.

**دولت ضد عناصر :** په دې ډله کې ټول هغه اشخاص او ډلې راځي چې اوس مهال د افغانستان د دولت او نړيوالو نظامي ځواکونو پر ضد په وسله واله جګړه کې ښکيل دي. هغه وګړي چې د طالبانو په نامه پيژندل شوي او هغه اشخاص او ډلې چې بيلا بيل هدفونه لري او تر مختلفو نومونو لاندې لکه د حقاني شبکه، حزب اسلامي او د القاعده متحدين لکه د ازبکستان اسلامي حرکت، د اسلامي جهاد اتحاد، لشکر طيبه او جيش محمد او نورې مليشې او وسله والې ډلې چې سياسي ، ايدولوژيکي او اقتصادي اهداف تعقيبوي يا نوري جرايم پيشه ډلې چې په جګړه کې د يوې ښکېلې خوا په استازيوب ګډون کوي، په دغوعناصروکې راځي

**وسلوالې ډلې :** نا دولتي وسلوالي ډلي چې شخړوکې ښکېلې وي او په ځرګند ډول د دو لت څخه بېلې وي چې د جوړښت پر اساس د مليشو څخه واخله تر ياغي جنايي مجرمو ډلو پوري رسيږي. نادولتي وسلوالي ډلي دا وړتيا لري چې د وسلې او ځواک په کارولو سره سياسي ، ايډيالوژيکي يا اقتصادي اهداف تر لاسه کړي ؛ خو د دولت د رسمي نظامي چوکاټ ، دولتي ايتلاف يا د دولت د خپلمنځيو ارګانونو برخه نه وي او د فعاليت سيمه يې د دولت د ولکې د باندې وي. وسلواله ډلې کيداي شي د دولت د رسمي ولکې اوکنترول د سيمې نه د باندې وي خوکيداي شي چې دکوربه يا نورو هيوادونو مستقيم يا غير مستقيم ملاتړ ولري. .دغه تعريف عبارت له لاندې ډلو څخه دي خو يوازې تر دوي محدودې نه د ی :ياغي ډلې ، سيمه يزې ملېشې ( توکميز، قبيلې يا په بل اساس) ياغيان، ترهګر، ګوريلا او نور مدني دفاعي ځواکونه او نيمه نظامي ډلې ( چې په ځرګند ډول د دولت په ولکه کې نه وي).[1] دغه وسلوالې ډلې د افغانستان د قانون له مخې کوم قانوني بنسټ نه لري.

د يوناما په دی راپورکې بيان شوي دولت ضد وسلوال عناصر' غېر قانوني وسلوالې ډلي بولي ليکن د دولت سره د مخالفت په اساس يې توپيرکاندي.

---

[1] د ملګرو ملتونو د وسله والو ډلو سره د بشري مرستو اړوند خبرې اترې . دګيرارد مک او مينويل بيسلر د فعالينو لپاره لارښود ، د ملګرو ملتونو لپاره د بشري چارو د همغږۍ دفتر ،نيويارک، جنوي ۲۰۰۶. د وسله والو ډلو اوصاف ۳.۲ برخه وګورئ

AXO: پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي

**ملکي تلفات:** وژل شوي او ژوبل شوي ملکي وګړي

ملکي تلفات په دوه ډوله ډله بندي شوي دي:

- **مستقیم:** هغه تلفات دي چې په مستقیم ډول د وسله والې جګړې له امله راپیدا کېږي. لکه هغه تلفات چې د نظامي عملیاتو(هغه عملیات اوهوایي بریدونه، چې افغان او نړیوال ځواکونه یې د ځان ژغورنې په موخه، د نیولو او تلاشۍ لپاره، د یاغیانو یا ترهګرۍ پر ضد،ترسره کوي )د تر سره کېدو په ترڅ کې رامنځ ته کېږي. همدارنګه په دې کې هغه تلفات هم شاملیږي چې د نا دولتي وسلوالو ډلو دفعالیتونو له امله لکه په ښخه شوې وژنې، تعبیه شوي چاودیدونکي توکي او یا له حکومت پلوه ځواکونو سره د مستقیمې ښکلتیا په پایله کې رامنځته کیږي.
- **غیرمستقیم / نور تلفات:** هغه تلفات چې په غیر مستقیم ډول له وسله والې جګړې څخه راپیدا کیږي لکه د جنګې پاتې شویو چاودیدونکي توکو ، په محبسونوکې مړینه، دکافي طبي شرایطو د نشتوالي له امله مړینې چې د نظامي عملیاتو په ترڅ کې پیښیږي او په داسې ځایونوکې چې طبي پاملرنې ته د لاس رسي مخنیوي شوي وي او یا موجود نه وي. په دې تلفاتوکې هغه مړینه هم شامله ده چې د مرګانیو پیښو مسوولیت پکې په پوره اطمینان سره نه شي په ګوته کیداي لکه هغه مرګ ژوبله چې د ډزو د تبادلې په پایله کې رامنځ ته کیږي.

**ماشومان:** د ماشوم د حقونو دکنوانسیون له مخې ماشوم داسې یوه شخص په حیث تعریف شوی چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه کم وي (۱۷ کلن هم ماشوم دی). د دي تر څنګ د روم د نړیوالي جزایي محکمې اساسنامې له مخې چې د افغانستان دولت هم په ۲۰۰۳ کې تصویب کړې، د ۱۵ کلونو څخه کم عمر ماشومان په دولتي عسکري لیکوکې او یا غیر دولتي ډلوکې شاملول ا وګمارل، چې په فعال ډول په جنګ کې برخه واخلي جنګي جرم ګڼل کیږي د ۸ مادې (۲) (ب)(xxvi ) او ۸ مادي (۲) (ت) (vii).

**ملکي/ خوندي جنګیالي :** د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې "ملکي وګړي " هغه افراد دي چې په جنګ کې شامل نه وي (نظامي/نیمه نظامي قوتونه نه وي) یا په جنګ کې د یوې خوا په منظمو وسله والو ډلوکې غړیتوب ونه لري یا هغه وګړي دي چې د (عمومي پاڅون)[2] غړي نه وي. ملکي وګړي کیداي شي چې د بریدونو په وړاندې د خوندیتوب تضمین له لاسه ورکړي که چېرې دوي په ښښتوکې کې نیغ په نیغه برخه واخلي. د ملکي وګړو په څېر، یو جنګي فرد چې hors de combat وي (ژوبل شوي، ناروغ، د ویجاړې شوي کښتۍ عمله، توقیف شوي یا اوهم تسلیم شوي) یا هغه څوک چې د وسله والو قوتونو په طبي یا مذهبي پرسونل پورې اړه ولري، هم دبرید څخه د خوندیتوب حق لري.

**کام ایساف:** COMISAF افغانستان کې د نړیوال امنیتي مرستندویه ځواکونو قوماندان.

---

2 عمومي پاڅون ته د ژنیو په دریم تړون کې اشاره شوې " د یوې ازادې خاورې اوسیدونکي، چې د دښمن په نږدې کېدو سره په یو ناڅاپي ډول وسلې ته لاس کوي چې د تیري کوونکو مخنیوې وکړي، بې له دې چې ددې لپاره وخت ولري چې په منظمو نظامي واحدونوکې تنظیم شي، په دې شرط چې خپلې وسلې په ښکاره وګرځوي او د جنګ قانون او دودونه مراعات کړي." (۴ماده (۱)(۶)".

د EOF **پېښې:** د عکس العمل ښودلو پېښې ، چې د ځواک د ساتنې پېښې ورته هم وايي. په دې کې داسې حالات شامل دي چې کله ملکي وګړي  نظامي قطارونو ته د نږدې کېدو يا له هغو څخه د مخکې کېدو په وخت کې د نظامي پرسونل اخطارونو ته پاملرنه و نه کړي او يا د تلاشۍ په پوستوکې لارښوونو ته توجه و نه کړي او تر برید لاندې راشي.

ERW: له جګړې څخه چاودېدونکي پاتې شوني، په دی مانا چې ناچاودي توکي ،او پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي وي.

**IDP:** داخلي بې ځايه شوي وګړي

**IED:** ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکي توکي يو بم چې د دوديزې نظامي طريقې په خلاف په نورو طريقو جوړېږي اوکارول کېږي. نوموړي چاودېدونکي توکي کيداي شي د ځانمرګي بم په شکل استعمال شي لکه په ځان پورې تړلې ځاي پر ځاي  شوي چاويدونکي توکي (BBIEDs)، دغه راز له لېرې څخه کنترول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي (RCIEDs)، په موټرکې ځاي پر ځاي شوي او يا تعبيه شوي چاوديدونکي توکي (VBIEDs) او د فشار په ذريعه چاودېدونکي وسيلې (PPIEDs)  هم په دې ډله کې راځي.

**د ځاي پر ځاي شويو چاوديدنکو توکو استثمار:** د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو استثمار د هغو معلوماتو او موادو د تشخيص،راټولولو، پروسس او خپرولو پروسه ده چې د ځاي پر ځاي شويو چاويدنکو توکو د پيښې له ځاي څخه راټول شوي دي تر څو د عمل وړ استخباراتي معلومات تر لاسه شي، د ځاي پرځاي شويو چاودېدونکو توکو ضد پروسيجرونه او ميتودونه غښتلي او د اوربکو منابع کمزوري او د دوي د عدلي تعقيب ملاتړ وشي. په دې کې د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو ساتنه، د مختلفو برخو تشخيصونه د تخنيکي، عدلي طب او بايومتريک ازمويني او تحليل راځي چې د واک لرونکي کارپوهانو له لوري تر سره کېږي. د چاوديدونکو توکو استثمار د اغيزمن او دوامداره چاوديدونکو پر ضد د اقداماتو يوه اساسي برخه ده .

**پېښې:** هغه پيښې دي چې په وسله والو جګړو کې ملکي وګړو ته تلفات اړوي. د يوناما په راپوررونوکې هغه تلفات نه دي شامل چې د جنايي پېښو په پايله کې پېښيږي.

**IHL:** د بشر پالنې نړيوال قانون

**نړيوال نظامي ځواکونه:** په دې ځواکونوکې ټول بهرني عسکر شامليږي چې د ايساف او په افغانستان کې د امريکا د ځواکونو (د ازادۍ د پايښت د عملياتو په شمول) يوه برخه وي او د ايساف د قوماندان COMISAF تر امر لاندې کارکوي. دغه اصطلاح همدا راز په هغو ځواکونو باندې هم د تطبيق وړ ده چې د ايساف د قوماندان تر امر لاندې نه دي، لکه ځينې ځانګړې ځواکونه او د خاصو عملياتو ځواکونه.

**ټپونه:** د جسماني سختو ژوبلو يا ټپي کيدنو مختلف ډولونه په کې شامليږي. د يوناما په ډيټابيس کې د جسماني ژوبلې درجه نه ده شامله. اروايي يا روحي صدمه يا دماغي جړک پيښې په ژوبلوکې نه دي شاملې.

**آيساف:** په افغانستان کې مرستندويه امنيتي سوله ساتي ځواکونه : ايساف د ملګرو ملتونو د منشور د VII فصل له مخې د سولې د پياده کولو ماموريت يا دنده لري. ايساف د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا په امر او صلاحيت ځاي

په ځای کېږي. د ۲۰۰۳ کال په اګست کې د افغانستان د حکومت او ملګرو ملتونو په غوښتنه د ناټو سازمان د ایساف مشرتابه په غاړه واخیسته. د ایساف قواوې اوس مهال د ۲۴ جون،۲۰۱۳ پوري ۹۲۰،۹۷ تنه سرتیري لري، چې له ۴۹ هیوادونو څخه راغلي او د مرکزي دفترکابل سربیره په شپږو سیمه ییزو برخوکې تنظیم شوي دي . د ۲۰۰۸ د نوومبر څخه د ایساف قوماندان په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قوماندان هم دي، که څه هم د مراتبو سلسله بېله پاتې شوې. د امنیت د شورا ۲۰۶۹ (۲۰۱۲) شمیره پریکړه لیک د ایساف په اړه مخکیني پریکړه لیکونه تایدوي او د ۲۰۱۳ د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې د نورو ۱۲ میاشتو لپاره د ایساف ماموریت غزوي.

**MOI:** دکورنیو چارو وزارت

**NATO ناټو:** د شمالي اتلانتیک د تړون سازمان. د ناټو د سازمان غړي هیوادونه د ایساف اساسي مرستندویه هیوادونه دي. ایساف وګورئ.

**NDS:** د ملي امنیت ریاست. د افغانستان د دولتي استخباراتو اداره

**NGO:** نادولتي سازمان/اداره.

**دولت پلوه ځواکونه**

**افغان دولتي ځواکونه:** ټول هغه ځواکونه دي چې په نظامي او نیمه نظامي عملیاتو یا د بغاوت ضد عملیاتوکې برخه اخلي او په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د افغانستان د دولت تر ولکې او ادارې لاندې دي. په دې ځواکونو کې افغان ملي اردو، افغان ملي پولیس، افغان سرحدي پولیس، د ملي امنیت په شمول نور سیمه ییز امنیتي ځواکونه هم شامل دي.دغه اصطلاح نړیوال نظامي ځواکونه او نور خارجي استخبارات او امنیتي ځواکونه رانغاړي.

**SOP:** معیاري عملیاتي کړنلاره

**په نښه شوي وژني** : هغه وژني دي چې په ارادي ، د مخه سنجول شوي او قصدي ډول د دولت او یا د دولت کارکونکو چې د قانون په چوکاټ کې دنده لري، او یا په وسلواله شخړه کې د منظمو وسلوالو ډلو لخوا د یو په نښه شوي شخص پر ضد وژونکي ځواک وکاروي، او هغه شخص د مرتکبینو د فزیکي ساتني او نظارت لاندي نه وي. سربیره پردي چې په ډېرو وختونوکې په نښه شوي وژنه د ژوند د حق څخه سرغړونه ده خو په استثنایي ډول په وسلواله شخړه کي ځیني وخت کیداي شي مشروعیت ولري.[3]

UNDSS: د ملګرو ملیتونو د مصؤنیت او امنیت څانګه

**UNAMA:** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي

---

[3] د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلي، د بشري حقونو شورا څوارلسمي ناستي د آجنډا دریم ټکي، او د محکمي څخه بهر په خپل سر اعدامونو لپاره د ځانګړي راپورټر ریورټ، او د فلیپ آلستون مکمل ریورټ د "د هدفي وژنو څېړنه" تر عنوان لاندي وګورئ. A/HRC/14/24/Add.6 د ۲۰۱۰ کال د مي میاشت وګورئ.

**UNHCR:** دکډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنري

**USSOF:** د متحده ایالاتو د ځانګړو عملیاتو ځواکونه

**UXO:** نا چاودي توکي

**جنګي جرایم**: د جرمونو د نړیوالې محکمی منشور جنګي جرایم داسی تعریفوی، د نورو تر څنګه، په نړیواله شخړه کې د تطبق او پلی کدونکو قوانینو او دودونو څخه جدی سرغړونه" او " د هغه قوانینو او دودونو جدي سر غړونه چې د غیر نړیوالې وسلوالې شخړی پر مهال د پلی کدو وړوی".[4] جنګي جرمونه عبارت دی د جنوا کنوینسون ددریم مشترک بند څخه جدی سرغړونه ، د شخص او د هغه د ژوند حق څخه سرغړونه ،او په ځانګړی ډول د وژلو ټول ډولونه، د معیوبولو، بی رحمانه سلوک او شکنجه، د شخص په وقار حرمت تجاوز،په ځانګړی ډول تحقیر او ټیټ ګڼلو سلوک، یرغمل کول ، د سزاګانو صدور او یا د اعدامونو سزاګانو پلی کول د یو قانوني محکمی د مخکنۍ پریکړي پرته چې ټول عدلي تضمینونه له ځان سره ولری او په عمومي ډول هغه تضمین جزلاینفک او منل شوي وي.

[4] د جرمونو د نړیوالې محکمي منشور، ۸ بند( حواله په دوهم جلد.II فصل. ۴۴، #۳ ) نړیوال عرفي قانون چې په نړیواله او غیر نړیواله وسلواله شخړه کې د پلی کدو وړ دی د هغی له مخي د نړیوال بشر دوستانه قانون څخه جدی سرغړونو جنګي جرایم بلل کیږي. د هوادونو اجراات د نړیوال عرفی قانون نورمونه تشکیلوي.قاعده ۱۵۶ د جنګي جرایمو تعریف. ای سی ار سی ، نړیوال عرفی بشردوستانه قانون ، ۱جلد، قاعده ،ایډ جین ماری هنکرتز او لویز ډوزوالډ- بیک .{ICRC Study} (CU P/ICRC, Cambridge 2005) او .See Additional Protocol II, article 13(2) د نړیوال جرمونو محکمي د روم منشور.جنګي جرمونه عبارت دی د غیر نړیواله وسلواله شخړی کې پلی کدونکو د جنګي قوانینو او عرفونو سرغړونې ته ویل کیږي چې لومړی مبنی یې د جنوا د ۱۹۴۹ څلور کنوانسونونو دریم عمومي بند،او ورسره د ۱۹۷۷ ضم دوهم پروتوکول، د ۱۹۹۹ الحاقي پروتوکول د ۱۹۵۴ هاګ کنوانسون چې په وسلواله جګړه کې د کلتوري میراث خوندی ساتنی په اړه دی، د ۱۹۸۹ اطفالو د حقونوکنوانسون، د ۱۹۹۴ د ملګرو ملتونو او نبلول شوی پرسونل دمصؤنت کنوانسون، د نړیواله محکمي د رواندا او پخواني یوګوسلاویا لپاره منشور، او د سریلون لپاره د ځانګړی محکمي منشور). د جرمونو د نړیوالې محکمي د روم منشور لاندی جنګي جرایم وګورئ او دهغی منابع د نړیواله بشردوستانه قانون موازنه ، ای سی ار سی د نړیوال بشر دوستانه قانون لپاره مشاورتی خدمتونه.

# د مطالبو فهرست


میتودولوژي ............ i
په ننښته کې د ښکېلو خواوو قانوني مسؤلیتونه ............ ii
لنډیز ............ 1
سپارښتنې ............ 11
د دولت ضد عناصر او د ملکي وګړو ساتنه ............ 13
ځای پر ځای شوي/تعبه شوي چاودېدونکي توکي ............ 14
ځانمرګي او ډله ییز بریدونه ............ 21
وژل جنګي جرم: په عمدي ډول د ملکي وګړو وژنې او د هغوی پر خلاف بریدونه ............ 24
هدفي وژنې ............ 25
د مذهبي شخصیتونو اود عبادت ځایونو پر خلاف بریدونه ............ 31
د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي وګړو ډارونې او ازارونې ............ 34
د ملکي تلفاتو په اړه د طالبانو اعلامیې ............ 37
په جګړه کې د ښکېلو اړخونو تر منځ ځمکنۍ نښتې: ملکي کسان په متقابلو ډزو کې راګیرشوي دي ............ 43
د ځمکنۍ ښکېلتیا لپاره د اډو په حیث د ملکي موقعیتونو کارول ............ 46
دولت پلوه ځواکونه او د ملکي کسانو ساتنه ............ 48
هوايي عملیات ............ 50
د ځواک د ساتنې پېښې ............ 54
د تلاشي عملیات ............ 57
افغان ملي امنیتي ځواکونه ............ 59
د دولت پلوه ځواکونو حساب ورکونه- د مدان وردګو د قضیې څېړل ............ 62
د تعبه شویو چاودېدونکو توکو سره مبارزه- او د تعبه شویو چاودېدونکو توکو شنډول ............ 64
افغان سیمه ییز پولیس او د ملکي کسانو ساتنه ............ 66
ملکي کسان لا هم په خطر کې دي : د شخړې په سیمو کې د بشري حقونو ساتنه ............ 71
وسله والې ډلې ............ 71
د جګړې څخه پاتې شوني چاودېدونکي توکي ............ 74
د تعبه شویو چاودېدونکو توکو اغیزې: بې ځایه کېدنه، ناامني او د پاکولو اړتیا ............ 83
ښځې او ماشومان او وسله واله جګړه ............ 87
د جګړو له امله بې ځایه کېدنه ............ 89
د پولې پوري غاړې د ګولو ورول/د پولې اخوا ډزې ............ 90
ضمیمه ............ 92

## میتودولوژي

یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلي راپورونه تر هغه ځایه چې ممکن وي د مرګ ژوبلي په سیمه کې څیړي؛له مختلفوسرچینو سره سلا مشوره کوي او د معلوماتو بیلا بیل ډولونه راغونډوي چې د اعتبار او ربښتینتوب له مخې ارزول شوي وي. یوناما د هرې پیښې په څیړنه او تحلیل کې زیاته هڅه کوي چې د امکان تر حده پورې له مختلفو منابعو څخه راټول شوي معلومات او نظریات کره اوکنټرول کړي. په دې لړکې د عیني شاهدانو او په مستقیم ډول د زیانمنو شویو وګړو بیانونو ،نظامي برخه والو (د افغانستان د حکومت او نړیوال نظامي ځواکونو په ګډون) کلی محلي /د ولسوالۍ او ولایت چارواکو، مذهبي او د ټولنې د مشرانو او هغه معلومات شامل دي چې په مستقیم ډول د ساحې له کتنې څخه او د پیښې له ځای څخه لاس ته راغلي اجناس/مدارک او شواهد او د هغوي فزیکي ازمایښت، له روغتونونو او روغتیایي اسانتیاوو څخه کتنه، ویډیوګانې او تصویرونه، د ملګرو ملتونو د امنیت او مصوونیت د څانګې او د دې سازمان د نورو ادارو راپورونه، د دویم لاس سرچینو بیانونه، د خبري رسینو راپورنه او له نا دولتي موسسو او دریم ګړي له خوا راټول شوي معلومات په کې شاملیږي.

ترهغه ځایه چې ممکن وي، تحقیقات د قربانیانو یا د حادثې د عیني شاهدانو په مستقیم شهادت او د پیښې د ځای په پلټنو ولاړ وي. په ځینو وختونوکې، د پښې ځای ته د امنیتي ستونزو له امله لاس رسي محدود وي، او دغه ډول تحقیقات ممکن نه وي، په داسې وختونوکې یوناما یو لړ تخنیکونه کاروي چې دامکان تر بریده د پراخه معتبرو شبکو څخه معلومات تر لاسه کړي اوداعتبار اوباور له مخې یې کره کړي.

کله چې یوناما د یوې پیښې په اړه د معلوماتو د کره والي څخه ډاډمنه نه وي د هغې پیښې په اړه راپور نه ورکوي. په ځینو قضیوکې تحقیقات ښایي مخکې له هغه چې نتیجې ته ورسیږي ځواونۍ وخت ونیسي. دا پدې معنی ده چې د ملکي تلفاتو په اړه نتیجې ښایي چې بیا نوې شي ځکه چې نوي معلومات را رسیږي او په تحلیل کې ورڅخه کار اخستل کیږي . په کوم ځای کې چې معلومات ښه څرګند نه ویتر څو چې معتبراو قناعت بخښونکي شواهد لاس ته نه وي راغلي نو نتیجه ګیري نه کیږي او له دې څخه پرته قضیه تړل کیږي او احصایوي راپورکې د هغې خبر نه شامیلیږي.

د ځینو پیښو په راپورکې د قربانیانو ملکي هویت (موقف) په بشپړ ډول نه شي ثابتیدلای او یا لانجه من ټکي وي، په داسې قضیوکې یوناما د بشرپالنې د نړیوال قانون معیارونه په پام کې نیسي او داسې نه ګڼي چې د جنګ لپاره د عمر په لحاظ برابر نارینه جنګي یا ملکي کس دي. بلکه دا ډول ادعاګانې په پیښې پورې د اړوندو حقایقو پر بنیاد ارزول کیږي. که چیرې د یوه یا څو قربانیانو هویت څرګند نه وي، د وژنې دغه ډول پیښې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په عمومي شمیرکې نه شاملیږي.

په وسله والو شخړوکې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د راپور ورکولو او تحلیل لپاره یوناما په ۲۰۰۹ کال کې یو بریښنایي ډیټابیس پرانیست. ډیټابیس داسې طرح شوي دي چې د معلوماتو سیستماتیکه، یوشان او اغیزمنه ټولونه او تحلیل اسانه کوي؛ چې د جنس، عمر، مرتکب، تاکتیک، او نورو اړخونو په لحاظ د معلوماتو ویشل او تحلیل هم په کې شامل دي.

یوناما تر ممکنه بریده هڅه کوي چې د ملکي مرګ ژوبلي پیښې کره او مسؤل لوري په مشخصه توګه په ګوته کړي. د عملیاتو په ډګرکې د ستونزو له امله لکه د ځینو نظامي عملیاتوګډ ماهیت، او د لومړنیو سرچېنو ناتواني چې په ډیرو قضیوکې نه شي کولای د بیلا بیلو نظامي برخه والو/ دولت ضد وسلوالو په منځ کې توپیر وکړي، اوکله چې هیڅ یوه خوا د یوې پیښې مسوولیت نه وي منلي، یوناما د یوې خاصې پیښې مسوولیت یا خو دولت پلوه او یا دولت ضد عناصرو ته منسوبوي. یوناما ادعا نکوي چې په دغه راپورکې شمیري بشپړي دي؛ دکار په چاپیریال کې د محدویت په نظرکې نیولو سره کیدای شي یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلي پوره راپور نه وي ورکړې.

## په نښته کې د ښکېلو خواوو قانوني مسؤلیتونه

یوناما په دې باور ده چې په افغانستان کې وسله واله جګړه یوه غیري نړیواله وسله واله جګړه ده چې د افغانستان د دولت، او د هغه د وسله وال فوځ چې د نړیوالو نظامي ځواکونو ملاتړ ورسره دي (په دې راپورکې او په افغانستان کې "دولت پلوه" ځواکونه بلل شوي دي) او د غیر دولتي وسله والو ډلو (په دې راپور او په افغانستان کې "د دولت ضد عناصر" بلل شوي ترمنځ روانه ده.

### دولت پلوه ځواکونه

دولت پلوه ځواکونه هغو وسلوالو ځواکونو غړو ته ویل کیږي چې د ملي اردو ملاتړکونکي ځواکونه دي، په شمول د نړیوالو نظامي ځواکونو ( د ایساف او ځانګړي ځواکونو قطعات) افغانستان، د ازادي د پایښت عملیاتو غړي، او ځانګړو عملیاتو ځواکونه چې د دي چتر د باندې دي) او نور افغان امنیتي ځواکونو څخه عبارت دي.په جګړه کې د ښکېلو خواو فوځي ځواکونو ټول غړي جنګیالي دي ،لیکن طبي او مذهبي پرسونل یې جنګیالي نه ګڼل کیږي. افغان ملي امنیتي ځواکونه ، لکه افغان ملي پولیس، افغان سیمه یز پولیس ، ملي امنیت ، او سرحدي پولیس هغه مهال خپل ملکي هویت له لاسه ورکوي چې په وسلواله شخړه کې نیغ په نیغه برخه اخلي د دولت پلوه ځواکونو په کتارکې شمیرل کیږي.

د دولت پلوه ځواکونو په ډله کې کیدای شي هغه وسلواله ډلې هم شاملې شي چې په وسلواله شخړه کې ښکیلې وي او په شخړه کې د ښکیلو خواو مهمه برخه تشکیله کړي او د جګړې د یو لوري د وسلوال ځواک یوه برخه وګرځي، د بیلګې په څیرکه د یو دولتي مسؤل شخص د غیر رسمي قوماندې لاندې د امنیت او یا یاغیتوب پر ضد عملیات تر سره کوي، لکه د امني قوماندان، د ملي امنیت چارواکی ، او یا ولسوال.

### دولت ضد عناصر

دولت ضد عناصر ټول هغه افراد او وسلوالې ډلې له ځان سره رانغاړي چې اوس مهال په وسلواله جګړه یا وسلوال مخالفت کې د افغانستان د دولت یا نړیوالو ځواکونو سره ښکیل دي، او هغه څوک هم په دې کتارکې شمیرل کیږی لکه طالبان او نور هغه افراد اونادولتي منظمې وسلوالې ډلې چې په جګړه کې فعاله ونډه اخلي او د مختلفو نومونو لاندې چې عبارت دي له ؛ حقاني شبکه، ګلبدین حکمتیار حزب اسلامي، د ازبکستان اسلامي تحریک ، اتحاد جهاد اسلامي، لشکري طیبه او جیش محمد شامل دي.

د دولت ضد وسلوالو ډله بندي په وسلوالو جنايي ډلو د تطبيق وړ نه ده ليکن که دغه ډله په شخړه کې د ښکېل لوري د يوې مخالفې ډلې په استازيتوب جګړېزو فعالتيونوکې ښکيلې وي.[5]

په وسلواله شخړه کې ښکېلې خواې ــ افغان امنيتي ځواکونه ، نړيوال فوځي ځواکونه او غير دولتي وسلواله ډلې د نړيوال قانون په رڼا کې د ملکي خلکود خوندي ساتنې ښکاره مکلفيت لري.

### (i) د بشرپالنې د نړيوال قانون له مخې مکلفيتونه

افغانستان د ژنيو د ۱۹۴۹ کال د څلورګونو تړونونو او د ۱۹۷۷[6] کال د ژنيو د مل دويم پروتوکول غړي هيواد دي، دغه تړونونه او دوهم پروتوکول په غير نړيواله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه کوي. دغه پروتوکول د ملکي وګړو په وړاندې او د هغو اجناسو په ضد بريدونه منع کوي چې د ملکي وګړو د بقاء لپاره ضروري ګڼل کيږي.

د ۱۹۴۹ کال د ژنيو د څلورګونو تړونونوګډه دريمه ماده حد اقل معيارونه ټاکي چې دولتي او غير دولتي وسله والې ډلې يې بايد په داخلي وسله واله نښته کې مراعات کړي. دريم عمومي بند د ملکي خلکو وژل[7]،تاوتريخوالي ، د محکمي پرته اعدام، شکنجه، معيوبول او د تاوتريخوالی داسی نوری کړنې صراحتا منع کړي دی.[8] دغه کړنې هر وخت ، هر ځای هر څنګه چې وي منع دي.

[5] د تعريفونو په اړه دغه برخه هغه حقوقي چوکاټ تعقيبوي کوم چې په لاندي منابعوکي راغلي دي: د جنګيالي تعريف، ۴-۲ او ۴-۳ فصلونه، د انګلستان د دفاع وزارت له خوا ترتيب شوي، د وسله والو نښتو د حقوقو په اړه لارښود، د اکسفورد د پوهنتون نشر، اکسفورد ۲۰۰۴، او د سره صليب نړيواله کميته (آي سي آر سي)، د نړيوالي بشرپالني تعاملی حقونه، ۳ مه قاعده. د وسله والو نښتو ټول ښکيل غړي، د طبي او مذهبي کارکوونکو څخه پرته، جنګيالي ګڼل کيږي.

[6] دويم الحاقي پروتوکول ۱۹۷۷ د افغانستان له خوا د ۲۰۰۹ کال د نومبر په ۱۰ تصويب شو، دغه پروتوکول د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په ۲۴ نافد شو.

[7]د وژلو په اړه د جنګي جرامو چې د روم منشور کې د جرمونو نړيوالې محکمي تعريف کړی بوناما د ملکي خلکو د قصدی وژنې اصطلاح کاروی چې عبارت له هدفي وژنو ، چې هغه عمل بانوی چې جنګي جرم ګڼل کدای شي او دهغه وژنې د عمل څخه توپير وکړای شي چې د بوکس په لاس تر سره شی چې د وسلواله جګړی د قربني د باندي وي. ورته اصطلاح ګانې لکه هدفي وژنې ، د محکمي پرته وژنې ، اختطاف او وژنې، قصدی وژنې ځنې وختونه کارول کېږي چې هغه په جنګ کې د ښکېلو خواو له لوری د ملکي خلکو هغه قصدی وژنې بيان کړي چې د افغانستان په داخلي وسلواله شخړي په قربنه کې راپېښيږی .

[8] د ۱۹۴۹ د اګست ۱۲ د جنوا کنوانسون دريم مشترک بند ، د داخلي وسلواله شخړی پرمهال د پلی کېدو وړ دی. هغه مهال چې شخړه نړيواله شخړی اوصاف ونه لري او د غړي هيواد په سيمه کې رامنځ ته شي ، نود جګړی د ښکيلې خواو هر لورې دی کم ترکم لاندی مادو احترام باندی مکلف دی: (۱) هغه کس چې په جګړه کې فعاله برخه نه اخلي په شمول د هغه وسلواله ځواکونو چې خپله وسله کېږدي او يا نور د ناروغي، ټپونو، توقيف، يا نورو لاملونو له کبله نه جنګيږي خو په ټولو حالاتوکې ورسره د تبعض پرته چې د نسل، رنګ، مذهب، عقيدی، جنس، زيږيدنې او جايداد او يا بل کوم معيار وي انساني چلندکيږي. په دی اړه دلاندی کړنې هر وخت ، هر ځای هرنګ چې وی د پورتنې ذکر شوی وګړو پر ضد منع دی . (a) د شخص او د هغه د ژوند حق څخه سرغړونه او په ځانګړی ډول د وژلو ټول ډولونه، د شلشوټ کولو، بی رحمانه سلوک او شکنجه (b) د شخص په وقار حرمت تجاوزيه ځانګړی ډول تحقر او ټيټ ګڼلو سلوک (c) برغمل کول (d) د سزاګانو صدور او يا د اعدامونو سزاګانو پلی کول د يو قانوني محکمی د مخکنۍ پريکړي پرته چې ټول عدلي تضمنونه له ځان سره ولری او په عمومي ډول هغه تضمن جزلانفک او منل شوي وي.

د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د څلورګونو تړونونو او د مل پروتوکولونو څو اصول د نړیوال دودیز قانون[9] برخه ګرځیدلې ده او تر ټولو زیات اړونده اصول چې افغان نظامي ځواکونه ، نړیوال نظامي ځواکونو او غیر دولتي وسله والې ډلې یې د داخلي وسله والې نښتې د ښکیلو خواوو په څیر باید مراعات کړي دا دي:

- تشخیص: ملکي وګړي په عمومي ډول او ملکي انفرادي اشخاص باید تر برید لاندې رانه شي.[10] "[ښکیلې خواوې] باید په هر وخت کې د ملکي خلکو او جنګیالیو او د ملکي او نظامي هدفونو ترمنځ توپیر وکړي."[11]

- تناسب: "هغه برید منع دي چې کـداى شي په تصادفي ډول د ملکي وګړو د وژنې، ژوبلې، د دې دواړو سبب وګرځي او ښايي د هغو مشخصو او مستقیمو نظامي برياوو په پرتله ډیرې زیاتې وي چې له برید څخه یې تمه کیږي."[12]

- په بریدکې احتیاط: "ملکي وګړي باید په عمومي ډول د نښتې له خطرونو څخه په امن کې وساتل شي" [13] په نظامي عملیاتوکې په پرلپسې ډول باید دې ته پاملرنه وشي چې ملکي خلک تلف نه شي او ملکي شیانوته زیان ونه رسیږي. او په پوره ډول ممکن احتیاط وشي چې " د ملکي وګړو د تصادفي تلف کیدلو، ملکي شیانو ته د زیان رسیدلو او د ملکي وګړو د ژوبل کیدلو څخه مخنیوي کیږي."[14]

ټول هیوادونه چې اوس مهال په افغانستان کې له نړیوالو نظامي ځواکونو سره مرسته کوي، لکه په افغانستان کې نړیوال سوله ساتي ځواکونه (ایساف) د امریکا ځانګړې قواوې، د ازادۍ د پايښت د عملیاتو غړي ځواکونه یا هغه ځانګړي ځواکونه چې د قوماندې د دغو جوړښتونو له حدودو څخه بهر فعالیت کوي د ژنیو د ۱۹۴۹ کال د څلورګونو تړونونو غړي هیوادونه دي. که څه هم ټول هغه هیوادونه چې افغانستان ته یې نظامي ځواکونه استولي دي د ۱۹۷۷ کال مل لومړي اودوهم پروتوکولونو غړي ندی، خو د دې سره د هغو اصولو په مراعت کولو مکلف دي چې د نړیوال دودیزه قانون برخه ده.

### (ii) د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې مکلفیتونه

د بشري حقونو نړیوال قانون هم د وسله والې نښتې او هم د سولې په وخت کې د تطبیق وړ ګڼل کیږي. د بشري حقونو نړیوال قانون د بشر پالنې د نړیوال قانون سره متممي او یو د بل پیاوړي کوونکي توګه د تطبیق وړ دي.

---

[9] دغه مرجع ته مراجعه وکړئ: د سره صلیب نړیواله کمیټه (آي سي آر سي)، د نړیوالي بشرپالني عرفي حقونه، لیکوال: جان ماري هینکارتز تو لویس دوسوالد بک (CU P/ICRC, Cambridge 2005) د اي سي آر سي څیړني.مطالعه کمیته.

[10] دویم الحاقي پروتوکول. ۱۳(۲) ماده.

[11] لومړي الحاقي پروتوکول، ۴۸ ماده. ۵۱ (۲) ماده هم وګوئ چې وايي: مکلي "وګړي نباید تر هدف لاندې راشي" او همدارنګه ۵۲ (۲) ماده هم وګورئ چې وایي "بریدونه باید یوازې پوځي هدوفونو پوري محدود وي".

[12] لومړي الحاقي پروتوکول، ۵۱ (۱) (ب) ماده. د برید په وخت د احتیاط په هکله ۵۷ ماده هم وګورئ.

[13] دویم الحاقي پروتوکول. ۱۳ (۱) ماده.

[14] لومړي الحاقي پروتوکول، ۵۷ (۱) او ۲ (الف) (ii) مادې.

افغانستان د بشري حقونو څو نړیوال تړونونه لاسلیک کړي دي[15] چې په هغوکې د مدني او سیاسي حقونو نړیوال تړون (آي سي سي پي آر) شامل دي او د افغانستان دولت په دې مکلف کوي چې په خپل قلمرو یا د دولت د حاکمیت په سیمه کې ټولو اوسیدونکو د بنسټیزو بشري حقونو ساتنه وکړي
سره لدې چې په افغانستان کې نا دولتي ډلې، د وسله والو ډلو په ګډون، نه شي کولای په رسمي ډول د بشري حقونو دنړیوالو تړونونو غړي شي؛ خوکوم ځای نادولتي ډلې، لکه طالبان عملاً سیمه په ولکه کې لري، نو طالبان په دې اړه ډېر مکلف ګڼل کیږي ،چې د نړیوال بشري حقونو مکلفیتونه مراعات کړي.[16]

15 افغانستان د بشري حقونو د بین المللي لاندنیو تړونونو او معاهدو یو غړي هیواد دي: د مدني او سیاسي حقونو نړیوال تړون په ۲۴ اپریل ۱۹۸۳؛ د اقتصادي اجتماعي اوکلتوري حقونو تړون ۲۴ اپریل ۱۹۸۳؛ د نژادي تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو بین امللي تړون، ۵ اګست ۱۹۸۳؛ د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو تړون، ۵ مارچ ۱۹۸۳؛ د شکنجې او نورو توهینوونکو او غیر انساني جزا او چلند د منع کولو تړون، ۲۶ جون ۱۹۸۷؛ د ماشوم د حقونو تړون، ۲۷ اپریل، ۱۹۹۴؛ او دماشومانو د حقونو ، دماشومانو د پلورلو، د ماشومانو د فحاشۍ او د پورنوګرافۍ د منع د کنوانسیونو اختیاري پ پروتوکول، ۱۹ اکتوبرکال ۲۰۰۲؛ او په وسله واله جګړه کې د ماشوم ګډون په باب د تړون اختیاري پروتوکول چې د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر په ۲۴ تصویب شوي دي. منبع :
http://www.aihrc.org.af/English/Eng_pages/X_pages/conventions_af_z_party.html

16 د ملګرو ملتونو عمومي سر منشي، په سریلانکا کې د حساب ورکونې په اړه د عمومي منشي دکارپوهانو د پلاوي راپور ۲۰۱۱، ۳۱ مارچ پاراګراف ۱۸۸. دغه راز وګورئ د لیبیا په عربي جمهوریت کې د بشرپالنې د بین المللي قانون د نقض په اړه د څیړنو د بین المللي کمیسیون د تحقیقاتو راپور A/HRC/17/44 ۱ جون ۲۰۱۱.

**د امنيت شورا ۱۳۲۵ پريکړه ليک**

څرنګه چې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا په ۱۳۲۵ پريکړه ليک کې ويلي ،چې د ټولو هيوادونو لپاره خورا مهمه ده چې د ښځو او نجونو په اړه د نړيوال بشردوستانه او د بشر حقونو اړوند ټول نورمونه پياده کړي او د وسلواله شخړي په مهال د جنس په بنياد د تاو تريخوالي د مخنيوي په موخه د ښځو او نجونو د خوندي ساتنې لپاره ځانګړي اړين ګامونه واخلي.[17]

**(iii) د نړيوال جنايې قانون په وړاندې مکلفيتونه**

افغانستان په ۲۰۰۳ کال کې د روم نړيوالي جنايي محکمې اساسنامه تصويب او له هغې سره يو ځاي شو. له دې امله افغانستان لومړني مسووليت لري چې د نړيوالو جرمونو په اړه تحقيق وکړي؛ لکه جنګي جرمونه، د بشريت ضد جرمونه او نسل وژنه، او د خپلو محاکمو په صلاحيت کې هغه تر عدلي تعقيب لاندي ونيسي.که افغانستان ونشى کولاي او يا و نه غواړي چې دغه کار وکړي، نړيواله جنايي محکمه کولاي شي په افغانستان کې خپل صلاحيتونه عملي کړي.

هغه دولتونه چې نظامي ځواکونه يې په افغانستان کې د نړيوالو نظامي ځواکونو په ليکه کې شامل دي او د افغانستان د شخړي يو لورى دى ، مسووليت لري چې هغه نړيوال جرمونه تحقيق او تعقيب کړي چې د دوي اتباع په افغانستان کې ددغو جرمونو په ارتکاب تورن وي.[18]

**(iii)** په ځانګړي توګه دولتونه مکلف دي چې د نړيوالي جنايي محکمې د اساسنامې ۸ (۲) (اي) (آي) مادي

څخه سرغړونه تر عدلي تعقيب لاندي ونيسي. دغه ماده وايې "په قصدي ډول په عام ولس يا انفرادي اشخاصو باندې چې په مستقيم ډول په شخړو کې ښکيل نه وي مخامخ بريدکول" په داخلي وسله والو شخړو کې جنګي جرم ګڼل کيږي.

**(iv) د ملي قوانينو په وړاندې مکلفيتونه**

د دولت ضد عناصر د افغانستان د جنايي قوانينو له مخې د عدلي تعقيب وړ دي.د نړيوالو فوځي ځواکونو غړي د دوي د خپلو دولتونو د ملي قوانينو د نقض له امله پر حساب ورکولو مسؤول دي.

**د ملکيانو تعريف /خوندي او جنګيالي**

[17] پرته له دي نظر نيولوکې چې دولتونه د نړيوالي جنايې محکمې غړي دي اوکه ندى، دوي بيا هم مکلفيت لري چې د بشري حقونو او دبشر پالني نړيوال قانون څخه سختي سرغړوني تحقيق وکړي هغه مهال چې د افغانستان په سمه کې کې عملات تر سره کوي چې د ايي سى سى غړى دى او دا رنګه د نړوال جنابى قانون لاندى مکلفت لري .

[18] دغه مراجعو ته مراجعه وکړئ: ;S/RES/1325 (2000) او همدارنګه S/RES/1820. (2008), S/RES/1888 (2009), S/RES/1889 (2009), and S/RES/1960 (2010)

یوناما د ملکي وګړو لپاره یو تعریف کاروي او تطبیقوي چې د نړیوال قانون سره سمون خوري. په افغانستان کې د وسله والي شخړې نورې خواوې او فعالان د ملکي وګړو لپاره خپل خپل تعریفونه جوړوي چې په لاندې برخه کې به توضیح شي.

یوناما د ملکي وګړو لپاره هغه تعریف کاروي چې د بشرپالنې د نړیوال قانون په معیارونو برابر دي. د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې "ملکي" هغه څوک دي چې جګړه مار نه وي، (د نظامي/ نیمه نظامي ځواکونو غړي) یا د منظمو وسله والو ډلو غړي چې د شخړې یوه خوا وي، او هغه وګړي چې د عمومي پاڅون[19] برخه نه وي. یو ملکي وګړی هغه وخت او دهغې مودې په ترڅ کې خپل موقف له لاسه ورکوي چې په وسلواله شخړه کې په مستقیم ډول برخه واخلي.

د بشرپالنې نړیوال قانون په شخړه کې له ښکیلو خواوو څخه غوښتنه کوي چې د نظامي عملیاتو په ترڅ کې تل د ملکي وګړو او جګړه مارو ترمنځ توپیر وکړي. هغه وګړي  چې په شخړه کې برخه نه اخلي یا له دې وروسته په شخړه کې برخه نه اخلي خوندي دي او باید برید ور باندې  ونشی. لکه د ملکي وګړو په څیر، هغه جګړه مار چې (ژوبل شوي، ناروغه ، ویجاړه شوي کښتي عمله، توقیف شوي یا تسلیم شوي وي) یا هغه وګړي  چې د وسله والو ځواکونو د روغتیایي یا مذهبي پرسونل برخه وي د بشرپالنې د نړیوال قانون لاندې له بریدونو څخه خوندي دي.

د افغانستان په وسلواله شخړه کې دغه راپور د خلکو د بیلا بیلوکتګوریو په وړاندې بریدونه مستندوي چې په جګړو کې په مستقیم ډول برخه نه اخلي لکه د عامه خدمتونوکارکونکي، ښوونکي، د روغتیایي کلنیکونوکارکونکي او په عامه خدمتونوکې شامل وګړي ، سیاسي مشران او   دفتری کارکوونکی، د نا دولتي موسسوکارمندان او د ملکي پولیسو پرسونل چې د جنګیالو په څیر وظیفې نه تر سره کوي او د دولت ضد عناصرو پر خلاف عملیاتوکې برخه نه اخلي.[20]

[19] د ۵۰ مادي  لومړي پاراګراف د لومړي پروتوکول   د ژنیو دکنوانسونونو لومړي پراګراف سره مقایسه کړئ. وګورئ: نایلز میلځر، "د بشرپالنې د بین المللي قانون لاندې په دښمنیوکې د مستقیمي برخې اخیستنې په اړه لارښوونې." ۲۰۰۹، ا جولای.

[20] یوناما هغه پولیس افسران جنګي افرادګڼي چې په مستقیم ډول په نښتوکې برخه اخلي. په دې کې د افغانستان ملي پولیس، محلي پولیس، سرحدي پولیس شامل دي چې په معمول ډول د یاغیانو ضد فعالیتونوکې برخه اخلي، خوکه داسې شواهد پیدا شي چې د هغې په خلاف وي. یوناما د افغانستان ترافیک پولیسو او نور پولیس افسران، چې یوازې د ملکي پولیس وظیفې اجراء کوي د جنګي افرادو په توګه  نه پیژني.

## لنډیز

زما خور ماته تلیفون وکړ تر څو خبر شم چې په ځانمرګي بريدکې مو مور وژل شوې او خور مې ټپي شوې ده. په دغه ورځ مې مور او خور دواړه د غاښونو ډاکټرته تللي وو. هغه مهال چې ټکسي موټرد دفاع وزارت څخه تېرېده، نو ځانمرګی بريد تر سره شو. زما مور ځای پرځای مړه شوه او خورمې شديده ټپي شوه، څوک چې د څلور ورځو لپاره په روغتون کې بستره وه. تر دې مهاله د هغې په سرکې د ښښو ټوکرې شتون لري او تداوی ته اړتيا لري. خور مې نوه ښوونکې وه او مور مې د خياطۍ په يو دوکان کې کارکاوه ترڅو د هغې لارې خپله کورنۍ حمايه کړي. پلار مې زيات سپين ګېری او ناروغ دی. خورمې اوس د ورته پېښو څخه زوربرې او ډاربرې او نه غواړي چې د کور څخه نوره د باندې راوځي. زه نه پوهېږم چې موږ څنګه ددې غم سره مبارزه وکړو اوکورنۍ ستونزوته د حل لاره پيدا کړو.

-- د هغې ښځې زوی چې د دفاع وزارت سره د نږدې ځانمرګي بريد له امله ووژل شوه، دکابل ښار د ۲۰۱۳ کال د مارچ ۹مه .[21]

د ۲۰۱۳ کال په لمړيو شپږ مياشتوکی د ښځو او ماشومانو په مرګ-ژوبله کې د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې پرتله ۲۳ سلنه ډېروالی راغلی دی. په ټولنز ډول يوناما د ۲۰۱۳ کال په لومړيو شپږ مياشتوکې د ۳۱۹،۱ ملکيانو مړينه او ۵۳۳،۲ خلکو ژوبله ( ۸۵۲،۳ تلفات) ثبت کړي، چې په مړينه کې ۱۴ سلنه او په ژوبله کې ۲۸ سلنه ډېروالي د ۲۰۱۲ کال پرتله په ملکي تلفاتوکې ۲۳ سلنه ډېروالي ښيي.[22] د ۲۰۱۳ کال لومړۍ نيمايی کې ملکي تلفات د ۲۰۱۲ کال پرتله د مخ ځوړتيا په ځای ډېر شوي او د ۲۰۱۱ کال په څېرد ډېرى ملکي کسانو مرګ ژوبلی سره څه نا څه سمون لري.

د ټولو ملکي تلفاتو ۷۴ سلنه د دولت ضد وسلوالو لخوا ، نهه سلنه د دولت پلوه ځواکونو لخوا، دولس سلنه د دولت ضد وسلوالو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ د ځمکنۍ نښتو په پايله کې او څلورسلنه يې چې هيڅ لوري ته نه ده منسوبه، رامنځ ته شوی ده.[23]

د دولت ضد وسلوالو لخوا د ځای پر ځای شوی چاودېدونکو توکوکارونه د ډېرو ملکی وګړو د مرګ- ژوبلې سبب ګرځېدلې ده چې د ترکال د ورته مودې د ملکي تلفاتو د شمېرى سره يو شان برېښي. په همدې ډول د دولت پلوه او دولت ضد عناصرو ترمنځ د ځمکنو نښتو ډېروالی په دوهم پړاوکې قرار لري چې د ډېرى ملکي تلفاتو سبب ګرځېدلی او په عين حال کی د ۲۰۱۳ کال په دوران کی يوه نوی پديده ده چې د افغان وګړو ته يی تهديد رامنځ ته کړی دی.

---

[21] کابل د ۲۰۱۳ کال د مارچ ۱۷ مه، د يوناما مصاحبه.

[22] : يوناما د ۲۰۱۲ کال د جنوری د لومړی نېټی څخه تر ۳۰ م جون پورې ۱۵۸،۱ ملکيانو مړينه او ۹۷۶،۱ ژوبله ( ۱۳۴،۳ ټول تلفات) ثبت کړي. دغه شمېرى د يوناما د ۲۰۱۲ د نيمايی کال په وسلواله جګړه کې د ملکي کسانو د خوندی ساتنی راپور د راپور شوی د شمېرو څخه يو څه له دی امله ډېر دی چې د راپور د نشر څخه وروسته د ملکی خلکو د مرګ ژوبلی پېښې تائيد شوی.

[23] د جنګ څخه پاته شوي چاودېدونکي توکي څخه مطلب نا چاوده توکی او پاته شوي چاودېدنکي توکي دي.

د ۱۳۲۰ کال په نمایی کې ، یوناما په جګړه کې ښکیلو خواو ته د فوری پاملرنی په اهمست با ټینګارکوی چې په ملکي افغانانو د جګړی ناوړه اغیزی ودروي او د ملکي خلکو د خوندي ساتني د لا ښه والی لپاره ټول تدابیر ونسی او په بشپړه توګه د خپل قانونی مسؤلیت سره سم د ملکي خلکو د مرګ- ژوبلې مخنوی وکړي.


د جګړې له امله تاو تریخوالي کې د ۲۰۱۳ کال د جنوری د لومړۍ نیټي څخه تر د جون ۳۰ مې پورې، ۱۰۶ ښځې وژل شوي او ۲۴۱ نوري ټپي ( ۳۴۷ ملکي تلفات ) شوی دي چې د ۲۰۱۲ کال د ورته مودی پرتله ۶۱ سلنه د هغوي د تلفاتو په اندازه کې ډیروالی ښیی چې د ښکېلو خواولخوا ځمکنۍ نښتې د ښځو د تلفاتو مخکښ لامل و او وریسی د مخالفو وسلوالو لخوا ځای پرځای شوی چاودیدونکي توکي، ځای نسي. په همدغه موده کې ۲۳۱ ماشومان وژل شوی او ۵۲۹ ژوبل شوی (۷۶۰ تلفات) چې د ترکال په نسبت ۳۰ سلنه زیات دي او د تلفاتو د سر لامل، ځای پرځای شوی چاودیدونکي توکي اوبیا وریسی ځمکنۍ نښتې او د جګړو څخه پاتي شوی ناچاودي توکي شمیرل کیږي.[24]

په ټولیز ډول، د ۲۰۱۳ کال په لومړۍ نیمایی کې د افغان ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د ډیروالی د عمده فکتورونو څخه یو یې د دولت ضد عناصرو لخوا په ډیریدونکی توګه د ځای پرځای شوو چاودیدونکو توکو بی توپیره کارول او د دولت ملکي دفترونو په شمول د ملکیانوګڼ میشته سموکې د ځانمرګو اوډله ایزو بریدونو[25] ترسره کول شامل دي. همداراز، یوناما په لوبه کچه مرګ ژوبله چې د دولت ضد عناصرو له لوري د هدفی وژنو، په ملکي مامورینو د بریدونو، اختطاف په نتجه کی رامنځ ته شوی او په لوبه کچه ملکي وګړو ته تهدیدات اوګواښونه ثبت کړي دي

د ۲۰۱۳ کال په لومړۍ نیمایی کې د سیاسی او امنیتی محرکاتوکې بدلون د ملکي وګړو د خوندي ساتنی په وړاندې ختڼ او بشری حقونوته لاس رسی محدودکړی دی. د نړیوالو امنیتي ځواکونو څخه افغان امنیتي ځواکونوته د مسؤلیتونو د انتقال پروسی ګړندیتوب ، اود نړیوالو امنیتي ځواکونو د مرکزونو تړلو په پایله کې د افغان امنیتي ځواکونو په پوستو، په ستراتیژیکي لوبولارو، په هغه سموکې چیرته چې د انتقال پروسه ترسره شوی، اوبا هغه ولسوالوکې چې دګاونډي هیوادونو سره شریکه پوله ولری، د دولت ضد وسلوالو لخوا وربانديي بریدونه ډیر شوی دي. د جګړی په ساحه او منطقوی اغیزې د ډیروالی لپاره د دولت ضد وسلوالو لخوا کوښښونه د دولت ضد وسلوالو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ د ډیرو ځکمنۍ نښتو لامل ګرزیدلی چې په ځانګړی ډول د افغان ځواکونو لخوا د ډزو په تبادله کې ډیری ملکي وګړو ته مرګ ژوبله او یا د دولت ضد وسلوالو لخوا د ځای پرځای شوی چاودیدونکي توکو له امله ډیر ملکي تلفات رامنځ ته شوي دي.

[24] د ۲۰۱۲ کال د جنوری لومړۍ نیټي څخه تر جون ۳۰ مې پوری یوناما د ۷۶ ښځو مرګ او ۱۳۹ ژوبله (۲۱۵ ښځوتلفات) او ۲۳۲ ماشومانو وژل او ۵۳۲ ژوبله ( ۷۶۰ماشومانو تلفات) ثبت کړی. په ۲۰۱۳ کې د ځمکنۍ نښتو په پایله ۳۳ ښځی وژل شوی او ۱۱۸ ژوبل شوی چې د ښځو تلفات ۴۳ سلنه شمیرل کیږی . په ۲۰۱۳ کال کې ځای پر ځای شوی چاودیدونکو توکو ۷۰ ماشومان وژلی او ۱۷۹ یې ژوبل کړی چې د ۲۰۱۲ کال د لومړۍ نیمایي پرتله ۷۲ سلنه ډیر دی چې هغه مهال د ځای پر ځای شوی چاودیدونکو توکو له امله ۶۳ ماشومان وژل شوی او ۸۲ نور ژوبل شوی وو.

[25] د یوناما له خوا د ډله ییز برید تعریف یوه همغږې شوې او عمدي حمله ده چې یوه ځانمرګې وسیله ( لکه په ځان پورې تعبیه شوې چاودیدونکی توکي، په موټرکې تعبیه شوي چاودیدونکي توکی) او له یوه څخه زیات بریدکوونکي او له یوې څخه زیاتې وسیلې ( لکه په ځان پورې تړلي چاودیدونکي توکي د هاوان لهګولو سره ) په کې شامې دي. دغه ټول درې سره عناصر باید موجود وي څو یو ه حمله پیچلی برید وشمیرل شي.


د ۲۰۰۹ ۲۰۱۳ د جنوري څخه تر جون پوري د ملکي خلکو مرګ ژوبله
3000
2500
2000
1500
1000
500
0
1052
1439
1281
1990
1575
2341
1157
1976
1319
2533
2009
2010
2011
2012
2013
وژل شوی
ټپيان

دي (۳۶۰،۱ ملکي تلفات) ، چې د ځای پر ځای شوی چاودېدونکو توکو له امله د ۲۰۱۲ کال د ورته مودی پرتله په کې ۳۴ سلنه ډېروالی راغلی دی.

د لرې څخه کنترولېدونکي ځاي پر ځای شوو چاودېدونکي توکو[26] له امله ملکي تلفاتو په اندازه کې د ۲۰۱۲ کال د ورته مودی[27] پر تله ۱۳۰ سلنه ډېروالي راغلی چې د ۱۶۰ لرې څخه کنترولېدونکو چاودېدونکو توکو د برېدونو په پایله کې د ۱۳۶ ملکي کسانو مړینه او ۴۲۶ کسانو ژوبله ( ۵۶۲ ملکي تلفات) ثبت شوی ده ېوناما، د فشار په پایله کې چاودېدونکي توکو یا د قرباني د تماس سره فعالېدونکي چاودېدونکو توکو د ۹۰ برېدونو په پایله، کې د ۸۳ ملکي خلکو مړینه او د ۱۴۴ژوبله (۲۲۷ ملکي تلفات) ثبت کړی ده چې د همدی تاکتیک له امله تلفاتوکې د ۲۰۱۲ کال د همدی مودی پرتله ۲۴ سلنه کمښت ښيي.


یوناما د فشار سره د چاودېدونکو توکوپه پایله کې د ملکي وګړو په تلفاتوکې کمښت مشاهده کړي. یوناما ټینګارکوی چې یا هم د قرباني سره د تماس په نتیجه کې چاودېدونکي توکي د پرسونل ضد ماین په څېرکارکوي او دا بې توپیره ده ځکه چې د ورته برېدونوکارونه ملکي او نظامي اهدافو تر منځ توپیر نه کوي او د همدی امله د نړېوالو بشر دوستانه قوانینو له مخی د دا ډول الوکارول غېر قانوني ګڼل شوي دي. یوناما د دولت مخالفینو ته خپله غوښتنه بیا تکراروي چې د توپیر پرته د ځای پرځای شوی چاودېدونکو توکوکارول ودروي او بیا په ځانګړی ډول په عمومي ځایونو لکه بازارونه او پارکونه چي اکثرا د ملکي خلکو زیات شتون پکې متصور وي.یوناما د دولت پرمخالفینو باندې یوځل بیا غږکوي چې د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو بی توپیره کارونه او دهغه ماینونو چې دفشارپه راوړولو سره فعالېږي، کارونه بنده کړی، په ځانګړي توګه په هغو سیموکې چې زیات شمېر ملکیان وي.
د ځای پر ځای شوی چاودېدونکو توکو، ځانمرګو او ډله ایزو برېدونوڅخه رامنځ ته شوي تلفات د یوناما لخوا په دی موده کې د ثبت شوو ټولو ملکي تلفاتو ۵۲ سلنه تشکیلوي.

د دولت ضد عناصرو لخوا په قصدی ډول دهغه ملکي خلکو په نښه کول او هدفي وژلو پېښې چې ګویا د دولت ملاتړي ګڼل کېږي په چټکۍ سره زیات شوی دي. یوناما د ۲۰۱۳ کال د جنوری د لومړۍ نېټې څخه ترد جون د ۳۰ مې پورې د دولت ضد عناصرولخوا د هدفي اوقصدي وژنو د ۲۶۲ پېښو په پایله کې د ۳۱۲ کسانو د مړیني او ۱۳۱ ټپی کېدو ( ۴۴۳ ملکي تلفات) پېښې ثبت کړي دي. دا د ۲۰۱۲ کال د ورته مودی پرتله ۲۹ سلنه لوړوالي په ډاګه کوي. د تعبه شوو چاودېدونکو توکو د برېدونواو د ځکمنۍ نښتو وروسته، هدفي او پلان شوی وژنې درېم عمده تاکتیک شمېرل کېږی چې له امله یې د ۲۰۱۳ کال په لومړۍ نیمایی کې ۴۴۳ ملکي وګړو ته مرګ ژوبه اړولي ده.

یوناما د دولت ضد عناصرو لخوا د دیني علماء پر ضد د ګواښونو او برېدونو نوي بېلګه مشاهده کړي او داسی ۱۴ پېښې یې ثبت کړي په کوموکې چې دیني علماء یا مذهبي ځایونه، لکه مساجدو ته ننغ په ننغه ګواښ او یا ورباندې برېدونه ترسره شوی دي،چې په پایله کې اوه ملکي کسان وژل شوي. ډېرې داسی برېدونوکې هغه علماء یا ملایان هدف ګرزول شوی دی چې د افغان امنیتي ځواکونود وژل شوي غړو د جنازی لمونځ امامت یې ترسره کړی او یا

[26] رادیو یا د لېرې کنترولېدونکي ځای پر ځای شوی چاودېدونکي توکي د قوماندي په ذریعه فعالېدونکي تعبه شوی چادېدونکو توکو یو عام ډول دی چې د لېری واټن فعالېږی او یوکس کولای شی چې د مخکې څخه ځای پرځای شوی وسله په هغه دقیق وخت وچوی چې په نښه شوی هدف هغه ځای ته ورشي.

[27] د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې ، یوناما د ۵۵ ملکي خلکو مړینه او ۱۸۹ ژوبله ( ۲۴۴ ملکي تلفات) د ۷۱ برېدونو په پایله کې ثبت کړي.


د ۲۰۰۹ – ۲۰۱۳ د جنوري څخه تر جون پور د ملکي کسان مرګ ژوبله
1200
1000
800
600
400
200
0
599
302
151
931
223
127
1074
319
182
881
174
103
1038
146
135
2009
2010
2011
2012
2013
دولت ضد وسلهوال
دولت پلوه ځواکونه
نور مرتکبین

**حکومت پلوي ځواکونه او د ملکي وګړو ساتنه**

د ۲۰۱۳ کال په لومړيو شپږو میاشتوکې یوناما د حکومت پلوه ځواکونو (افغان ملی ځواکونه او نړيوال امنيتی ځواکونه) له لوري د ۱۴۶ ملکیانو وژنه او ۲۱۶ نورو ملکیانو ټپی کدنه (ټولټال ۳۶۲ ملکي مرګ ژوبله) مستنده کړي ده. دغه شمري د ۲۰۱۲ کال د همدی مودی پرتله د حکومت پلوی ځواکونو له لوری د ملکیانو د وژنی ۱۶ سلنه کمښت، د ملکیانو د ټپی کدنې ۵۸ سلنه ډیرښت او د ټولټال ملکي وګړو د مرګ-ژوبلی ۱۶ سلنه ډیرښت په ګوته کوي[29] د ۲۰۱۳ کال په لومړي نمایي کې حکومت پلوی ځواکونو ته د ټولې ملکي مرګ-ژوبلې نهه سلنی نسبت ورکول شوی دی.

یوناما د هوایي بریدونو په پایله کې د ۴۹ ملکیانو وژل او د ۴۱ نورو ټپيکدل (ټولټال ۹۰ ملکي مرګ ژوبله) مستند کړي دي چې د ۲۰۱۲ کال د همدی مودی پرتله ۳۰ سلنه کمښت ښیي. د ټولټال ملکي مرګ ژوبلې ۵۴ سلنه قربانان ښځې او ماشومان دي چې د هوایی بریدونو په پایله کې ورته مرګ ژوبله اوښتې ده . د هوایی بریدونو په پایله کې د ملکیانو د وژنې تقریبا نمایی او له دریو څخه یوه برخه د ملکیانو ژوبلدل (۲۲ تنه وژل شوي او ۱۰ نور ټپيان شوي) دکنړ په ولایت کې رامنځته شوي ده، که چېرته د ۲۰۱۲کال له همدی مودی سره پرتله شي نو په دغه ولایت کې د هوایی بریدونو په پایله کې د ملکیانو په مرګ ژوبله کی ۸۸ سلنه ډیرښت په ګوته کوي.

یوناما د هوایی بریدونو له امله د ملکیانو په مرګ ژوبله کې کمښت ویني. بیا هم صورت د ملکیانو د غیر متنا سبی مرګ ژوبلی چې د یو شمیر هوایی بریدونو په پایله کې رامنځته شوي دي په هکله یې اندیښنی شته. په ځانګړی توګه هغه (دوه) هوایی بریدونه چې دکنړ د شګل په ولسوالی کې د ۲۰۱۳ کال د فبروری په شپږمه او د اپریل په دیارلسمه نېټه رامنځته شول چې له امله یی ۲۲ ملکیان ووژل شول او ۱۰ نور ټپیان شول، چې اکثریت یی ښځې او ماشومان و. یوناما د یو شمیر هوایی بریدونو په هکله چې له امله یې د ملکیانو په مرګ ژوبله رامنځته کړي (د شګل د ولسوالي په شمول) د شفافت او حساب ورکونی نه شتون د یادونی وړ بولي.[30]د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې یوناما د بي پیلوټو الوتکو( UAVs)[31] د بریدونو په پایله کې د ۱۵ ملکیانو وژنه او د ۷ نورو ژوبلدل مستندکړي دي. ظاهرا په دغو بریدونوکې د حکومت ضد عناصر په نښه شوي وو.[32] یوناما د بی پیلوټو

---

[29] د ۲۰۱۲ کال په اوله نمایی کې یوناما د حکومت پلوی ځواکونه له لوری د ۱۷۴ ملکانو وژل او ۱۳۷ نورو ټپکدنه مستندکړي دي.

[30] په دی راپورکې د هوایی بریدونو برخه وګورئ.

[31] بېلوټه الوتکو( UAV ) ته د لری پیلوټي الوتکي ( RPA ) هم ویل کېږي. د د ار پی ای ، یو ای وي او ډرون اصطلاح ترمنځ هیڅ توپیر نشته.

[32] د بی پیلوټو الوتکو د بریدونو په پایله کې د ملکی کسانو د مرګ ژوبلی شمیری کداشی مکملی نه وی. ځکه یوناما همشه نشی کولای چې د هوایی برید د الوتکی نوعت تثبت کړی (بی پیلوټه، چولکه یا الوتکه) چې د ملکی کسانو مرګ ژوبله یی رامنځته کړي ده. د معلوماتو د محرمت له کبله نړیوال امنیتی ځواکونه معمولا معلومات نه برابروی.

الوتکو په واسطه د هدفي وژنو (او یا هغه پیښې چې د ملکیانو مرګ ژوبله رامنځته کوي) په هکله د شفافت او حساب ورکونې نه شتون ته ګوته نسي. سره لدې چې له نړیوالو نظامي ځواکونو څخه ځوځله غوښتنه کړې، اما یوناما د دغو عملیاتو د حقوقي چوکاټ او عملیاتي پالیسۍ، (چې د نښتې څخه مخته تر هدف لاندې نیولوکرنیږیا رهبري کوی) په هکله معلومات ندي ترلاسه کړي، د هغو فکټورنو په شمول چې د شخص (د هغه یا هغې) هوت د جنګیالي یا ملکي په توګه چې مستقیما په جګړه کې برخه اخلي (مخته تردې چې وژونکې قوه وکارول شي او داسې اقدامات وجود ولري چې د ملکیانو مرګ ژوبلې مخنیوی وشي) تثبت کړي.

د قوې یا ځواک د تشدید (escalation of force) په ۲۳ پیښوکې یوناما د ۲۰ ملکیانو وژنه او د ۲۲ نورو ټپي کدنه (۴۲ ملکي مرګ ژوبله) ثبت کړي دي، چې د ۲۰۱۲ کال د همدې مودې په پرتله ۵۶ سلنه ډېرښت په ګوته کوي. د ۲۰۱۳ کال په لومړي نیمایي کې د دغو بریدونو په پایله کې د ملکي مرګ ژوبلې کچه د ۲۰۱۱ کال او ۲۰۱۲ کال په پرتله کمه شوی د ه . د ۲۳ بریدونو له جملي څخه ۱۳ یي نړیوالو نظامي ځواکونوته او ۹ بریدونه یي افغان ملي نظامي ځواکونو ته او پاتې نور د افغان او نړیوالو نظامي ځواکونوګډوعملیاتو ته نسبت ورکول شوی دی.

د حکومت پلوی ځواکونو له لوري د تلاشي په ۲۴ جلا جلا پیښوکې ۱۷ ملکیان وژل شوي او ۱۵ نور ټپیان شوي دي (۳۲ ملکي مرګ ژوبله) چې د ۲۰۱۲ کال د همدې مودې سره په پرتله د تلاشي د عملیاتو په پایله کې د ټولټال ملکي مرګ ژوبلي ۱۴ سلنه کمښت ښیي. دغه شمېري د ۲۰۰۹ کال څخه بیا تر ۲۰۱۲ کال پورې د تلاشي په عملیاتوکې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې دکمېدو سره ورته والی لري.

**افغان ملي امنیتي ځواکونه او د ملکي خلکو ساتنه**

یوناما د ۲۰۱۳ کال د جنوري له اولې نېټې بیا د جون تر ۳۰ پورې د افغان ملي ځواکونو(پولس، اردو، محلي پولس او امنیت ملي) د عملیاتو په پایله کې (چې د نړیوالو ځواکونه څخه بېل تر سره شوي دي) د ۳۴ ملکیانو وژنه او د ۹۰ نورو ټپي کدنه (۱۲۴ ملکي وګړو مرګ-ژوبله) مستنده کړی ده چې د ۲۰۱۲ کال د همدې مودې په پرتله ۱۷۰ سلنه ډېرښت په ګوته کوي.[33] اکثره پیښې (۴۷ ملکي خلکو مرګ ژوبله) په ختیځو سیموکی چې له هغه وروسته شمال ختیځې سیمې (۲۸ ملکي خلکو مرګ ژوبله) او سهیلي سیمې (۱۶ خلکو مرګ ژوبله) راځي.

د افغان ملي نظامي ځواکونو له لوري د ملکي خلکو په مرګ ژوبله کې ډېرښت د نړیوالو ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د روان امنیتي مسولتونو په انتقال پورې اړه لري. د افغان ملي اردو د چارواکو د وینا له مخې د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې افغان ملي امنیتي ځواکونو په خپلواکه توګه ۹۰ سلنه نظامي عملیات تر سره کړي دي.[34]

سره له دې چې د ټول هواد په کچه، افغان ځواکونه د عملیاتو مشرۍ په غاړه لري خو د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې د ادعاوو د سیستماتیکې پلټنې او د جبرانولو اقدمات او د تعقیبي کړنو لپاره د افغان د ملي امنیتي ځواکونو په تشکیل کې کوم دایمي جوړښت وجود نلرې. د ملکي مرګ ژوبلې د تحقیقاتوګروپ چې د جمهوري ریاست د معلوماتو د همغږي

---

[33] د ۲۰۱۲ کال په اوله نیمایي کې یوناما د افغان ملي ځواکونو د عملیاتو په پایله کې د ۱۲ ملکانو وژنه او د ۳۴ نورو ټپیکدنه مستندکړي وو.

[34] د ۲۰۱۳ کال د می ۱۵ د یوناما مصاحبه د ملي دفاع د وزارت د حقوقي افسر سره..

په مرکز (PICC) کې شتون لري (د ۲۰۱۲ کال په می میاشت کې تاسس شوی دی) بوازې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلی د هغو پېښو تحققات کوي چې د امنيتی ارګانونو څخه بی ترلاسه کوي لکن د اشخاصو او سازمانونو شکايتونه تر پلټنې لاندې نه نسيي.[35]

په عمومی توګه د ملکي وګړو د ساتنی لپاره افغان حکومت تر اوسه پوری ثابت اقدمات چې په جګړه کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلی څخه مخنيوی وکړي او د دی اطمنان تر لاسه شی چې افغان ځواکونه ټول لازم تدابير د ملکي وګړو او ټولنو د ساتنی لپاره تر سره کوي، ندی ترسره کړي. د بلګی په توګه په ۲۰۱۳ کال کی بوناما د ۱۴ ملکيانو وژنه او ۵۵ نورو ټپي کدنه (۶۹ ملکي مرګ ژوبله) د هاوان، لاسی بمونو او راکټونو په ۲۱ جلاجلا پېښوکې (چې افغان امنيتی ځواکونو پر حکومت ضد عناصرو باندی وشتلی ) په نتجه کې رامنځته شوي دي. په ۲۰۱۲ کال کې بوناما د افغان امنيتی ځواکونو له لوری ترسره شوې نوه پيښه ثبت کړي وه چې په نتجه کې بی نو ملکي وګړی وژل شوی او دوه نور ټپيان شوي وو. په ۲۰۱۳ کال کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلي دکچې لوړوالي د افغان ملی امنيتی ځواکونو له خوا د زباتو نظامی عملاتو په ترسره کولو پوری اړه لری او دا په ګوته کوي چې افغان ملی امنيتی ځواکونه د ښکېل کدو ډاېرکتيفونو او اصولو ته اړتيا لری ترڅو د ملکيانو ساتنه تقوبه شي.

بوناما د افغانستان دولت ته په ۲۰۱۳ کال کې د هغه کړنو چې د افغانستان د نظامي ځواکونو وړتيا د ځای پر ځای شوی چاودېدونکو توکو د تهدبد د مخنيوي په خاطر په ځانګړي ډول د بمونو د خثی کولو ټيمونو تقوبه کول او د باسو مېټرېک سستم په اړوند د دوي ظرفيت لوړونې ته په ښه نظرګوري. د ځای پر ځای شوي چاودېدونکو توکو دګواښ اوکوم زيان چې ددغو توکو لخوا ملکي خلکو او ټولنو ته متوجه دی، په نظرکې نبولو سره ، بوناما پدې ټاکېدکوی چې افغان حکومت د اساف په مرسته د دی اطمنان ترلاسه کړی چې افغان ملی امنيتی ځواکونه روزل شوي، منابع لري او د دی جوګه د ي چې د ځای پر ځای شوی چاودېدونکو توکو په ضد عملات رهبری او په لاره واچولی شي. ( په ۱=۲۰۱۴ کال کې د انتقال تر بشپړېدو وروسته).

**افغان سمه ىز پولس**

د ۲۰۱۳ کال د جنوری له لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۳۰ پوری په ۳۲ جلاجلا پېښوکې چې افغان سمه ابز پولسو ته بې نسبت ورکول شوي دی، بوناما د ۱۴ ملکيانو وژنه او ۲۳ نورو ټپي کدنه مستنده کړېده چې د ۲۰۱۲ کال د همدی مودی په پرتله ۶۱ سلنه زياتوالی ښيي. د ملکي خلکو د مرګ ژوبلی زياتی پېښې د سمه ابز پولسو له لوری د بشری حقونو نه دسرغړونې پر مهال مستندشوې ، لکه قتل، شکنجه، زبرزنا، ګواښ، ربړونه، اجباری کارونه، شکونه او دغبری قانوني مالناتو راغونډونه . بوناما بو ځل بيا سپارښتنه کوي چې کورنبو چارو د وزارت اړوند، سمه ابزو پولسو درباست په چوکاټ کې دې په ملی کچه د حساب ورکونی مکانېزم رامنځته شی. لکه د نظامی څارنوالانو ټاکنه چې د هواد په کچه د سمه ابز پولس په خلاف ادعاوې په خپلواکه او شفافه توګه و څېړی او تر عدلی تعقب لاندی بې ونسی.

**د ټولنو په وړاندې خطرات: د جګړی اړوند تاوترېخوالی له کبله ملکيانو ته زيان**

د جنګ څخه پاتې شوي چاودنکي توکي

[35] لدی کبله بوناما په دی نظر ده چې د ملکی خلکو مرګ ژوبله د افغان ملی امنيتی ځواکونه له لوری کم راپور شوي دي.

د جنګ څخه پاته شوي چاودېدونکو توکو په [36] زیاتېدونکی توکه د ملکي وګړو ژوند او معشت ته او د افغانانو امنت ته ګواښ پیدا کړی دیپه ځانګړی توګه ماشومانو ته قوی خطر بلل کیږي. د ۲۰۱۳ کال د جنوری د میاشتی له لومړۍ نیټی نه د جون تر ۳۰ پوری یوناما د ۴۳ ملکیانو وژنه او ۱۰۲ نورو ټپي کېدنه (۱۴۵ ملکي مرګ ژوبله)، د جنګ څخه د پاته شوي چاودېدونکو توکو له کبله ثبت کړي دي چې د ۲۰۱۲ کال د همدی مودی په پرتله ۵۳ سلنه ډیریښت ښیي. ۷۹ سلنه قربانیان یې ماشومان وو.زیاتره د جنګ څخه د پاتې شویو چاودېدونکو توکو له کبله د مرګ ژوبلي ډیریښت د څمکنو نښتو په ترڅ کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلی سره برابر دی.[37] دوهم لامل یې د اساف د قرارګاوو او د ډزو د تعلمي ځایونو چټک بندیدل دي، چې اندیښنی شته ، دغه قرارګاوی او د ډزو تعلمي ځایونه تر بندیدو مخکی په مناسبه توګه د ناچاودېدونکو توکو څخه پاک شوي ندی.[38]

**د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو میراث**

په میراث پاته شوي چاودیدونکي توکي- ځای پر ځای شوي او ناچاودلي چاودیدونکی توکي چې په موثره توګه د ځمکنی ماینونو وظیفه ترسره کوي، په دوامداره توګه د افغانانو د اساسی بشری حقونو مخنوي کوي.د په میراث پاته شویو چاودیدونکو توکو شتون په دوامداره توګه د ډار او ناامنی یو چاپیریال را منځته کړي او د افغانانو د ژوند حق ګواښي. په میراث پاته شوي چاودیدونکو توکو د کلی ټول خلک بی ځایه کړي دي. هغه ټولني چې د ځای پر ځای شویو چادیدونکو توکو سره په یوه سیمه کې ژوندکوي په دوامداره توګه د وژل کېدو ، ټپي کېدلو او د شتمۍ دزیان ترګواښ لاندی دي. په میراث پاته شویو چاودېدونکو توکو د افغانانو ازاد تګ راتګ محدوده کړي همدارنګه د دوی د معشت، ساسی فعالیتونو، روغتیا او تعلم ازادی یې متاثره کړي دي. د سروی او د هغو سمو د تشخص کولو لپاره هڅو ته اړتیا ده چې د غیری فعاله ځای پر ځای شوی چاودیدونکو توکو څخه اغیزمنی دي او دغه سیمي باید پاکي شي.

یوناما تاکیدکوي چې باید زیاتی هڅی ترسره شی ترڅو د ځای پر ځآی شوي چاودېدونکو توکو په وړاندي ستراتیژی په بشپړه توګه پلی شی چې د ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۴ د افغانستان د ملی امنت د شورای لخوا تصویب شوي ده.

**وسلوالې ډلې**

یوناما د وسلوالو ډلو له لوری د بشری حقونو څخه د تیری ۱۹ پیښي مستندی کړی دي، چې په پایله کې یې ۷ ملکیان وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي. ډیری پیښي په هغو سیموکې مستندی شوي دي چیرته چې وسلوالو ډلو زیات قدرت او نفوذ درلود، په ځانګړي توګه د هیواد په شمال ، شمال ختیځو او مرکزي سیموکې.

---

[36] د جنګ څخه پاته شوي چاودیدونکي توکي څخه مطلب نا چاوده توکی او پاته شوي چاودیدنکي توکي دي.

[37] د ملکی خلکو د مرګ ژوبلی ډیریښت د ځمکنو نښتو څخه د دی ممکنت ښودنه کوي چې د ملکی خلکو په ګڼ مشتو سیموکې زیات نښتی شوي او دیته زمنه برابروی چې په دغو سیموکې زیات ناچاوده توکي پاته شي.

[38] د ناچاودیدونکو توکو د منبع پیدا کول ستونزمن دی، په ځانګړی توګه کله چې توکې چاودنه وکړي. نو په دی اساس د یوناما تحلل د ناچاودیدونکو توکو په اړه چې ملکی مرګ ژوبله یې رامنځته کړي د هغه محط په څېړلو پوری اړه لری چیرته چې چاودنه شوي ( د بېلګی په توګه د اساف په پخوانی قرارګاه کې د ناچاودیدونکو توکو د چاودني په اثر د ملکی خلکو مرګ ژوبله مسولت یې اساف ته نسبت نه ورکول کیږي پرته لدې چې د ناچاودیدونکي توکه اصلی ځای تثبت شي).

یوناما معلومات ترلاسه کړي چې وسلوالو ډلو د افغان ملی نظامی ځواکونو په ملاتړ په ځمکنو شخړو کې خپلی برخي اخستنی ته ادامه ورکړي، په ځانګړی توګه د فارياب په ولايت کې. یوناما د وسلوالو ډلو له لوري د وژني ځلور پيښې مستندکړي، چې ټولی یې په معافت تر سره شوي دي او همدارنګه یې دګواښ، ربړولو او لوټنې زياتی پيښې تاييدکړي دي.

**د شخړی له امله داخلي بی ځایه کیدنه**

د ۲۰۱۳کال د جنوری له لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۳۰ پوری د ملګروملتونو د کډوالو چارو دکمشنرۍ دفتر ( UNHCR) د وسلوال تاوتريخوالی له کبله د ۵۹۳۱۵ ملکي کسانو بی ځایه کیدنه ثبت کړيچې د ۲۰۱۲ کال د همدی مودی په پرتله د شخړی له کبله د بی ځایه شوي کسانو دری سلنه ډیرښت ښيی.

**په افغان ملکیانو د وسلوالې جګړې اغيزې**

د ۲۰۱۳ کال په اوله نيمايی کې ملکيان بیا په افغانستان کې د وسلوالی جګړې تر ډيريدونکی اغيز لاندی دي. ملکيان په ځانګړي توګه د جګړی څخه په متاثره شويو سيموکې د ملکيانو د وژنی او ټپيکيدنی تريخ حققت تجربه کړي چې د ډيريدونکی تاوتريخوالی (چې د زرګونو افغانانو ژوند، معشت او سالمتيا ګواښی) ورسره يوځای ؤ.د وسلوالو ډلو شتون، په سړکونو د پوستو جوړول یا د چاودیدونکو توکو ځای پرځای کول ، ډيريدونکي زورزياتی اوګواښونه، د افغان ملی نظامی ځواکونو له لوری د ساتنی د لازمو امکاناتو نه شتون په ځينو سيموکې ملکيانو ته ډيريدونکی زيان اړولی دی.

د حکومت ضد عناصرو په قصدی توګه، د ملکيانو وژنی، ټپيکدنی، ګواښني او ربړونی ته له معافت سره ادامه ورکړي ده. د حکومت ضد عناصرو ډيريدونکی تکيه په بی توپيره ځای پر ځای شويو چاودیدونکو توکو باندی او همدارنګه د دوی له لوری د ملکيانوپه قصدی ډول نښه کول د دی شديده اړتيا په ګوته کوي چې د حکومت ضد عناصر بايد ژر تر ژره اساسی اقدامات ترسره کړی او په ملکيانو بريدونه ودروي.

د واک دانتقال د بهير چټکدل د بشری حقونو د ساتنی لپاره زياتی اغيزی لري. یوناما انديښنه لري چې افغان ملی نظامی ځواکونه کافی قابليتونه او منابع نه لری ترڅو د ځای پر ځای شويو چاودیدونکو توکو مخ په زياتيدونکي ګواښ ته ځواب ووايي او ديته اړتيا ده چې افغان ملی نظامی ځواکونه اغيزمن اقدمات ترسره کړی تر څو له ملکيانو څخه په ځانګړی توګه د ځمکنو او وسلوالو نښتو په وخت کې ساتنه وکړي.

د اساف د ملکي وګړو د مړګ ژوبلی د راکمولو ټيم (CCMT) ترل کيدل په پلان کې دي خو دا نده معلومه چې اساف/ ناټو به له ۲۰۱۴ کال ورسته د هغو ملکي خلکو د مړګ ژوبلی د څيړلو لپاره چې نړيوال نظامی ځواکونه يکښی ښکيل وی (په ځانګړي توګه د بی پيلوټه الوتکو بريدونه) کوم جوړښت رامنځته کړي. یوناما په ناټو/ آساف باندی غږکوي چې د ملکي خلکو د ساتنی لپاره د ۲۰۱۴ کال وروسته د خپل ماموريت په بهيرکې اقدمات ترسره کړي.

یوناما پر دی زيات تاکيدکوي چې د سولي پروسه بايد د افغانانو لخوا او دافغانانو په مشرۍ په مخ لاړه شي او د ملکي خلکو ساتنه د ټولو مذاکراتو په سرکې وي.د افغانانو لپاره به د سولی د پروسی اعتباراو اهمت د ملکي خلکو د مړګ ژوبلی دکميښت، د ملکيانو د ساتنی او د ښه امن رامنځته کول دي.

## سپارښتنې

یوناما په جګړه کې د ټولو ښکېلو خواوو څخه غواړي چې خپل قانوني مکلفیتونه ترسره کړی او د ملکي خلکو ساتنه وکړي او خپلی هڅي او ژمنې زیاتې کاندی تر څو د ملکي خلکو مرګ ژوبله په ځانګړی توګه د ځمکنو عملیاتو په ترڅ کې راکمه شي. یوناما د ملکي خلکو د ښه خوندیتوب په موخه لاندي سپارښتني وړاندي کوي:

### د حکومت ضد عناصرو ته

- د بشرپالنې د نړیوال قانون د اوصولو سره سم د تفکیک ، تناسب او احتیاطي تدابیر په پام کې ونیسئ او د ملکي خلکو تعریف دي د بشرپالنې د نړیوال قانون سره په مطابقت کې پلي کړي.
- د نړیوالو قانون سره سم دي د ملکي خلکو هدفي وژنې او هغه فرمانونه چې د ملکي خلکو په ځانګړي ډول د مذهبی اشخاصو، قضایې چارواکو او د حکومت د ملکي مامورینو د وژنې جواز ورکوي، ودروي.
- د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو بی توپیره کارونه او دهغه ماینونو چې دفشارپه راوړولو سره فعالیږي،کاروونه دی بنده کړی، په ځانګړي توګه په هغو سموکې چې زیات شمېر ملکیان وي.
- د موازي قضایي جوړښتونو لخوا د ترسره کېدونکي هغه اعمال دې بندکړي چې غیري قانوني سزاګانې لکه وژنې، د وجود د یوه غړي پریکونه، شل شوټ کول او وهل ډبول. ټاکي.
- هغه طرزالعملونه، هدایات او لارښوونې دې په عمل کې پلي کړي چې د ملکي وګړو د وژنې څخه مخنیوې کوي او هغه د افرادو سره چې ملکي کسان د مرګ ژوبلي په موخه هدف ګرزوي، حساب وشې .


### د افغانستان حکومت ته

- د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو په ضد ستراتژی تطبق کولو ته دې لومړیتوب ورکړل شي او د دې اطمنان دی حاصل کړي چې افغان ملی امنتی ځواکونه پرمختګ کوي، تجهزات او قابلیت ولري ترڅو د ځای پر ځای شویو چاودېدنکو توکو ضد عملیات رهبری، کنترول کړی او د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو د استثمار په شمول دغه عملیات په اغزمنه توګه ترسره کړي.
- په حکومت کې د داسی جوړښتونو تقویه کول چې وکولای شی د دولت پلوه ځواکونو له لوری د ملکي خلکو د مرګ ژوبلی په اړه پلټنه ترسره کړي، وقاوی تدابېر وضع کړي او حساب ورکونه رامنځته کړي. د دی لپاره چې د ملکي خلکو ساتنه، جبران خساره او حساب ورکونه تقویه شي د ملکي خلکو د مرګ ژوبلی ټولي هغه پېښې چې د افغان ملی امنتی ځواکونو له لوری رامنځته شوي وي باید په وخت او شفافه توګه وڅېړل شي.
- د تاکتیکی دایرکتیفونه تقویه او بیا کتنه یې ترسره شي، د ښکېل کېدو اصول او نورو پروسیجرونو په شمول ترڅو د دی اطمنانحاصل شي چې د افغان نظامی ځواکونو ټول کسان د ملکي خلکو د ساتنی په اړه خپل قانونی مکلفتونه تر سره کوي.
- د سیمه ایزو پولسو د هغو ډلو له منځه وړل چې د بشری حقونو څخه سرغړونو او جرمونو اوړد معافت لري، او د محلی پولسو له لوري ارتکاب شویو جرمونو ته قانونی ځواب ورکړل شي.
- دغېر مسوولو وسله والو ډلو بې وسلې کول او د له منځه وړلو ته باید دوام ورکول شي.

## نړیوال نظامي ځواکونه

- د هواد په کچه ددې تاسدول چې د نړیوالو نظامې ځواکونه هغه قرارګاوي او د ډزو سمی چې تړل شوي دي د نا چاودېدونکو توکو او پاتې شویو چاودېدونکو توکو څخه پاکې شوي دي. له افغان ملی نظامی ځواکونو او ایساف سره د یو مکانېزم رامنځته کول چې د ځمکنو عملیاتو او یا هوایی بریدونو څخه د ناچاودلو توکو شکمنو سیمو په اړه مسؤلو مقاماتو ته راپور ورکړل شي تر څو دغه شکمنې سیمي په نښه او پاکی شي.

- شفافیت او حساب ورکونې ته وده ورکول او په هغو پېښوکې چې د ملکي خلکو مړګ ژوبله يې را منځته کړې د ایساف او نورو ادارو د پلټنو د موندنو خپرول، په ځانګړې ډول هغه پیښې چې د هوایی عملیاتو په نتیجه کې رامنځته کېږي.
- د افغان ملي امنیتي ځواکونو حمایت او تقویه کول تر څو د ملکي کسانو د مړګ ژوبلي دکمښت، راپور ورکولو او تحلیل کې د هغوي قابلیت لوړ شي او ورسره د ایساف د ملکي مړګ ژوبلي دکمولو ډله( Civilian Casualty Mitigation Team) دوامداره فعالت ولري. د دی اطمنان ورکول چې افغان ملی امنیتي ځواکونو ته تاکتکی دابرکتنفونه، پرسجرونه په بشپړ ډول سپارل شوي او په دی برخه کې هغوی ته روزنه ورکول شویده تر څو د ملکي خلکو ساتنه لاپسی ښه شي، په ځانګړي ډول د ځمکنو نښتو په مهال د ښوکړنو بلګي شریکول چې په پایله کې يې د ملکي وګړو تلفات راکم شوي وي.
- د دي ډاډ ورکول چې افغان ملي امنیتي ځواکونه په پوره اندازي سره منابع به لاس کې لري، مجهز او روزل شوي دي تر څو په موثره توګه د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو ضد عملیات په اغېزمنه توګه رهبري او کنترول کړي، اود ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکو د استثمار په شمول خنثي کړای شي.


د دولت ضد وسلوالو لخوا د ملکي خلکو مرګ ژوبله
د ۲۰۰۹ – ۲۰۱۳ د جنوري څخه تر جون پوري
3000
2500
2000
1500
1000
500
0
2009
2010
2011
2012
2013
599
947
1546
931
1579
2510
1047
1651
2725
881
1580
2461
1038
1825
2863
مړينه
ټپيان
ټوټل

## ځاي پر ځاي شوي/تعبه شوي چاودېدونکي توکي

زه د خپل یو دوست سره په همدغه ورځ بل کلي ته روان وم او موږ باید د یوه پله څخه تېرشوي وای. ما ولیدل چې یو سړي پله ته نږدې ناست دی او په لاسونو د یو شي سره اخته دی. ما موټر و نه دروواه او خپل حرکت ته مې د پله څخه د تېریدا لپاره ادامه ورکړه. څنګه چې موږ د پله څخه د تېریدا په حال کې وو ناڅاپه مې یوه چاودنه تر غوږو شوه او تر دې وروسته زه بې سده شوم. زه د ۱۰ دقیقو لپاره بې حاله وم اوکله چې مې سترګې وغړولې نو مې پخپل سر او ښي لاس کې شدید درد احساس کړ، په داسې حال کې چې په دغه مهال مې د پنځه واړو ګوتو څخه وینې روانې وې؛ چې د موټر په ماتو شوو ښیښو پرې شوې وې. ما خپلې ګوتې نه شوې ښورولای او نه مې هغه احساسولې. د نیکه مرغه زما ملګری چې نه وو لګېدلی د مرستې لپاره اړیکه ونیوله او څو دقیقې وروسته پولیس را ورسېدل. دغه چاودنه دومره زوروره وه چې د هغې له امله زموږ موټر په هواکې دوه متره پورته شوه. دا د لېرې واټن څخه کنترول شوي تعبه شوې چاودېدونکې وسله وه چې د پل په کنډ اړخ کې ځای پرځای شوې وه. زه د ایبک د ښار د عامې روغتیا روغتون ته ولېږدول شوم چې هلته مې درملنه وشوه. زه د جون په ۳ نېټه د روغتون څخه رخصت شوم. زه اوس ځان ښه احساسوم خو ډاکټرانو را ته و ویل چې زه به نور هېڅکله هم د خپل ژوبل لاس ګوتې احساس نه کړم او نه به یې وښورولای شم.

- د سمنګانو ولایت د دره صوف پایان په ولسوالۍ کې د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۲۸ نېټه له لېرې واټن څخه دکنترول شوي تعبه شوې چاودېدونکې وسلې د چاودنې قرباني.[42]

[42] د سمنګانو ولایت د دره صوف پایان په ولسوالۍ کې د ۲۰۱۳ کال د جون په ۵ نېټه د هغه ځاي د تولنې د یو غړي سره د یوناما مرکه.

د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې تعبه شوو چاودېدونکو توکو د ټول هواد په کچه ملکي وګړو ته ډېر زيات زيان اړولی دی او دا د هغه اساسي تاکتيک په توګه پاتي دی چې د ملکي وګړو د وژنو او ژوبلېدو لامل ګرځي او د ټولو ملکي تلفاتو ۳۵ سلنه جوړوي.

د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ د لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۳۰ نېټې پورې، د تعبه شوو چاودېدونکو توکو په وسيله ۴۴۳ تنه وژل شوي او نور ۹۱۷ (ټولټال ۱۳۶۰ ملکي تلفات)[43] ټپي شوي دي چې دا د ۲۰۱۲ [44] کال د همدغې مودې په پرتله په ملکي تلفاتوکې ۳۴ سلنه زياتوالی جوتوي. د ۲۰۰۹ کال څخه تر اوسه پورې بواځې د تعبه شوو چاودېدونکو توکو په وسيله نږدې ۱۱۰۰۰ ملکي وګړي (۳۹۹۶ ملکي مړينې او ۶۹۷۸ ملکي ژوبلې) د تعبه شوو چاودېدونکو توکو د بريدونو په پايله کې مړه او ژوبل شوي دي.

کندهار او هلمند هغه ولايتونه دي چې د تعبه شوو چاودېدونکو توکو په وسيله تر ټولو زيات اغېزمن شوي دي او په دې پسې وروسته درجه کې د فارياب ولايت دی.

ځاي پر ځاي کړاى شويو چاودېدونکو توکو په زياته شمېره کې ښځې او ماشومان وژلي او ټپي کړي دي. د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ او جون تر منځ يوناما دا مستنده کړې ده چې په دې موده کې ۴۱ ښځې وژل شوي او ۵۴ نورې يې ژوبلې شوي دي (ټولټال ۹۵ ملکي تلفات)، چې دا د ۲۰۱۲ [45] کال د ورته مودې په پرتله ۱۳۸ سلنه زياتوالي ښيي.

يوناما د ۲۰۱۳ کال په جريان کې د تعبه شويو چاودېدونکو توکو په وسيله د ماشومانو په وژنو او ژوبلوکې د ۷۷ سلنې زياتوالی له امله خپله ژوره اندېښنه جوتوي. يوناما د ماشومانو ۷۰ مړينې او ۱۷۹ ژوبلې ثبت کړي دي چې د ۲۰۱۲ [46] کال د ورته مودې په پرتله ۷۲ سلنه زياتوالی په ګوته کوي. يوناما په اندېښنې سره د تعبه شوو چاودېدونکو توکوکارولو ته اشاره کوي چې داسې ډېزاين شوي دي چې ماشومانو ته يې د زيان رسېدلو احتمال زيات دی. د بېلګې په ډول د ننګرهار ولايت د خوګيانيو په ولسوالۍ کې د جون د مياشتې په ۱۲ نېټه يوه تعبه شوې چاودېدونکې وسله وچاودېدله چې له امله يې يوه لس کلنه نجلۍ و وژل شوه او د هغې اوه‌کلن ورور يې په جدي توګه ټپي کړ. دغه تعبه شوې چاودېدونکې وسله د لوبې د موبايل ټيلفون په څېر جوړه شوې وه چې ماشومانو پورته کړې اوکله يې چې ورسره لوبې کولې وچاودېدله.

له لېرې واټن څخه دکنټرول شويو ځاي پر ځاي شويو چاودېدنکو توکو زيات کارول

---

[43] لکه چې يوناما هرملکي تلفات د هرې شوې لومړنۍ پېښې د نوعيت له مخې شمېري اوهمدارنګه تاکتيکونه او فرعي تاکتيکونه مستند کوي، د دغو تعبه شويو چاودېدونکو توکو ارقاموکې هغه شمېرې نه دې شاملې چې د چاودېدونکو تعبه شويو توکو په وسيله په موخه سره ډول تر سره شوي (۲۸ مړينې او ۵۱ ژوبلې) او نه هم هغوکې هغه ملکي تلفات شامل دي چې په ځان مرګو بريدونوکې د تعبه شويو چاودېدونکو توکو دکارولو په پايله کې رامنځته شوي دي چې د دې راپورد ځان مرګو او پېچلو بريدونو په برخه کې يې راپور ورکړل شوی دی.

[44] يوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړيو شپږو مياشتوکې د ۳۲۹ ملکي وژنو او ۷۲۷ ملکي ژوبلو (ټولټال ۱۰۵۶ ملکي تلفات) مستندکړي دي چې د تعبه شوو چاودېدونکو توکو د لارې ترسره شوي دي. د يوناما د ۲۰۱۲ کال د ملکي وګړو د ساتنې په اړه دکال د نمايي راپور ۱۳-۱۴ مخونه په

http://unama.un missions.org/Defaults.aspx?tabid=12265&language=en-US. کې وګورئ.

[45] د ۲۰۱۲ کال په لومړيو شپږو مياشتوکې يوناما د تعبه شوو چاودېدونکو توکو په وسيله د ۱۸ ښځو مړينې او د ۲۲ ښځو ژوبلې ثبتې کړې دي. مخکې ذکر شوی ماخذ

[46] تعبه شويو چاودېدونکو توکو د ۲۰۱۲ کال په لومړيو شپږو مياشتوکې ۶۳ تنه ماشومان وژلي اونور ۸۲ تنه يې ژوبل کړي دي مخکې ذکر شوی ماخذ.

له لېرې څخه دکنټرول شوبو تعبه شوبو چاودېدونکو توکو د چاودونو له امله د ملکي تلفاتو شمېر د ۲۰۱۲ کال د همدغه مودې پرتله ۱۳۰ سلنه زیاته شوې چې په هغوکې د ۱۳۶ تنو مړینې او ۴۲۶ ټپي کېدنې (ټولټال ۵۶۲ ملکي تلفات) له لېرې څخه دکنټرول شوبو تعبه شوو چاودېدونکو توکو د بربدونو په پایله کې را منځته شوي دي [47]
د لېرې څخه کنټرول شوي تعبه شوي چاودېدونکي توکي هغه د عام ډوله قوماندې د لارې فعالېدونکي تعبه شوي چاودېدونکي توکي دي چې د لېرې واټن څخه فعالېږي اوکارونکي شخص ته د دې امکان ورکوي څو د وړاندې څخه ځاي پر ځای شوې وسله په هغه وخت کې وچوی کله چې هدف موخه سږې ساحې ته نږدې کېږی[48]. داکولای شي چې زیاتی په سمه توګه په نښه شوی هدفونه وولی، پدی شرط چی اپرېټر د دې لپاره روزل شوی وي او د دې امکان ورکړي چې په سم ډول دغه وسله وکاروي.[49]
د لېرې څخه دکنټرول شویو تعبه شوو چاودېدونکو توکو د لارې د را منځته شوبو ملکي تلفاتو شمېر په جنوب ختېځه سمه کې ۶۶ پېښو ته چې په هغوکې ۵۶ مړینې او ۱۴۲ ژوبلې رامنځته شوې، رسېږي چې دا د ۲۰۱۲[50] کال د همدغې مودې په پرتله ۲۳۷۵ سلنه زیاتوالی څرګندوي.
د ۲۰۱۳ کال په لومړبو شپږو ماشتوکې یوناما همدارنګه له لېرې څخه دکنټرول شوبو تعبه شوبو چاودېدونکو توکو د بربدونو زیاتوالی په شمال او د جنوب په سموکې ثبت کړی دی. په جنوب کې یوناما ۱۶ ملکي مړینې او ۸۹ ټپي کېدنې (ټولټآل ۱۰۵ ملکي تلفات) چې له لېرې څخه دکنټرول شوبو تعبه شوو چاودېدونکو توکو په وسله د ملکي تلفاتو په شمېرکې ۴۲۵ سلنه زیاتوالی جوتوي. یوناما له لېرې څخه دکنټرول شوبو چاودېدونکو توکو د بربدونو په کچه کې په ختیځ کې د پام وړ زیاتوالي مستندکړی دی چې په هغه کې ۲۹ مړینې او ۶۹ ټپي کېدنې (۹۸ ملکي تلفات) چې د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۷۵ سلنه زیاتوالی څرګندوي، مستندکړی دی. په شمال کې یوناما د ملکي وګړو ۱۵ مړینې او ۹۷ ټپي کېدنې (ټولټال ۱۱۲ ملکي تلفات) چې له لېرې څخه د اداره کېدونکو تعبه شوبو چاودېدونکو توکو له لارې د رامنځته شوبو ملکي تلفاتو په لړکې ۹۶ سلنه زیاتوالی څرګندوي، مستندې کړي دي.

له لېرې څخه دکنټرول د لارې د تعبه شوبو چاودېدونکو توکو په کارولوکې کمښت په مرکزي او شمال ختیځ سمو کې، چې د هغو په پایله کې بو تن ملکي کس وژل شوی او اوه نور دکابل په ښارکې ټپیان شوي دي ثبت شوی دی؛ چې دا د ۲۰۱۲ کال د همدې مودې په پرتله ۷۵ سلنه کمښت، او څلور مړینې او ۱۴ ټپي کېدنې په شمال ختیځ سمه کې د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۷۰ سلنه کمښت جوتوي.

له لېرې څخه دکنترول د لارې د بربدونو په لړکې زیاتوالی چې له امله یې ملکي تلفات رامنځته شوي دي، کېدای شي چې د قرباني له خوا د فعالېدونکو تعبه شوبو چاودېدونکو توکو په شمېرکې دکمښت له امله وي چې په کې د

[47] د ۲۰۱۲ کال په لومړبو شپږو ماشتوکې یوناما د ۵۵ ملکانو مړینې او د ۱۸۹ تنو ژوبلې د ۷۱ بربدونو لپاره (ټولټال ۲۴۴ ملکي تلفات) ثبتې کړي دي.
[48] دکوچنو وسلو سروې، ځای پرځای کړای شوې چاودېدونکې وسلې، ۱۰ څپرکي 'infernal Machines ' ۲۲۰-۲۲۱ مخونه.
[49] د اسساف سره د یوناما مرکه د تعبه شوبو چاودېدونکو وسلو ضد څانګه، د ۲۰۱۳ کال د جولای ۱۵ نېټه. د اسساف د تعبه شوبو چاودېدونکو توکو ضد متخصصانو په وینا له لېرې څخه دکنټرول د لارې د تعبه شوبو چاودېدونکو توکو اپرېټران په افغانستان کې سم نه دي روزل شوي چې د دې له امله له لېرې څخه دکنترول د لارې ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو په کارولوکې سهوه د غلطې هدف ګرځونې لامل ګرځي او دا پخپل وار په ملکي تلفاتوکې زیاتوالی راولي.
[50] د ۲۰۱۲ کال په لومړبو شپږو ماشتوکې یوناما له لرې څخه دکنټرول کېدونکو ځاي پر ځاي کړای شوبو چاودبدونکو توکو د چاودنې ۸ پېښې ثبتې کړي دي.

فشار په ذريعه د چاودېدونکو ځاي پر ځاي کړای شوېو توکو، هغه تعبه شوي چاودېدونکي توکي چې د سم د لارې اداره کېږي، او نورې هغه تعبه شوې چاودېدونکې وسلې چې د قرباني سره د تماس په پایله کې فعالېږي شاملې دي او د دولت ضد عناصرو له خوا ورڅخه استفاده کېږي. د دولت ضد عناصرو له خوا پخوا د فشار په ذريعه چاودېدونکي تعبه شوېو چاودېدونکو وسلو باندې تکيه چې په بې توپيره ډول کارول کېدل کېدای شي چې په دې وجه وي چې اوس د اساف له خوا له لېرې څخه کنټرول شوېو تعبه شوېو چاودېدونکو وسلو په وړاندې د اساف له خوا الکټرونکي ضد تدابير(ECM) نېول شوي دي. په افغانستان کې ګرځنده ټيلفون او دوه طرفه راډيوګانې د دې لپاره عاريږي څو د هغو په وسله له لېرې څخه کنټرولېدونکې تعبه شوې چاودېدونکې وسلې فعالې کړای شي. دا په دې مانا دي چې له لېرې څخه دکنټرولېدونکې تعبه شوې چاودېدونکې وسلې د الکټرونکي ضد تدابيرو د سيستمونو په وړاندې زيان منونکې دي چې هغه د سګنالونو مخه نيسي او نه شي کولای چې وسلې ته ورسېږي او په دې توګه د چاودنې مخنيوی کوي.

په تېرو کلونو کې د اساف له خوا الکترونکي ضد سيستمونو ښايي د دې سبب ګرځېدلي وي، چې د دولت ضد عناصر زياتره د تعبه شوېو چاودېدونکو توکو د چاودولو په اساسي ډولونو تکيه وکړي، چې په کې د تعبه شوېو چاودېدونکو توکو سره د فشار د تختې په ذريعه تعبه شوی چاودېدونکی توکی شامليږی چې د قرباني له خوا فعالېدل (نه دا چې د ټيلفون او يا هم د دوه طرفه راډيو له لارې فعال شي) او له همدې کبله نه شوکېدلای چې د الکترونکي ضد تدابيرو د لارې کشف شي.[51] د ۲۰۱۳ کال د جون څخه تر مخه د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د اساف په شان الکترونکي ضد ظرفيت چې وکولای شي له لېرې واټن څخه کنترولېدونکي تعبه شوي چاودېدونکي توکي چې د دولت ضد عناصرو له خوا کارول کېږي د چاودنې څخه ترمخه کشف کړي، نه درلود،دا کېدلای شي چې د دولت ضد عناصرو له خوا له لېرې څخه دکنترول شوېو تعبه شوېو چاودېدونکو توکو د کارولو د زياتوالي او د فشار په ذريعه د چاودېدونکو وسلو د کموکارولو لامل شوی وي.[52] د اساف له خوا دګزموکمښت د دولت ضد عناصرو له خوا د بو فرصت په توګه ګڼل شوي څو چې له لېرې څخه دکنټرول شوېو د ځاي پر ځاي کړای شوېو چاودېدونکو توکوکارول زيات او د قرباني له خوا د فعالېدونکو يا د فشار په ذريعه د چاودېدونکو وسلوکارول کم شي. افغان ملی امنيتی ځواکونه د الکترونکي ضد تدابيرو څخه د ۲۰۱۳ [53] کال د جون د مياشتې څخه کار اخلي.

په تاکتيکونوکې داسې بدلون چې له مخې يې له لېرې څخه دکنترول شوېو ځاي پر ځاي شوېو چاودېدونکو توکو کارول زيات او د فشار په ذريعه د چاودېدونکو وسلوکارول کم شي، کېدلا ی شي چې د طالبانو د وروستنو وېناوو سره تړاو ولري چې په هغوکې يې د دې دعوې کړي چې هغوی ډېر توپيري تاکتيکونه کاروي (چې هغه کولای شي د ملکي وګړو ساتنه کې ښه والی راولي) چې په هغوکې کېدای شي له لېرې څخه کنټرولېدونکي چاودېدونکو توکي شامل وي. يوناما دا ياد داښت کوي چې که څه هم د دولت ضد عناصر د دولت پلوه ځواکونو

[51] دکوچنيو وسلو سروې، ځاي پر ځاي کړا ی شوې چاودېدونکې وسلې، لسم څپرکی 'infernal Machines' يا شيطانی ماشينونه، ۲۲۰-۲۲۱ مخ.

[52] د اساف د ځاي پر ځاي کړای شوېو چاودېدونکو وسلو ضد د پالسي څانګې سره د يوناما مرکه، د اساف قرارګاه، کابل د ۲۰۱۳ کال د جون ۲۳ نېټه

[53] د اساف د ځاي پر ځاي کړای شوېو چاودېدونکو وسلو ضد د پالسي څانګې سره د يوناما مرکه، د اساف قرارګاه، کابل د ۲۰۱۳ کال د جولای ۲۸ نېټه

په وړاندې د بریدونو په ترڅ کې له لېرې څخه کنټرولېدونکې چاودېدونکې وسلې کاروي، خو په ګڼ شمېر پېښوکې دغه ډول تاکتیکونو په بې تناسبه ډول ملکي وګړي زیانمن کړي دي. د بېلګې په توګه یوناما دا مستنده کړې ده چې په زیاتو هغو حالاتوکې چې د دولت ضد عناصرو له لېرې څخه د کنټرولېدونکو ځاي پر ځاي کړای شویو چاودېدونکو وسلو له لارې نظامي هدفونه په ګڼ مشته سمو کې په نښه کړي دي نو د هغو په پایله کې زیات ملکي تلفات رامنځته شوي دي.

نږدې نمایی هغه له لېرې څخه کنټرول شوي د ځاي پر ځاي کړای شویو چاودېدونکو توکو بریدونه چې یوناما مستند کړي دي د هغو څخه ښکاري چې افغان ملي پولس یې هدف ګرځولي دي- افغان ملي پولس اکثره وخت د قانون د تنفذ دندې تر سره کوي لکه د ترافک پولس، او یا یې هم د هغو ملي پولسو د کنټرولي پوستو پر ضد په هغو ساحوکې ترسره کړي دي چې په کې په زیاته پیمانه کې ملکي وګړي متمرکز دي. د بلګې په ډول د مۍ په ۱۷ نېټه په موټرکې د تعبه شویو چاودېدونکو توکو دوه وسلې چې افغان ملي پولس یې په نښه کول دکندهار په ښارکې وچاودېدلې، اته تنه ملکي وګړي یې و وژل چې په هغوکې یو شپږکلن ماشوم هم شامل و او نور ۶۰ تنه یې د ۲۰ ماشومانو په ګډون ژوبل کړل. یوناما همدارنګه د دولت ضد عناصرو له خوا له لېرې څخه دکنټرول کېدونکو تعبه شویو چاودېدونکو وسلوکارول مستندکړي دي چې په همدي ډول یې ملکیان په نښه کول. د بلګې په ډول د جون په ۱۸ نېټه، دکابل په ښارکې د ملي شورا د یو غړي د سپرلۍ په کتار له لېرې څخه دکنټرول شوې تعبه شوې چاودېدونکې وسلې له لارې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمسسون تر مخې برید وشو چې څلور تنه ملکي وګړي یې و وژل او ۳۱ نور یې ژوبل کړل.

په ځینو پېښوکې له لېرې څخه دکنټرولېدونکو تعبه شویو چاودېدونکو توکو په وسله داسې ښکاري چې امنیتي ځواکونه په نښه کېږي خو هغه یواځې ملکي وګړو ته تاوان اړوي. د مثال په ډول د جون په ۳ نېټه، د لغمان ولایت د مهترلام په ښارکې له لېرې څخه کنټرولېدونکې د تعبه شویو چاودېدونکو توکو وسله د یوې مازدا لارۍ مخې ته وچاودېدله چې له امله یې اوه ملکي وګړي چې په کې څلور مرمنې او دوه ماشومان هم شامل وو د لارۍ د چلونکي په شمول و وژل شول. ځایی ټولنو یوناما ته د دې معلومات ورکړي دي چې طالبانو هغوي؛ یانې د کلوالې ټولنې غړو ته د وړاندې څخه د دې خبرداری ورکړی دی چې په هغه سړک مه ځئ، ځکه چې هغوي هلته ځاي پر ځاي کړای شوې چاودېدونکې وسله ښخه کړې ده چې د افغانستان امنیتي ځواکونه چې د راپور له مخې غواړي په ساحه کې نظامي عملیات تر سره کړي هلته په نښه کړي.

د قرباني سره د تماس په پایله کې تعبه شویو چاودېدونکو وسلو په کارولوکې کمښت

د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، یوناما ۸۳ د ملکي وګړو مړینې او ۱۴۴ ژوبلې (۲۲۷ ملکي تلفات) ثبتې کړې دي چې د قرباني په ذریعه د تعبه شویو چاودېدونکو وسلو په ۹۰ بریدونو[54] کې رامنځته شوي دي، چې دا د ۲۰۱۲ کال د همدغې مودې په پرتله د ورته تاکتیکونو د کارولو له لارې په ملکي تلفاتوکې ۲۴ سلنه کموالی

[54] د قرباني سره د تماس په پایله کې فعالېدونکي یا د فشار په ذریعه تعبه شوي چاودېدونکي توکوکې د فشار د تختو تعبه شوي چاودېدونکي توکي ((PPIEDs، د قوماندې د سم تعبه شوي چاودېدونکي توکي او نور هغه تعبه شوي چاودېدونکي توکي چې د قرباني له خوا فعالېږي، شامل دي.

جوتوي.[55] یوناما د فشار په ذریعه د چاودیدونکو وسلو د بریدونو په پایله کې په ملکي تلفاتوکې کمښت یاد داښت کړی دی خو دا په ډاګه کوي چې د پېښو شمېر تر پام وړ اندازې پورې نه ده راټيټه شوې. نږدې نمایي د فشار په ذریعه د چاودیدونکو توکو پېښې په جنوبي سمه کې دي چې له هغو څخه د فشار په ذریعه د چاودیدونکو توکو ۳۳ بریدونه سواځې دکندهار په ښارکې رامنځته شوي دي.

یوناما دا بیا تکراروي چې د قرباني له خوا فعالېدونکې یا د فشار په ذریعه چاودیدونکې وسلې لکه د ځمکنو ماینونو په څېر اغېز لرونکی فعالت لري او بې توپیره دي ځکه چې هغه د ملکي وګړي او نظامي هدف تر منځ توپیر نه شي کولای او د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې د هغوکارول غیر قانوني ګڼې. په افغانستان کې د فشار په ذریعه چاودیدونکې توکي په عمومي ډول داسې چمتو شوي دي څو هغه مهال وچوي کله چې څوک او یا هم کومه نقلیه وسله پر هغو د پاسه تیره شي.

په افغانستان کې د فشار په ذریعه چاودیدونکې توکي د اټکل له مخې د ۲۰-۲۵ کیلوګرامو پورې چاودیدونکې مواد لري؛ چې دا د یو معیاري د ټانک ضد ماین د چاودیدونکو محتویاتو څخه دوه برابره زیات وي او لا هم هغه داسې یوه ماشه لري چې د پرسونل ضد د ماین څخه زیاته حساسه وي. دا په دې مانا ده چې هغه د یوه کتله یې د پرسونل ضد ماین څخه په زیاتې اغېزمنتیا سره فعالېږي اوکولای شي چې یو ټانک وبجاړکړي. هغه ملکي وګړي چې په دغو تعبیه شوو چاودیدونکو توکو د پاسه ځي او یا هم وربانديې په نقلیه وسله کې تېرېږي نو د هغو په وړاندې دفاع نه لري او د ژغورنې خورا کم چانس لري. د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د پام وړ شمېر چې په افغاسنتان کې خنثی او ترلاسه شوي دي د چاودیدونکو موادو وزن یې نږدې ۲-۴ کیلوګرامه دی او داسې ډیزاین شوي چې پیاده افراد ژوبل او یا هم د دغې لارې و وژنې.[56]

د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو بې توپیره او په غیر متناسبه توګه کارول
که څه هم د هغو بریدونو شمېر چې په لوړ پوړو چاروا کو شوي دي د نظامي موخو پر خلاف د بریدونو او د ځای پرځای کړای شویو چاودیدونکو توکو د بریدونو او همدارنګه د ځای پر ځای کړای شویو چاودیدونکو توکو د را برسیره کولو او وبجاړولو په شمول د ترو کلونو په څېر دي،[57] د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د پېښو شمېر چې د هغو په ترڅ کې ملکي تلفات رامنځته شوي دي زیاتوالی موندلی دی. دغه زیاتوالی دا په ډاګه کوي چې د دولت ضد عناصر بې توپیره بریدونه ترسره کوي او په عمدي توګه ملکي وګړي تر هدف لاندې راولي او ځای پر ځای شوي توکي په بې توپیره او غیر متناسبه توګه استعمالوي.

د بشر پالنې نړیوال قانون په پوره وضاحت سره بې توپیره او غیر متناسبه بریدونه او هغه بریدونه چې ملکي وګړي تر هدف لاندې نسي منع کوي او په دې ټینګارکوي چې دغه ډول اعمال په جنګي جرمونوکې شمېرل کېږي.

---

[55] یوناما د ۱۰۵ ملکي وګړو مړینې او ۱۹۵ ټپي کېدنې چې د ۱۰۴ د فشار په ذریعه د چاودیدونکو وسلو له لارې شوي دي د ۲۰۱۲ کال په لومړۍ نمایي کې ثبتې کړي دي.

[56] د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د ضد دفتر سره د یوناما مرکه، د ۲۰۱۱ کال د جون ماشت او د ۲۰۱۳ کال د مۍ څخه تر جون پورې، د اساف قرارګاه، کابل.

[57] د ځای پر ځای کړای شوې چاودیدونکې وسلې فعالیت او جریانونه: د ۲۰۱۱ کال د اپریل څخه د ۲۰۱۳ کال تراپریله، ناټو/اساف د غیر طبقه بندي شوي( UNCALSSIFIED REL UNAMA/FODO, ) د یوناما او اساف سره غونډه د ۲۰۱۳ کال د مۍ ۲۶ نېټه، کابل.

یوناما دا مشاهده کړې ده چې د۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې د ملکي تلفاتو زیاته شمیره کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د بریدونو څخه را منځته شوي دي چې هغه په بې توپیره او غیر متناسب ډول وو، او په عمدي توګه یې ملکی وګړي تر هدف لاندې را وستي دي. یوناما په ګڼه شمیره کې داسې پیښې ثبتې کړي دي چې د دولت ضد عناصرو له خوا تر سره شوي دي، او هغه په لاندې ډول دي:


- د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکوکارول څو په عمدي توګه ملکي وګړي و وژل شي[58]، د مثال په ډول په عمدي ډول د دولتي ملکي کارکوونکو، قبايلي او مذهبي مشرانو وژل ؛
- په بې توپيره توګه د ځاي پر ځاي شويو چاودیدونکو توکوکارول، لکه په هغو ځايونوکې د تعبيه شويو چاودیدونکو توکو ښخول او يا کارول چې د ځانګړي نظامي موخې لپاره نه دي مشخص کړای شوي، د بېلګې په توګه په عامه ځايونوکې چې زیاتره د ملکي وګړو له خوا کارول کيږي لکه سړکونه، مارکيټونه، دولتي دفترې، د عامه ټولدنې ځايونه، چې په کې بازارونه، د ښوونځیو دننه او خواو شا سیمه، دوکانونه او د بس سټېشنونه [59] راځي؛
- په نا متناسبه توګه د تعبيه شويو چاودیدونکو توکوکارول، لکه د تعبيه شويو چاودیدونکو توکو د هغو بريدونو تر سره کول چې زیان یې ملکي وګړو ته زيات وي – او دا چې کېدلای شوای په معقوله توګه يې وړاند وينه وشي – چې هغه د بريد د مشخصې او مستقيمې نظامي ګټې په اړه وي، د بېلګې په توګه د ښارونو دننه د نظامي کتارونو او د پولس دکنټرولي پوستو تر بريد لاندې را وستل؛
- د تعبيه شويو چاودیدونکو توکو په داسې ډول کارول چې هغه و نه کړای شي د ملکي وګړو او د وسله والو ځواکونو ترمنځ توپير وکړای شي. د مثال په ډول د تعبيه شويو چاودیدونکو توکو په داسې توګه او داسې ځای کې چاودول چېرته چې د تعبيه شوې چاودیدونکې وسلې د چاودنې اغيزې نه شي کېدلای محدودې شي، لکه د فشار په ذريعه د چاودیدونکو توکو په هغو سړکونو ښخول چې هلته ملکی وګړي تګ راتګ کوي.

---

[58] که څه هم په موخه سز ډول د ملکي وګړو وژنه د بشر پالنې د نړيوال قانون له مخې په واضح ډول ممنوع ده، د تعبيه شويو چاودیدونکو توکو بې توپيره خصوصست او دهغو نا متناسبه اغيزې د دغه تاکتيک سره بوځای دي.

[59] د دولت ضد عناصرو تعبيه شوي چاودیدونکي توکي ځاي پرځاي کړي دي چې ورسره د فشار په ذريعه فعالېدونکې ماشه هم يو ځای وه چې په ترانزيتي لارو د پياده کسانو لپاره دکوچنو لارو څخه واخله تر لويو لارو پورې رسيږي چې له امله يې ملکي وګړي مړه او ژوبل کيږي، که څه هم هغوي پلي وي اوکه پر بايسکلونو او يا بسونو، ټکسي ګانو او شخصي موټروکې سپاره وي.

د تعبیه شوی چاودیدونکو توکو له امله په سیمه ییز ډول د ملکی خلکو مرګ ژوبله
د جنوری - جون ۲۰۰۹ - ۲۰۱۳



د ۲۰۱۳ کال په لومړيو شپږو مياشتوکې، يوناما په ټولو ۳۲ ځانمرګو او ډله ييزو بريدونوکې ۶۲۴ ملکي تلفات (۱۴۹ تنه وژل شوي او ۴۷۵ ژوبل شوي) ثبت کړي دي.دا د ۲۰۱۲ کال د همدغې مودې په پرتله په ملکي تلفاتوکې ۲ سلنه کمښت په ډاګه کوي.[62] د ملکي تلفاتو په ارقاموکې چې د ځانمرګو او ډله ييزو بريدونو له لارې هغه ملکي تلفات نه دي شامل چې په هغوکې د لومړني تاکتيک په توګه د ځانمرګي بريد د وسلې څخه کار اخستل شوی دی.[63]

ځانمرګي بريدونه د خپل نوعيت له مخې د هغو بريدونو څخه واخله چې د يو تن له خوا يا هم د واسکټ په اغوستو سره او يا هم د موټر بم د چاودېدونکو توکو له لارې تر سره شوي دي ترګټو ځانمرګو بم چوونکو پورې رسيږي چې ډله ييز بريدونه تر سره کوي او په هغوکې په زياته شمېره کې جنګيالي شامل وي.


د دولت ضد عناصر په عامه ځايونوکې دځانمرګو بريدونو بېلابېلو ډولونو ته ادامه ورکوي. ملکي وګړي په داسې ځايونوکې؛ لکه دولتي دفترې،دګڼې ګوڼې مارکېټونه، داسې ځايونه چېرته چې قبايلي مشران را ټولېږي او ملکي دفترونوکې تر هدف لاندې راځي. د بېلګې په ډول د جون په ۳ نېټه يوه ځانمرګي چې پر يو موټر سايکل سپور و په ځان پورې تړلي چاودېدونکي توکي يې هغه مهال و چاودول چې د پکتيا د ولايت د څمکنو په ولسوالۍ کې د اساف يوکتار د هلکانو د لسېې تر څنګ تېرېدو. دغې چاودنې لس هلکان و وژل او نور ۱۵ ملکي وګړي يې ژوبل کړل چې په هغوکې ماشومان هم شامل وو.

دغه ډول بې توپيره بريدونه د بشرپالنې د نړيوال قانون له مخې ممنوع دي اوپه جنګي جرمونوکې به وشمرل شي. د بريدونو هغه نمونې چې په ۲۰۱۳ کال کې رامنځ ته شول:

- د جون په ۱۱ نېټه دکابل د ولايت دکابل په ښارکې يوه ځانمرګي بريدګر په موټرکې ځای پر ځای کړای شوي چاودېدونکي توکي دګڼ شمېر ملکي مني-بسونو په تم ځای کې چې د سترې محکمې مامورين يې لېږدول وچاودول. په موټرکې دغو ځای پر ځای کړا ی شويو چاودېدونکو توکو ۱۷ تنه مامورين چې په کې دوه مېرمنې هم شاملې وې و وژل او نور ۴۰ تنه يې (چې په کې د محکمې کارکوونکي شامل وو) ټپيان کړل. طالبانو د بريد پړه په غاړه واخستله.
- د جون په درېيمه نېټه، د پکتيا د ولايت د څمکنو په ولسوالۍ کې يو ځانمرګي بريدګر چې پر موټرسايکل سپور و خپل چاودېدونکي توکي د يوه نړيوال نظامي کتار په وړاندې چې د څمکنو لسېې ته نږدې روان و وچول. په دغه بريدکې ۱۲ تنه ملکي وګړي و وژل شول چې په هغوکې لس تنه يې د لسېې زده کوونکي وو او نور ۱۵ تنه ټپيان شول.

[62] يو ناما ۱۷۵ مړينې او ۴۵۹ ژوبلې دهغو ځانمرګو او پېچلو بريدونو په ترڅ کې ثبتې کړي دي چې د ۲۰۱۲ کال په لومړيو شپږو مياشتوکې رامنځته شوي دي.

[63] لکه چې يوناما هر ملکي تلفات يوځل مستندکړي دي، د ملکي تلفاتو هغه شمېره چې د ځانمرګو بريدونو له امله رامنځته شوې ده لوړه ده. د بېلګې په ډول هغه پېښې چې په کې يو ځانمرګي بريدګر يو لوړ پوړی دولتي چارواکی په نښه کړی دی او د يو جومات دننه يې ځان ته چاودنه ورکړې ده د ځانمرګي بريد د يو ډول په توګه ثبت شوی دی، د تعبيه شوې چاودېدونکې وسلې له لارې او يا هم د ,ځانمرګي بريد, تر نامه لاندې د،موخه ييز، بريد په نامه مستند شوی دی، يوناما د هدفي وژنو جلا جلا۱۰ پېښې ثبتې کړي دي چې د تعبيه شويو چاودېدونکو توکو د تاکتيکونو له لارې ترسره شوي دي چې د هغو په پايله کې ۲۸ ملکي مړينې او ۵۱ ژوبلې رامنځته شوي دي.


د دولت ضد وسلوالو تاکتیکونو کې د ملکي مرګ ژوبله
د جنوري - جون ۲۰۰۹ - ۲۰۱۳
500
400
300
200
100
0
253
80
146
365
181
183
394
176
300
327
243
175
443
313
149
2009
2010
2011
2012
2013

### وژل جنګي جرم: په عمدي ډول د ملکي وګړو وژنې او د هغوي پر خلاف بربدونه

د طالبانو نوې ډلې زما د تره زوي و تښتاوه او د دوو میاشتو لپاره یې د ځان سره اسر وساتو. د سپین ږیرو دمنځګړتیا سره سره طالبانو هغه خوشې نه کړ. په پای کې د هغه جسد ومندل شو. موږ ټول پوهیږو چې د طالبانو نوې ډلې هغه و واژه او دغه ډله دلته د قیصار په ولسوالۍ کې فعاله ده. زما د خپلوان د وژلو لپاره انګیزه د نوموړي هغه اړیکې وې چې دمو لوړ پوړي عدلي چارواکي سره یې درلودلې.
- د ۲۰۱۳ کال د مارچ په ۶ نېټه د فارياب د ولایت د قیصار په ولسوالۍ کې د وژل شوي ملکي کس خپلوان.[64]


د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې یوناما ګڼ شمېر زیاتېدونکې هغه پېښې مستندې کړي دي چې د دولت ضد عناصرو په عمدي ډول ځانګړي داسې ملکي وګړي په نښه کړي او وژلي دي چې هغوي دولتي دندې درلودلې او یا هم دا چې ګومان وربانديې شوی دی چې د دولت او امنيتي ځواکونو ملاتړ یې درلود. د دولت ضد عناصرو ملکي وګړي تر هدف لاندې راوستي او د خپلو موازي عدلي قضايي جوړښتونو د لارې یې هغوي اعدام او یا هم د تښتولو وروسته وژلي او یا یې بل ډول هدفي وژنې ترسره کړي او په دولتي موسسو یې بریدونه کړي دي. په ډېری پېښوکې طالبانو پخپله عامه وب پاڼه کې د دغو وژنو مسوولیت منلی دی.

د ژنو د کنوانسیونونو د دریمې مشترکه مادې له مخې چې په افغانستان کې په وسله واله شخړه کې پر ټولو اړخونو د طالبانو په شمول د تطبیق وړده هغه وژنه[65]، تاوتریخوالی، د قانون څخه د باندې اعدامونه، شکنجه، شلشوټ کول او د ملکي وګړو په وړاندې د تاو تریخوالي نور ډولونه[66] په ټولو وختونو او ټولو ځایونوکې ممنوع دي.

---

[64] د ۲۰۱۳ کال د مارچ د میاشې په ۶ نېټه د فارياب د ولایت د قیصار په ولسوالۍ کې د قرباني د خپلوان سره د یوناما مرکه.

[65] د وژلو جنګي جرم چې د جرمونو دنړیوالې محکمې د نړیوالې جنایي محکمې د روم د اساسنامې سره سم تعریف شوی دی یوناما , د ملکیانو د عمدي وژنې , اصطلاح کاروي چې په دې کې هدفي وژنې هم شاملې دي، څو چې یو داسې نومول شوی عمل کوم چې د


د دولت ضد ولسوالو لخوا د هدفي وژنو په پایله کی د ملکی کسانو مرګ ژوبله
د جنوري ـ جون ۲۰۰۹ ـ ۲۰۱۳
مرینه
تپیان
ټول
80
9
89
181
23
204
176
51
227
243
101
344
313
131
443
2009
2010
2011
2012
2013

د دولت ضدعناصرو په تره بیا د طالبانوله خوا د ملکیانو په هدفي وژنوکې زیاتوالی د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې ادامه موندلې ده چې په دغو ملکیانو باندې د دې ګومان شوی چې هغوي د نړیوالو نظامي ځواکونو او یا هم د افغان دولت ملاتړي وو. یوناما په ټول افغانستان کې داسې پېښې ثبتې کړي دي چې له مخې یې د دولت ضد عناصرو په عمدي توګه قبایلي مشران، مذهبي مشران، ملکي دولتي مامورین، ملکي وګړي په دې تور چې ګواکې هغوي دولت ته جاسوسي کوله تر هدف لاندې نولي دي، او همدارنګه د ټولنو مشران او د پولیسو او ملي اردو هغه افسران چې په نظامي دندوکې نه وو او د ملکي قانون د تنفیذ په دندو اخته وو ترهدف لاندې راوستي دي.

د نمونوي قضیې تحلیل: د لوګر په ولایت کې هدفي وژنې

د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې، یوناما د لوګر په ولایت کې په لسو بیلابیلو د هدفي وژنو د پېښو په ترځ کې د ۱۴ ملکي وګړو مړینې مستندې کړي دي. دا د ۲۰۱۲[71] کال د همدغې مودې په پرتله ۳۶۷ سلنه زیاتوالی ښیي. په ډېري پېښوکې د دولت ضد عناصرو دولتي ملکي  مامورین، د سولې د شورا غړي، قبایلي مشران او نور ملکي کسان په دې وجه د برید هدف ګرځولي ، چې ور باندې د دولت د ملاتړګومان شوی دی. د بېلګې په ډول د جون په ۱۶ نېټه، یوې وسله والې ډلې چې د حقاني په شبکې پورې یې تړاو درلود د لوګر د ولایت د برکي برک په

[71] په ۲۰۱۲ کال کې یوناما د لوګر په ولایت کې د ملکي وګړو درې هدفي وژنې مستندې کړي دي.

ولسوالۍ کې دوه محلي مشران چې د هغه ځاي د پرمختايي شورا غړي وو په ډزو سره و وژل؛ له هغو څخه یو همدارنګه د لوګر د ولایت د سولې د شورا غړی و.

د لوګر په ولایت کې د هدفي وژنو زیاتوالی په دغه ولایت کې د سیاسي او امنیتي تحولاتو او تحرکاتو د بدلون ښکارندوی دی. په داسې حال کې چې د ملکي وګړو مړینې په عمومي توګه د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو، هوایی عملیاتو او نورو تاکتیکونو له امله ۲۱ سلنه کمښت موندلی دی، هدفي وژنو او ځمکنو نښتوکې زیاتوالی راغلی دی.

په ۲۰۱۳ کال کې د لوګر په ولایت کې د اساف او افغان ملي امنیتي ځواکونو، د افغان سیمه ییز پولیسو په ګډون شتون زیات شوی دی، چې په دودیز لحاظ د دولت ضد عناصرو په قوي مرکزکې په تیره بیا د برکي برک او پل علم په ولسوالیوکې مقابله کوي. دغو ولسوالیوکې همدارنګه د دولت پلوه ځواکونو او د دولت ضد عناصرو تر منځ (ځمکنۍ نښتې، د تا لاشۍ او هوایی بریدونه) زیات شوي دي. د دې سربیره په دغو ولسوالیوکې په دې وروستیو کې افغان سیمه ییز پولیس ځواکونه هم ځاي پرځاي کړای شوي دي. د دې لپاره چې د دولت د حضور د پراختیا سره یې مقابله کړي وي د دولت ضد عناصر د هدفي وژنو څخه د دې لپاره کار اخلي چې محلي متنفذین، د دولتي مامورینو دکورنیو غړي او د سولې د ولایتي شورا غړي و ډاروي.

په عمدي توګه د ملکي وګړو هدف ګرځول د دې څخه سرچینه اخلي چې د دولت ضد عناصر محدود ظرفیت لري او نه شي کولای چې په اغیزمن ډول له امنیتي ځواکونو سره په جګړه کې ښکیل شي او د قانوني جنګي تاکتیکي لپاره تاکتیکي دلیل پیدا کړي. دغه حالت د دې سبب ګرځېدلی چې دوی په نا انډوله تاکتیکونو تکیه کوی لکه په تیره بیا د لوړ پوړو شخصیتونو هدفي وژنې، تهدیدونې او ډارونې. دغه ډول تاکتیکونه همدارنګه کیدلای شي چې د دې لپاره یوه لاره وي څو په محلي وګړو باندې خپل نفوذ اوکنټرول زیات کړي.

د وژنو له لارې د ویرې "خپرول"

د دولت ضد عناصر همدا شان د ملکي وګړو د وژنو څخه د یوې وسلې په توګه کار اخلي څو د افغانستان په بیلا بیلو برخوکې ملکي وګړوکې ویره او وحشت راولي او هغوي ډاروی. یوناما په ګڼه شمیره کې داسې بیلګې ثبتې کړي دي چې د هغو له مخې د دولت ضد عناصرو په عمدي ډول ملکان وژلي دي څو چې هغوي د دولت سره د ملاتړ د درلودلو له امله مجازات کړي، د هغوي په وژنې سره د دولت ضد عناصر غواړي چې نورو ته خبرداری واستوي.

- دمارچ په ۱۵ نېټه، د دولت ضد عناصرو دوه تنه اهنګران چې دکندهار د ولایت د پنجوایي په ولسوالۍ کې د یوه ساختماني شرکت له خوا استخدام شوي وو وتښتول. دواړه نارینه په ګولو وژل شوي او بیا د ونو څخه ځوړند شوي څو چې نورو ته یو خبرداری وي. کلیوالو ټولنو راپور ورکړی دی چې د دولت ضد عناصرو د دغو ونو د لاندې ځاي پرځاي کړای شوي چاودیدونکي توکي ایښي وو څو چې کورنۍ ونه کړای شي د خپلوانو جسدونه د ونو څخه لیرې کړي.
- د جنورۍ په ۱۴ نېټه طالبانو د میدان وردک د ولایت د چک په ولسوالۍ کې د یوې نا دولتي موسسې یوه ښځینه کارکوونکې وتښتوله او بیا یې و وژله. د هغې مړی یې د نوموړې دکورنیو غړو ته د یوه یاد داښت

سره واستولو چې په دغه ناد دانښت کې راغلي وو چې هر څوک د دولت ملاتړکوي نو د همدغه شان برخه لنک سره به مخ کېږي.

- د جنورۍ په ۲۶ نېټه د طالبانو یوې ډلې دکنړ د ولایت د پېچ په دره کې دوه قومي مشران وتښتول او بیا یې په دې تور و وژل چې ګواکې هغوي د دولت پلوه ځواکونو لپاره جاسوسي کوله. کلیوالو د مړو جسدونه درې ورځې وروسته وموندل.

د ملکي وګړو د وژنې د ممنوعیت سربېره د بشر پالنې نړیوال قانون په واضح ډول د تاوتریخوالي هغه اعمال چې لومړنۍ موخه یې د ملکیانو تر منځ ترهګري او وحشت خپرول وي منع کوي.[72]

د ملکي وګړو په هدفي توګه د وژنو مثالونه او ځینې نمونې په لاندې ډول دي:

- د جون په ۸ نېټه، دکنړ د ولایت د مرورې په ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو د معارف په یو چارواکي چې دکنړ د پوهنې د ریاست لپاره یې کارکاوه په داسې حال کې په ډزو ټپي کړ چې نوموړی دغې ولسوالۍ ته د ښوونځیو د تفتش او څارنې لپاره ورغلی و.
- د مۍ په ۳۱ نېټه، د خوست د ولایت د باک په ولسوالۍ کې طالبانو د اووم ټولګي زده کوونکي وتښتاوه او بایې و واژه. دغه قرباني شوی هلک یو شاعر و چې د طالبانو ضد ترانه یې ویله.
- د مۍ په لومړۍ نېټه، د هلمند د ولایت دګرشک په ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو د والي د مرستیال او د ولایت د سولې د شورا د رئیس کتار تر برید لاندې را وست چې په بریدکې یې د سولې شورا رئیس او دوه ساتونکي و وژل او نور څلور تنه یې ټپیان کړل،
- د اپریل په ۲۷ نېټه، د ننګرهار د ولایت د ده بالا په ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو یو محلي ملا امام چې جومات ته په لاره و په ډزو و واژه، د راپور له مخې دغه ملا ځکه تر هدفي برید لاندې راغی چې هغه د ملي اردو د یو تن افسر د جنازې مراسم چې د دولت ضد عناصرو له خوا وژل شوی و تر سره کړي وو.
- د اپریل په ۲۳ نېټه، د دولت ضد عناصرو د فارباب د ولایت د پښتون کوټ د ولسوالۍ د څارنوال د سپرلۍ پر موټر برید وکړ چې په ترڅ کې یې څارنوال،د هغه مرمن، درې محافظان او د نوموړي ډرایور و وژل. طالبانو پخپله وېب پاڼه کې د دغه برید مسوولیت پر غاړه واخست.
- د جنورۍ په ۱۳ نېټه، د هلمند د ولایت دکجکي په ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو یوې ډلې د افغانستان د ماین پاکۍ د همغږۍ د موسسې(مکا) یو تن ماین پاکوونکی په ډزو هغه مهال و واژه چې نوموړي د دولت ضد عناصرو د ملاتړ څخه انکار وکړ.

د متوازي عدلي جوړښتونو سزاګانې

د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ۱۴ ملکي وګړو وژنې او دځلورو نورو ژوبلې چې دغو ملکي کسانو ته د دولت ضد عناصرو له خوا د سزاګانو او اعدامونو په توګه ورکړل شوې وې

[72] د ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ نېټې د ژنو دکنوانسیون د الحاقه پروتوکول د ۱۳ مادې او په غیر نړیوالو وسله والوجګړو کې د قربانیانو د محافظت ( دویم پروتوکول )، د ۱۹۷۷ کال د جون ۸، ۲. " ملکي نفوس او همدارنګه منفرد ملکي اشخاص باید د برید موخه ونه ګرځي. د تهدید او تاوتریخوالي عملونه چې لومړنۍ موخه یې د ملکي وګړو ترمنځ د ترهګرۍ او وېرې خپرول وي ممنوع دي".

مستندکړي دي.[73] دا د ۲۰۱۲[74] کال د همدغې مودې په پرتله ۸۰ سلنه زياتوالي په ډاګه کوي. په ډېري پېښوکې چې په ۲۰۱۳ کال کې شوي دي دولت ضدعناصرو هغه ملکي کسان اعدام کړي دي چې د دولت لپاره په جاسوسۍ او يا هم په نورو جنايي اعمالو لکه څنګه چې يې د دولت ضد عناصر تعريفوي تورن وو. يوناما دا څرګندوي چې متوازي عدلي جوړښتونه غېر قانوني دي او د افغانستان د قوانينو له مخې مشروعيت نه لري. هغه سزاګانې چې د دغو جوړښتونو له خوا عملي شوي دي د بشري حقونو څخه په سرغړونو او د افغانستان د قوانينو له مخې په جنايي جرمونوکې او په ځينو حالاتوکې په جنګي جرمونوکې راځي.

متوازي عدلي او قضايي جوړښتونه د افغانستان په ډېرو سيموکې مستند شوي دي او تر ټولو د مخه په هغو سيموکې چې د دولت ضد عناصرو په ولکه کې دي.[75] په ځينو حالاتوکې متوازي عدلي جوړښتونه په ټولنو باندې په زور او جبر د مظنونينو په فزيکي لحاظ له منځه وړلو، د دوي د پريکړو په عملي کولو، تهديدونو، ډارونو او ازارونو سره تحمل شوي دي. په نورو حالاتوکې بيا داسې ښکاري چې ټولنو د دغو جوړښتونو څخه د رسمي عدلي مکانيزمونو پرځاي کار اخستی دی او قضيې يې موازي ,محکمې, ته راجع کړي دي. د جوزجان د ولايت د درزاب او قوش تيپې په ولسوالوکې کلىوالو ټولنو راپور ورکړ چې په هغو سيموکې چې د طالبانو دکنټرول لاندې دي دولت په دې ونه توانيدلو چې د خلکو شکايتونو او جنايي موضوعاتو ته غبرګون وښايي. د ټولنو د استازو په وينا چې په بيلابيلو محلاتوکې ورسره مرکې وشوې و ويل چې دغه ډول حالات د دې لامل شول چې محلي وګړي د خپلو جنايي قضيو د حل لپاره طالبانو ته مراجعه وکړي.[76]

طالبانو پخپله وب پاڼه کې د موازي عدلي جوړښت د لارې د مجازاتو نوې مشخصې پېښې ته په اشاره د دغه جوړښت د لارې د نوې ,محاکمې, د جريان په اړه معلومات ورکړي دي.[77] دغې اعلاميې کې راغلي دي چې دغه شان ,عدلي, اجراات د ملکي وګړو په اړه د بيلابيلو عملونو په برخه کې تر مجازاتو د مخه صورت نسيي. په تفصيلاتوکې د دغو پروسو د جوړښت په اړه معلومات راغلي دي او په کې يې د , قانوني واک, څو پراووونه ياد کړي دي. دغې اعلاميې کې راغلي دي چې د وسله والې شخړې پرته نوې قضيې کې طالبانو د جون په ۸ نېټه د

---

[73] يوناما د متوازي قضايي جوړښتونو اعدامونه د نوه مشخص کس چې د مجرم په فزيکي حراست کې دی (د هدفي وژنې پر خلاف چې په هغې کې قرباني د مجرم په فزيکي حراست کې نه دی) د ارادي، د وړاندې څخه د پلان شويو او عمدي وژنوپه ډله کې شمري، کله چې وژنه د مجازات کولو په موخه ترسره کيږي، ياني د نو مذهبي مشر د دې له امله وژنه چې هغه د افغانستان د ملي اردو د منسوب د مړي مراسم د دې سره چې ورته د نه اداء کولو لپاره خبرداري ورکړل شوی تر سره کړي. يوناما دغه ډول پيښې د ؛ قتل؛په توګه لکه څنګه چې د بشر پالنې نړيوال قانون يې تعريف کړی دی په افغانستان کې په غېر نړيواله شخړه کې د پلي کولو وړ دی، شمري. د قتل په اړه د جنګي جرم په ۵۹ ګڼه پابلک کې يې وګورئ.

[74] يوناما دا مستنده کړې ده چې د ۲۰۱۲ کال په لومړيو شپږو مياشتوکې ۱۰ ملکي وګړي و وژل شول. د يوناما د ۲۰۱۲ کال د نيمې راپور د ملکي وګړو د ساتنې په اړه په

.http://unama.unmissions.org/Defaults.aspx?tabid=12265&language=en-USکې وګورئ.

[75] يوناما دغه ډول دمجازاتو پيښې د افغانستان په ټولو سيموکې پرته د مرکزي لوړی سمو څخه مستندې کړي دي.

[76] د جوزجان د ولايت د شبرغان په ښارکې د قوش تيپې د ولسوالۍ څخه د ټولنې د استازو سره د يوناما مرکې، د جوزجان ولايت د ۲۰۱۳ کال د جون ۲۲ نېټه.

[77] د طالبانو نيوز اپډيټ: " د پشتون زرغون په ولسوالۍ کې د اختطاف کوونکي مجازات" د ۲۰۱۳ کال د جون ۹ نېټه، په http://shahamat-english.com/index.php/news./32558-kidnapper-handed-penalty-in-pashtoon-zarghoon.accessed 8 July 2013. کې وګورئ

هرات په ولایت کې یو تن اعدام کړ چې هغه د اختطاف په تور نیول شوی و. طالبانو پخپله وب پاڼه کې د دغه اعدام مسوولیت په غاړه واخست او د سرته رسول شوي ,قضایي, اجرااتو تفصلات چې هلته یې صورت نیولی وړاندې کړل. د طالبانو په قول دغه مظنون په درې جلا جلا قضایي محکموکې: د ولسوالۍ، ولایت او د اسلامي امارت په عالي محکمه کې وړاندې تر دې چې اعدام شي[78] ,محاکمه, او ,محکوم, شو.

په ۲۰۱۳ کال کې د موازي عدلي جوړښتونو د مجازات کولو نور مثالونه:

- د جون په ۷ نېټه، دکنړ د ولایت د ناړۍ په ولسوالۍ کې د طالبانو یوې ډلې د یو تن قراردادی چې د افغان ملي سرحدي پولیسو له خوا ورسره قراداد شوی و چې په سمه کې د سرحدي پولیسو پوستو ته د سون لرګي او اوبه برابرې کړي سر پرې کړ. دغه قرباني مخکې له دی چې ووژل شی د طالبانو لخوا د جون په ۶ نېټه اختطاف شوی و.
- د مۍ په ۲۷ نېټه، د جوزجان د ولایت د قوش تپه په ولسوالۍ کې طالبانو یو تن ملکي کس چې وړاندې تردې ورته څو واره تهدید شوی و و واژه. دغه قرباني د یوه ثانوي ښوونځي سر ښوونکی او دیوې نړیوالې نا دولتي موسسې کارکوونکي و. د راپور له مخې د طالبانو تش په نامه د قوش تپې ولسوال د راپور له مخې نوموړي سر ښوونکي یوې غونډې ته را وبللو اوکله چې نوموړی غونډې ته ورغي نو هلته یې و واژه.
- د مۍ په ۱۳نېټه، د فراه دښار یو تن محلي ملکي کس د طالبانو د یوې ډلې له خوا اختطاف شو او بیا وروسته و وژل شو. د ټولنې د غړو د راپور له مخې طالبانو دغه قرباني د دې له امله و واژه چې د هغوی په ګومان د ملي امنت د ریاست سره یې تړاو درلود.

د ملکي حکومتي ادارو او دفترونو په ارادي ډول هدف ګرځول

یوناما دا مستنده کړې ده چې د دولت ضد عناصرو له خوا د حکومتي ملکي کارکوونکو، دولتي دفترونو، د ولسوالیو د مرکزونو او نورو دولتي ملکي تاسساتو د په نښه کولو له امله د ملکي تلفاتوکچه ۷۶ سلنه پورته شوې. یوناما د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې ۱۱۴ ملکي وژنې او ۳۲۴ ژوبلې (ټولټال ۴۳۸ ملکي تلفات) په دغه ډول ۱۰۳ بریدونوکې ثبت کړي دي.[79] دغو ۴۳۸ ملکي تلفاتوکې هغه مړګ ژوبله چې د ملکي حکومتي کسانو د هدف ګرځولو د لارې، دتعبه شویو چاودیدونکو توکو د چاودنې، د پیچلو ځانمرګو بریدونو د لارې د دولتي ملکي دفترونو، د دندې څخه د باندې په پولیسو، او هغو پولیسو چې د قانون د تنفذ او حاکمت لپاره دنده تر سره کوي او د ځمکنو نښتو په پایله کې چې د دولت ضد عناصرو له خوا د حکومتي ملکي تاسساتو لکه د ولسوالیو د دفترونو او نورو په مقابل کې تر سره شوي دي، رامنځته شوي دي.

که څه هم یوناما د حکومتي ملکي کارکوونکو پر ضد زیاته شمرکې بریدونه د هواد په ختیځ کې او بیا وروسته په سهیل ختیځ کې ثبت کړي دي، د ملکي کسانو د تلفاتو زیاته شمر چې په ترڅ کې یې حکومتي ملکي کارکوونکي د بریدونو هدف ګرځدلي دي دکابل په ولایت کې ثبت شوې ده. د فراه ولایت د دغه ډول بریدونو په لړکې

[78] تېر ماخذ

[79] په ۲۰۱۲ کال کې یوناما ۶۱ ملکي مړینې او ۱۸۸ ژوبلې (ټولټال ۲۴۹ ملکی تلفات) د ۷۲ بریدونو په پایله کې چې د ملکي دولتي پرسونل او ملکي حکومتي دفترونوپه وړاندې تر سره شوي دي مستندې کړي دي.

دوهمه درجه کې تلفات لبدلي دي. د هغو بریدونو په ګډون چې د اپریل په ۳ او د جون په ۱۱ نېټو د فراه د ولایت د محکمې او د سترې محکمې په دفترونو باندې وشول او په پایله کې یې په فراه کې ۱۳۸ او په کابل کې ۵۷ ملکي تلفات رامنځته کړل.

د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې، یوناما څلور جلا جلا داسې بریدونه ثبت کړي دي چې نغ په نغه یې عدلي او قضایي چارواکي په نښه کړي دي چې په کې فراه، کابل، فارياب، او د هلمند ولایتونه شامل دي چې د هغو په پایله کې ۵۷ مړینې او ۱۴۵ ژوبلې (۲۰۲ ملکي تلفات) رامنځته شوي دي.

یوناما بیا تکراروي چې د نړیوال بشر دوستانه قانون له مخې د ,ملکي, وګړو تعریف کې ټول هغه کسان شامل دي چې هغوي د وسله والو ځواکونو غړي نه دي اونه هم نغ په نغه شخړو کې برخه اخلي لکه ملکي عدلي چارواکي. ملکي هدفونه هغه ملکي دولتي اداري ودانۍ تر هغه نظامي اهداف نه دي تر څو د هغوي څخه د نظامي موخو لپاره کار واخستل شي. په عمدي توګه د ملکي کسانو او ملکي هدفونو په نښه کول د ژنو د کنوانسیون څخه په ناوړه توګه سرغړونه ده او یو جنګي جرم دی.

## د مذهبي شخصیتونو اود عبادت ځایونو پر خلاف بریدونه

دیني پوهان او عالمان همیشه تر خطر اوګواښ لاندې دي. شورشیان ډیرځله موږ ته خبرداری را کوي. د بېلګې په ډول د شینوارو د ولسوالۍ څخه یو ملا هغه مهال تر وهلو ټکولو لاندې راغی کله چې هغه د ملي اردو د یوه سرتیري د جنازې مراسم ترسره کړل. بل ملا په اوه ویشتمه وباله کې وروسته له هغې و وهل شو چې هغه د ملي اردو د یوه سرتیري جنازه وکړه. ما د طالبانو له خوا ګڼې شمیرکې اخطاریه ټیلفونونه تر لاسه کړي دي چې په هغوکې یې راته وییلي دي چې د ملي اردو، ملي پولیسو، ملي امنیت او د افغان ملي سرحدي پولیسو جنازې ونه کړم. ما ته د داسې پیښو په اړه وویل شوي دي چې په کې طالبانو هغو ملایانو ته سزاګانې ورکړي او یا یې هم وژلي دي چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د منسوبینو د جنازو مراسم یې تر سره کړي دي. طالبانو په یوې ولسوالۍ کې بل یو ملا د دې له امله و وژلو چې هغه د ملي اردو د یوه تن افسر جنازه کړې وه. بل ملا د طالبانو له خوا په بله ولسوالۍ کې د ملي پولیسو د افسر د جنازې د مراسمو د اداء کولو په پایله کې و وژل شو. څو میاشتې تر مخه یو شمیر ملایان د حج او اوقافو په ریاست کې سره را ټول شول او خپلې اندیښنې یې د حج او اوقافو د ریاست د مشر سره شریکې کړې. موږ ځانونه مصوون نه احساسوو نو له همدې کبله موږ ډیر احتیاط کوو چې د دغه شان حساسې مسلې په اړه څه وکړو. موږ د حج او اوقافو رئیس ته و ویل چې د جلال اباد ملایان باید په لړې سیموکې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د سرتیرو د جنازو د مراسمو د اداء کولو لپاره لېږې پرتو سیمو ته واستول شي ځکه چې هغوي بیرته ښار ته راستنداې شي. موږ په امن کې نه یو ځکه چې موږ په کلیوکې د خپلوکورنیو سره اوسیږو چې هلته افغان امنیتي ځواکونه زموږ دفاع نه شي کولای.

- - د ننګر هار ولایت څخه یوتن متنفذ دینی عالم، د ۲۰۱۳ کال د جولای ۲۲ نېټه[80]

[80] د یوناما مرکه، د جلال اباد ښار د ننګرهار ولایت، د ۲۰۱۳ کال د جولای ۲۲ نېټه.

د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ملایانو پرضد د نوو تهدیدونو او بریدونو دګواښونو یوه لړۍ مشاهده کړې ده او ۱۴ پیښې یې مستندې کړي دي چې په هغوکې عبادت کوونکي او د عبادت ځایونه (جوماتونه) نغ په نغه تهدید شوي او تر برید لاندې راغلي دي چې له امله یې اوه تنه ملکي وژل شوي دي.[81] په ډیری دغو بریدونوکې هغه ملایان تر هدف لاندې راغلي چې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د وفات شویو او هغوکسانو د جنازو مراسم یې تر سره کړي دي چې د افغانستان د دولت څخه یې په عامه ډول ملاتړکړی دی.[82]

یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د تهدیدونو داسې نمونې مستندې کړي دي چې په هغوکې یې ملایانو ته اخطارونه ورکړي دي څو هغوي د افغان ملي امنیتي ځواکونو د وفات شویو غړو د جنازو مراسم تر سره نه کړي او نه هم په دغو مراسموکې برخه واخلي.

یوناما ګڼ شمیر پیښې په فراه، بغلان، کاپیسا،میدان وردک، لوګر، ننګرهار، کنړ، لغمان، بغلان، غزني، خوست، پکتیکا، پکتیا، هلمند، اروزګان، او دکندهار په ولایتونوکې مستندې کړي دي. په ډیري پیښوکې یې دا مستنده کړې ده چې په هغوکې ملایانو دغه اخطارونه له پامه غورځولي دي چې بیا په دغو تهدیدونوکې زیاتوالی راغلی دی، او په ځینوکې د وهلو ټکولو، اختطافونو او موخه یېزو وژنو لامل شوي دي.[83] یوناما ګڼ شمیر قضیې مستندې کړي دي چې په هغوکې د دولت ضد عناصرو د افغان ملي امنیتي ځواکونو د یوه وفات شوي غړي د جنازې مراسم په کوچنیو وسلو او د ځاي پرځای کړای شویو چاودیدونکو توکو په وسله نغ په نغه تر برید لاندې راوستل.[84]
په ګڼ شمیر سیموکې ملایانو د ملي امنیتي ځواکونو دغړو د جنازې په مراسموکې د دولت ضد عناصرو د ویرې او انتقام اخیستنې له امله ګډون نه دی کړی. د بېلګې په ډول د پکتیا ولایت دګردیز په ښارکې د حج او اوقافو د ریاست په وینا کله چې د حج او اوقافو ریاست د یو ملا څخه د جنازې په مراسموکې دګډون غوښتنه کوي، هغه معمولآ اشتراک نه کوي.[85] د ۲۰۱۳ کال په لومړیوکې د بادغیس په ولایت کې د راپور له مخې د طالبانو د ویرې له

---

[81] د زیاتې نا امنۍ، لیرې پرتوکلیو او ټولنو ته د رسیدنې نشتوالي اود محدودیتونو له امله په ورته راپورونوکې د دغه ډول پیښو نمګړی معلومات دکم راپور ورکولو لامل کیدلای شي.

[82] یوناما همدارنګه د لوګر د ولایت څخه یوه قضیه مستنده کړې ده چې په هغې کې د دغه ولایت د حج او اوقافو ریاست دا راپور ورکړی دی چې ملایانو د اساف او د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د ډارونو شکایت کړی دی، چې هغوي ملایان په دې مظنونوي چې د دولت ضد عناصرو سره اړیکي لري. دغه شکایت تر هرڅه تر مخه د تالاشۍ هغو عملیاتو ته اشاره ده چې د ۲۰۱۳ کال د مۍ په میاشت کې وشول.

[83] د مثال په ډول د ختیځ د سیمې کلیوالو راپور ورکړی دی چې که دا ولیدل شي چې ملایانو د افغان ملي امنیتي ځواکونو د وژل شوي غړي د جنازې په مراسموکې ګډون کړی، په لومړي سرکې هغوي ته اخطار ورکړل شوی، که هغوي بیا هم دغه کار ته ادامه ورکړې نو بیا د دولت ضد عناصرو هغوي په فزیکي لحاظ مجازات کړي او وژلي یې دي. د ننګرهار د ولایت د جلال اباد د ښار د یو تن ملا سره د ۲۰۱۳ کال د مۍ په۲۶ نېټه د یوناما مرکه.

[84] د بېلګې په ډول د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۲۰ نېټه د لغمان د ولایت د النګار د ولسوالۍ د پاوړي په سیمه کې د دولت ضد عناصرو د کوچنیو وسلو په ډزو سره د محلي پولیسو د یوتن غړي د جنازې مراسم تر برید لاندې راوستل. په بله پیښه کې د جون د میاشتې په ۱۴ نېټه د خوست د ولایت د متون په ولسوالۍ کې له لیرې څخه کنترولیدونکي چاودیدونکي توکی د هغې نقله وسلې په وړاندې وچاودول شو چې د یوې جنازې د مراسمو څخه راستنېدله، چې په پایله کې یې اته ملکي وګړي و وژل شول چې په مړوکې د همدغې کورنې پنځه غړي او یو تن ملا شامل وو.

[85] د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۲ نېټه دګردیز په ښارکې د حج او اوقافو د دفتر سره د یوناما مرکه.

امله محلي ملاانو د دربو افغان سمه سزو پولسو د ښخولو په مراسموکې دګډون څخه ډډه وکړه چې د دولت ضد عناصرو سره په نښته کې وژل شوي وو. په پای کې دغه مراسم د بو تن محلي ډاکټر له خوا تر سره شول چې هغه دني تعلمات درلودل.[86]

په مدان وردک ولات کې ملاانو راپور ورکړ چې هغوي خپل ځانونه او ټولني داسې محفوظې کړي دي چې د جنازو مراسم د خپلوکلو پرځای د دغه ولات په مرکز په مدان ښارکې ترسره کوي چې هغه د دولت ترکنټرول لاندې دی. د دې په پاله کې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د وژل شوبو غړو خپلوان او ملاان اکثره وخت د دې څخه ډډه کوي څو د دولت ضد عناصرو د ډاره د وژل شوبو جسدونه خپلو ولسوالو اوکلو ته ولېږدوي. لږ تر لږه د مدان ښار د شاخواو سمو څخه درې تنو ملاانو د نا امنۍ له امله خپل کورونه پرې ابنې دي ځکه چې هغوي د افغان ملي امنيتي ځواکونو د وژل شوبو غړو د جنازو په مراسموکې ګډون درلود.[87]

بوناما د هواد په کچه د حج او اوقافو د رباستونو سره مشورې کړې دي چې په هغوکې یې د دې راپور ورکړی دی چې دغه رباستونه ډېر محدود نظارتي مکانزمونه او د ساتنې ظرفت لري څو هغوي وکړای شي د هغو ملاانو سره چې ورته تهدبد شوی او ډارول شوي دي مرسته وکړي. په ډېري سموکې د حج او اوقافو رباستونه د هغو تهدبدونو او بربدونو څخه خبر وو خو په دې نه توانندل چې دغو ملاانو ته امنيتي شرابط برابرکړي، په تېره با هغوي چې په ولسوالوکې کارکوي.

د بغلان په ولات کې د حج او اوقافو رباست بوناما ته دا راپور ورکړی دی چې ملاانو ته تهدبدونه او د هغوي هدف ګرځوني نسبي نوې پدبده ده. دګواښونو او تهدبدونو په غبرګون کې د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ماشت کې دغه رباست والي ته ولکل څو هغه ملاانو او دغه رباست ته امنيتي ځواک برابرکړي. دغه غوښتنه د ولات د افغان ملي پولسو له اړخه د پرسونل دکموالي له امله رد شوه.[88] دغه شان په غزني، خوست او د پکتکا په ولاتونوکې د حج او اوقافو رباستونو راپور ورکړی دی چې هغوي د ملاانو لپاره تحفظ او امنت نه لري.[89]

د مذهب آزادي د افغانستان دکورنو قواننو او د بشري حقونو د نړبوال قانونو لاندې د ژمنو او مکلفتونو له مخې تر تحفظ لاندې ده.[90] د بشر پالنې نړبوال قانون د دې غوښتنه او پخلی کوي چې مذهبي پرسونل چې په ځانګړې ډول د دني دندو لپاره ګومارل شوی وي باند په جګړه کې د ښکلو اړخونو له خوا په ټولو حالاتوکې خوندي وساتل شی او یې درناوی وشي.[91]

---

[86] د بادغس د ولات د قادس د ولسوالۍ په دره بوم ساحه کې د بوه تن محلي مشر او د محلي پولسو د قوماندان سره د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۲۳ نتېه د بوناما مرکه.

[87] د مدان وردک د ولات په مدان ښارکې د حج او اوقافو د دفتر سره د بوناما مرکه، د ۲۰۱۳ کال د جون ماشت.

[88] د بغلان د ولات د پلخمري په ښارکې د حج او اوقافو د رباست سره د بوناما مرکه، د ۲۰۱۳ کال د مۍ ۲۲ نتېه

[89] د غزني، خوست او پکتکا په ولاتونوکې د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۲۱ -۲۲ نتېو د حج او اوقافو د رباستونو سره د بوناما مرکې.

[90] د ICCPR ۱۸ ماده:۱. " هر شخص د فکر، وجدان او مذهب د ازادۍ حق لري." ۴ ماده ۲." د ۶،۷، ۸ (لومړۍ او دوهم پراګراف) د ۱۱، ۱۵، ۱۶ او ۱۸ مادو څخه د د ې احکامو لاندې سرغړونه باند ونه شي. " افغانستان ICCPR په ۱۹۸۳ کال کې لاسلک کړی دی.

[91] دغه مکلفت چې مذهبي پرسونل باند خوندي او درناوی بې وشي په دوهمه ګڼه الحاقيه پروتوکول نهمه ماده کې راغلی دي. د مذهبي پرسونل محافظت همدارنګه په نظامي لاسوندونو او لاربښودونوکې شامل دی چې هغه د تطبق وړ دي او په غر نړبوالو وسله والو جګړوکې د پلي کدا وړ دی. ICRC او د بشر پالنې نړبوال عرفی قانون، د مذهبي پرسونل ۲۷ ګڼه مقرره.

بوناما د دې یادونه کوي چې طالبانو پخپل د ۲۰۱۰ کال په سلوکي طرزالعمل کې د جنازو پر مراسمو په رسمي توګه هیڅ ډول محدودیتونه او بندېزونه نه دي وضع کړي او نه یې هم د ملایانو په دندو نورکوم بندېزونه یادکړي.[92] د طالبانو له خوا د هغو ملایانو د تهدیدولو مشروعیت چې په اوسني حکومت کې کارکوي د ۲۰۰۶ کال په سلوکي طرزالعمل کې یاد شوی و خو بیا دغه شان طرزالعمل په نورو طرحوکې نه و موجود.[93]

د هغو پېښو نمونې چې په کې ملایان او د جنازې مراسم تر برېدونو لاندې راغلي دي:

- د جون د میاشتې په ۱۴ نېټه، د خوست ولایت د خوست(متون) په ولسوالۍ کې له لېرې څخه کنټرولېدونکې چاودېدونکې وسله د هغه موټر په مقابل کې وچاودوله شوه چې د یوې جنازې د مراسمو څخه راستنېدلو، د هغې په پایله کې آته ملکي وګړي چې په کې د همدغې کورنۍ نور پنځه غړي او ملا شامل وو و وژل شول. د جنازې دغه مراسم د هغه اوولس کلن هلک لپاره وو چې یوه میاشت تر مخه د دولت ضد عناصرو له خوا په دې تور چې دولت ته یې جاسوسي کوله وژل شوی و.
- د می په ۲۲ نېټه، دکنړ د ولایت د ناړۍ په ولسوالۍ کې طالبانو یو تن د جومات ملا امام دولت ته د جاسوسۍ په تور په ډزو و واژه، خو هغوي همدارنګه نوموړی ملا امام په دې هم متهم کړی و چې د ملي اردو د یو تن د جنازې مراسم یې هم تر سره کړي وو. طالبانو د دغې وژنې مسوولیت په غاړه واخیست او دهغه د جسد سره یې یو اخطاریه لیک هم ایښی و او په هغه کې یې نورو ملا امامانو ته دا تهدیدکړی و چې د ملي اردو د منسوبینو د جنازو د مراسمو څخه ډډه وکړي.
- د اپریل په ۱۵ نېټه، د بغلان د ولایت د بورکه په ولسوالۍ کې د ملي امنیت د یو تن همکار د وژنې وروسته او هم د هغه د جنازې د مراسمو لپاره د تیارۍ پر مهال د دولت ضد عناصرو علماوو ته اخطاریه لیکونه صادرل کړل چې د وژل شوي کس دجنازې مراسم تر سره نه کړي. یو تن ملا د ولسوالۍ د پولسو د قوماندان له خوا اړکړای شو څو دغه مراسم تر سره کړي.
- د مارچ په ۳۱ نېټه، د ننګرهار د ولایت د روداتو په ولسوالۍ کې طالبانو یو محلي ملا امام د دې له امله اختطاف کړ چې هغه د ملي اردو د یوتن وژل شوي سرتېري جنازه کړې وه. دغه ملا وروسته خوشې کړای شو او ورته اخطار ورکړل شو چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د منسوبینو د جنازو مراسم ترسره نه کړي، د دې پرته به د ناوړه پایلو سره مخ شي.
- د مارچ په ۱۳ نېټه، دکندهار د ولایت د ژړي په ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو د ژړي د ولسوالۍ ملا امام وروسته له یوې میاشتې تهدیدونو چې نوموړی دغه امامت خوشې کړي په ډزو و واژه.

## د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي وګړو ډارونې او ازارونې

---

[92] د افغانستان د تحلیل ګرانو شبکه د طالبانو د ۲۰۱۰ کال د سلوکي طرزالعمل ژباړه http://aan-afghanistan.com/uploads/Appendix_1_Code_in_English.pdf.

[93] د ۲۰۰۶ کال د سلوکي طرزالعمل له مخې: " هر هغه څوک چې د ښوونکي او یا ملا په توګه د اوسني تش په نامه دولت سره کارکوي – باید خبرداری ورکړل شي. که چېرې هغه بیا هم د دې څخه انکار وکړي څو دغه دنده پرېږدي، هغه باید و وهل شي. واضحه ده که چېرې یو ښوونکی او یا ملا د اسلام د احکامو پرخلاف تدریس کوي نو د ولسوالۍ قوماندان او یا هم دګروپ مشر دې هغه و وژني." د افغانستان د څېړونکو شبکه د طالبانو د ۲۰۰۶ کال د سلوکي طرزالعمل انګلسي ژباړه http://aan-afghanistan.com/uloads/Appendix_1_Code_in_English.pdf. د دې په پرتله د ۲۰۱۰ کال سلوکي طرزالعمل کې هغسې موارد نشته چې د هغو له مخې د ملایانو پر ضدکوم ډول اقدامات وشي.

شورشان زموږ کلي ته راغلل او هغوکورنو ته يې د چا غړي چې په افغان ملي اردوکې خدمت کوي اعلان کړه چې په جومات کې راغونډ شي. موږ د هغوي د حکم سره سم عمل وکړ. هغوی موږ ته و وسل چې ټولې هغه کورنۍ د چا غړي چې په افغان ملي اردوکې دي باید دغو د ملي اردو غړو ته و وايي چې د اردو څخه همدا اوس و وځي. هغوي بيا موږ تهديدکړو او ويې وسل چې که د دوي د وسله والو ډلو څخه څوک د ملي اردو د عملياتو په ترڅ کې و وژل شي، نو دغه ډله به دهغو کورنوکورونه د چا چې څوک په افغان ملي اردوکې خدمت کوي وسوځوي او د کورنۍ ټول غړي به يې و وژني. زه د هغه ځاي څخه بېځايه شوم ځکه چې زما زوي په افغان ملي اردوکې خدمت کوي. هغه د افغان ملي اردو څخه زما د غوښتنې سره سره هم نه شي وتلای او زه بله هيڅ چاره نه لرم پرته له دې چې د بهارک ولسوالۍ ته منتقل شم.

- د بدخشان د ولايت د وردوج په ولسوالۍ کې د يو پلار وينا چې زوي يې په افغان ملي اردوکې خدمت کوي، د ۲۰۱۳ کال د مارچ مياشت.[94]

د ۲۰۱۳ کال په لومړيو شپږو مياشتوکې يوناما ۹۰ پېښې مستندې کړې دي چې په هغوکې د دولت ضد عناصرو ملکي کسان تهديد، ډار او ازارکړي دي، چې دا د ۲۰۱۲ کال د لومړيو شپږو مياشتو په پرتله ۱۰۵سلنه زياتوالی ښکندوي چې هغه مهال يوناما ۴۴ پېښې مستندې کړې وې.[95] دغه ډول کړنې د بشر پالنې د نړيوال قانون څخه سرغړونه ده چې د هغه له مخې دغه شان د تاوتريخوالي ډک تهديدونه او اقدامات ممنوع دي چې په هغوکې لومړنۍ موخه د ملکي نفوس ترمنځ د ترهګرۍ خپرول دي.[96]

يوناما داسې پېښې مستندې کړي دي چې د دولت ضد عناصرو او د طالبانو او نورو وسله والو ډلو له خوا تر سره شوي دي لکه د تهديدونکو او اخطاريه شبنامو وشل، د پيسو غصبول،په ناقانونه کنترولي پوستوکې د وګړو وهل او ډارول، تهديدونکي تحريری پيغامونه، دشخصي او دولتي عامه ملکيتونو وېجاړول. دغه ډول کړنې زياتره د مشخصوکسانو په وړاندې چې په هغوکې چارواکي،کارمندان، هغه کسان چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو سره په تړاوکې دي، قباىلي مشران، مذهبی عالمان، روغتيايي او د پوهنې پرسونل او د بشرپالنې کارکوونکي شامل دي.

زياتره دغه شان اقدامات د افغانستان د قوانينو له مخې جنايي مسوولت لري او بايد چې د افغان چارواکو له خوا تر تفتش او تحقيق لاندې راشي. د دې سربېره ډېری پېښې د بشر ضد تېروکې شاملې دي او د ټول افغانستان په کچه د ملکي وګړو د ساتنې په مساله باندې منفي اغيزه کوي. دغه شان کړنې همدارنګه په نورو بشري حقونو لکه د تګ راتګ او خوځښت ازادي، روغتيا، پوهنې او معشتونو ته د رسيدنې په اړه اغيزه کوي.

د افغانستان په بيلابيلو برخوکې ټولنو دا راپور ورکړی دی چې هغوي هره ورځ د ازارونو، ډارونو او تهديدونو سره مخ دي چې د ملکي وګړو ترمنځ ويره او ترهګري خپروي او په دې توګه د هغوي د نا امنۍ اندېښنې زياتوي. يوناما دا مشاهده کړې ده چې د دغه ډول کړنو تر شا محرکات بيلابيل دي اوکيدای شي چې د هغو له مخې د ټولنو په ويره او وحشت کې ساتل، اويه دې توګه په يوه سيمه کې دکنټرول پراخول او همدارنګه د وسله والو ډلو لپاره مالي

[94] د بدخشان د ولايت د بهارک په ولسوالۍ کې د ۲۰۱۳ کال د مارچ په ۲۷ نيټه د يوناما مرکه.

[95] يوناما دغه ډول قضيې د تهديدونو، ډارونو او آزارونو بېلګې او نمونې ګڼي چې ټولنې ورسره مخ دي نه داچې د دغه شان پېښو لنډيز وي. د ۲۰۱۲ کال په لومړيو شپږو مياشتوکې يوناما ۴۴ پېښې مستندې کړې دي.

[96] د لومړي الحاقيه پروتوکول ۵۱(۲) ماده او د اي سي ار سي مطالعه ۸، مقرره ۲. دولتي تعاملات دغه قرار د نړيوال عرفي قانون چې په نړيوالو او غيرنړيوالو وسله والو شخړوکې د پلي کولو وړدی، رامنځته کوي.

او د پاتې کېدا د ملاتړ تر لاسه کول دي. په ځینو حالاتوکې د دې تحرکات کېدای شي چې محلي بڼه ولري او د نوې ځانګړې ډلې د پالسی انعکاس ورکونکې وي.

د تهدیدونو، ډارونو او ازارونو ډېری پېښې په هغو سموکې مستندې شوي دي چې هغه په بشپړ او یا هم نو اړخنز ډول د دولت ضد عناصرو له خوا کنټرولېږي. د بلګې په ډول د جوزجان په ولایت کې په هغو ولسوالیوکې چې هلته د دولت ضد عناصر په ځینو برخوکنټرول لري کلیوالو ټولنو د دې راپور ورکړی دي چې دغو ډلو هڅه کړې ده چې د ټولنو تر وحشت، ازار او ترهګرۍ لاندې په راوستلو سره خپل کنټرول پراخ کړي. د ټولنو استازو راپور ورکړی چې طالبان په عامه محضرکې خلک وژني ځو چې نور و ډاروي او هغوي ته دا خبرداری ورکړي چې د سرغړونې په صورت کې به د ورته اقدام سره مخ شي. په عامه محضرکې د دغه شان وژنو په تعقب په ۲۰۱۲ کال کې طالبانو د ډارولو او ازارونې کمپاین پراخ کړ او د خلکو څخه یې په زور د پیسو راټولولو ته ادامه ورکړه. دکلو د ټولنو مشرانو یوناما ته و ویل چې هغوي دازارونو، تهدید او ډارونو ډېری پېښې دولت ته د دې ډاره نه دي راپور کړي چې دوي به د دولت ضد عناصرو له خوا تر مجازاتو او سزاګانو لاندې راشي.[97]

تهدیدونه، ډارونې او ازارونې په هغو سموکې چېرته چې طالبانو د پام وړکنټرول له لاسه ورکړی دي کمې شوي دي. په هغو سموکې چېرته چې طالبانو د پام وړکنټرول تر لاسه کړی دي تهدیدونه، ډارونې او آزارونه ځینې وختونه زیات شوي دي، د بلګې په ډول په داسې ځایونوکې لکه دفراه ولایت په ځینو ولسوالیوکی.[98]

د غزني ولایت د اندړو په ولسوالۍ کې د طالبانو له اړخه تهدیدونې، ډارونې او ازارونې د راپورونو له مخې کمې شوي دي. د راپورونو له مخې د هغه پاځون څخه وروسته چې د ۲۰۱۲ کال په جریان کې د طالبانو پرخلاف وشو هلته یو ډول بدلون لیدل کېږي، محلي ټولنو یوناما ته ویلی او دا جوتوي چې طالبان د خپل حضور او پالیسو لپاره محلي ملاتړ ته اړتیا لري.[99] په داسې حال کې چې د ټولنو ځینو غړو دا څرګنده کړې ده چې د طالبانو په ازارونو کې کمښت د هغوي په پالیسو او سلوک کې د بدلون له امله دي، او ځینې نورو جوته کړې ده چې د دولتي کنټرول د زیاتوالي او د افغان محلي پولسو د شتون له امله دغه بدلون رامنځته شوی دی.[100]

---

[97] د جوزجان د ولایت د قوش تپه په ولسوالۍ کې د ټولنې د یو غړي سره د یوناما مرکه د ۲۰۱۳ کال د می ۲۲ نېټه.

[98] یوناما دا یادداښت کړې ده چې د دغه ډول بلابلو پېښو نمونې د دې څرګندونه دي چې تهدیونه، ډارونې او ازارونې چې د دولتي ضد عناصرو له خوا تر سره شوي دي د هغو محرکات او پالیسۍ تر دې وړاندې دي څو هغوي په زور سره په ټولنو اوکلیوالو خپل کنټرول پراخه کړي.

[99] د طالبانو دحضورپرخلاف،د اندړو د ولسوالۍ پاځون، دغزني د ولایت د اندړو په ولسوالۍ کې رامنځته شو او د ۲۰۱۲ کال د اپریل په ماشت کې پیل شو. د حزب اسلامي وسله والې ډلې په لومړي سرکې دغه پاځون رهبري کړ چې د هغه سره د عوامو پراخه ملاتړ وشو. د حزب اسلامي محلي مشرانو او د اندړو د ولسوالۍ اوسدونکو د راپور له مخې دغه پاځون د هغه قوي اعتراض په توګه چې یې د طالبانو له خوا د دوي د ژوندانه په چاروکې د مداخلې له کبله و، چې په کې د ښوونځیو، کلنکونو، بازارونو تړل، د تګ راتګ محدودتونه او د بیان د ازادۍ مخنوي شامل وو. د دغه خوځښت په غبرګون کې د ۲۰۱۲ کال په اکتوبرکې افغان ملي امنیتي ځواکونه د اندړو په ولسوالۍ کې ځای پر ځای شول، چې په هغوکې د ملي پولسو، او افغان محلي پولسو نو ځواکمن تشکل شامل و. همدارنګه یوناما د ټولنې د استازو سره د ۲۰۱۳ کال د می په ۲۸ نېټه د غزني په ښارکې مرکې کړي دي.

[100] د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې (د ۲۰۱۲ کال د همدغې مودې په پرتله) د دې سره سره چې د طالبانو له خوا د ازارونوکچه را ټیټه شوې او امنت په نسبي ډول ښه والی موندلی خو بیا هم یوناما د اندړو په ولسوالۍ کې په ملکي تلفاتوکې ۵۰ سلنه زیاتوالی ثبت کړی دي. کلیوالو ټولنو دا جوته کړې ده چې د هغوي د قوي امنت په اړه انګېرنه زیاتره په تګ راتګ او خوځښت کې په ازادۍ په ښه توګه تعلم او روغتیا ته په رسېدنې او د طالبانو له خوا په لږې ازارونې پورې تړلي وه.

د غزني د ولایت د ده یک په ولسوالۍ کې طالبانو په دې وروستیو کې په عامه ډول د دې اعلان کړی دی چې هغوی به نور د ملکي وګړو د ازارولو څخه لاس واخلي.[101] خو بیا هم د ده یک په ولسوالۍ کې کلیوالو راپور ورکړی دی چې طالبان لا هم هغوی تهدیدوي. تر ټولو زیاته دا د یادونې وړ ده چې طالبان د خوځنده ټیمونو د لارې د خلکو څخه ماله راټولوي، ملکیان تهدیدوي او د ملکي وګړو دکورونو څخه د خپلې اوسیدنې لپاره کار اخلي.[102]

د فراه ولایت په ځینو لیرې‌دول شویو ولسوالیو کې د نړیوالو نظامي ځواکونو په تګ سره په دغو سیمو کې د دولت ضد عناصرو کنټرول زیات شوی دی. کلیوالو ټولنو یوناما ته د دې راپور ورکړی دی چې په دغو سیمو کې تهدیدونه، ډارونې او ځورونې زیاتې شوي دي.[103] د پشت رود د ولسوالۍ څخه دکلیوالو په وینا د طالبانو نوی کنټرول د ملکي وګړو ازارونې زیاتې کړي دي او همدارنګه په عامه دولتي چارو او په پرمختیایي پروژو کې لاس وهنه زیاته شوې ده.

د ماساو په کلي کې دکلیوالي ټولنې غړو یوناما ته راپور ورکړی دی چې طالبانو د دغه کلي او نورو نږدې کلیو په شاوخوا کې په منظم ډول ګزمې پیل کړي دي. په ۲۰۱۳ کال کې د مۍ په میاشت کې، د دغوګزمو پر مهال په رڼا ورځ طالبانو د ماساو په کلي کې د مخابراتو دوو پایه برجونو ته اور واچاوو. د ټولنې مشرانو یوناما ته و ویل چې کله نړیوال نظامي ځواکونه دلته موجود وو نو طالبانو نه شوای کولای چې همېشه هلته حضور ولري او په دغه سیمه کې ګزمې وکړي حتې داکار یې د شپې هم نه شوکولای.[104]

د دغه شان ورته حالت په اړه د فراه ولایت د بالابلوک د ولسوالۍ په اړه هم راپور ورکړل شوی، هلته د ټولنې مشرانو یوناما ته و ویل چې په نړیوالو ځواکونوکې کمښت د امنیت د خرابۍ لامل شوی دی. د ټولنې مشرانو راپور ورکړ چې د نړیوالو نظامي ځواکونو د وتلو په تعقیب او د کمزوري افغان ملي امنیتي ځواک له کبله طالبانو د فراه-فراه رود په لویه لاره موقتي کنټرولي پوستې جوړې کړي دي چې هلته محلي خلک ازاروي، تښتوي یې او تر ډار لاندې یې نیسي.[105]

## د ملکي تلفاتو په اړه د طالبانو اعلامیې

[101] د غزني د ولایت د ده یک د ولسوالۍ د ټولنې د استازي سره د یوناما مرکه، د ۲۰۱۳ کال د مۍ ۲۹ نېټه.
[102] مخکنی ماخذ
[103] د یوې بیلګې په توګه د دولت ضد عناصرو له خوا دکنټرول د زیاتوالي په اړه د ټولنې د استازو د راپور له مخې چې د نړیوالو نظامي ځواکونو د وتلو په تعقیب د دولت ضد عناصرو په ولسوالۍ کې موقتي قرارګاوې جوړې کړي دي چې هلته غونډې کوي او تصمیمونه نیسي، چې دهغو له جملې څخه ځینې یې د ولسوالۍ د مرکز څخه ۲۰ کلومټرو په واټن کې دي. د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۲۴ نېټه د فراه د ولایت د پشت رود د ولسوالۍ دکلیوالي ټولنې د مشر سره د یوناما مرکه.
[104] همدا ماخذ
[105] د مثال په ډول د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۲ نېټه د فراه د ولایت د فراه په ښارکې په شمګله سیمه کې طالبانو یوه موقتي کنټرولي پوسته جوړه کړه چې په هغې کې یې دوه زده کوونکي وتښتول چې یوه ورځ وروسته خوشې شول. د فراه د ولایت د بالابلوک د ولسوالۍ د مشرانو سره د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۲ نېټه د یوناما مرکه.

د ۲۰۱۳ کال په لومړۍ نیمایي کې، طالبانو د ملکي تلفاتو او بشري حقونو د ساتنې په اړه ۲۷ عامې اعلامیې خپرې کړي دي. طالبانو همدارنګه ورځنۍ خبري پاڼې او مقالې خپرې کړي دي چې په هغوکې یې د ځانمرګو بریدونو، ډله سز بریدونو، هدفي وژنو او د تعبه شوو چاودېدونکو توکو مسوولیت پر غاړه اخستی دی.

د ,خالد بن ولید – د پسرلنو عملیاتو, اعلامیه چې د اپریل په ۲۷ نېټه خپره شوه وایي چې د دوي جنګیالي به د ملکي کسانو د ژوند او مال حفاظت ته لومړیتوب ورکوي. دغه اعلامیه همدارنګه په ,مسلمانو هېوادوالو, غږکوي چې د نظامي قرارګاوو څخه ځانونه لیرې وساتي او د نظامانو سره کار پربږدي څو چې د ملکي خلکو ځانونه وژغورل شي.[106] د طالبانو جنګیالیو ته دغه لارښوونه چې د ملکي وګړو ساتنې ته لومړیتوب ورکړي او په عین وخت کې ملکیانو ته د دې خبرداري ورکول چې ځانونه په اصطلاح د ,مشروعو هدفونو, څخه لیرې وساتي د دې هدف جوتوي چې هغوي په عامه توګه د طالبانو هغه مسوولیت چې د طالبانو د عملیاتو پر مهال یې ملکیانو ته د زیان اړولو په لړکې لري راکم کړي.[107] یوناما خپله دا اندېښنه بو ځل بیا څرګندوي چې دغه شان اعلامیې د هغو مناسبو تدابیرو ښکارندوي نه دي چې له مخې یې د ملکي وګړو تلفات راکم شي او دا چې د ملکي وګړو د ساتنې مسوولیت خپله په ملکي وګړو راوړي او نه پر هغوي چې د شخړې اړخونه دي او د دې قانوني مکلفت لري څو چې د ملکیانو ساتنه وکړي. یوناما په ګڼ شمېرکې پېښې مستندې کړي دي چې په هغوکې د طالبانو د بریدونو پر مهال ملکي وګړو ته تاوان اوښتی دی او وژل شوي دي په داسې حال کې چې دا څرګندېږي چې دغه بریدونه کیدای شواي چې د یوه نظامي هدف پر لور وي.

د ۲۰۱۳ کال په جون کې، طالبانو د " د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره د نظامي کمیسیون تر څارنې لاندې یوې ځانګړې کمیټې"[108] د جوړولو اعلان وکړ. په دغه اعلان کې د دې یادونه شوې ده چې نوموړې کمیټه د ۲۰۰ قضیو ارزونه کوي. د هغې په پایله کې کمیټې ته د استدلال په موخه طالبانو دا اعلان کړه چې د ملکي تلفاتو او زیانونو ډېری یې د " دښمن" له اړخه دي، په داسې حال کې چې نور ملکي تاوانونه دکمین نیولو اوکله ناکله د چاودنو پر مهال را منځته شوي دي.[109] په داسې حال کې چې طالبانو په دغه اعلامیه کې د دغو ,کمینونو, او ,چاودنو, لپاره مسوولیت پرخپله غاړه نه دی اخستی، داسې ښکاري چې دوی د ځانګړې کمیـټې له خوا د ملکي تلفاتو په اړه څېړنو ته په کتو سره په حققت کی په دې اړه خپل نقش منلی دی.

[106] د طالبانو اعلامیه، "،د خالد بن ولید پسرلنو عملیاتو په اړه د اسلامي امارت د مشرتابه د شورا اعلامیه "، د ۲۰۱۳ کال د اپریل ۲۷ نېټه، په دې وېب پاڼه کې یې وګورئ: http://shahamat-english.com/index.php/paighamoona/30919, accessed 21 July,2013

[107] د مشر تحلیل کوونکي کېټ کلارک له خوا یوه اړونده نکته چې نوموړی د افغانستان د تحلیل کوونکو د شبکې څخه دی یاده شوې ده. کلارک واضح کوي چې هغه ژبه چې د طالبانو له خوا د هغوي د پسرلنو عملیاتو په اعلامیه کې کارول شوې ده داسې جوتوي چې د طالبانو له خوا د وړاندې څخه یوه هڅه ده چې د ملکي وګړو د سرنوشت په اړه ځان د مسوولیت څخه خلاص کړي چې هغوي به یې و وژني، دا داسې وړاندېزکوي چې ګواکې مړه کسان کولای شي یواځې خپل ځان ملامت کړي. AAN. " S[ring Offensive 2: Civilian Casulties" by Kate Clark , published on 4 June , 2013, http://aan-afghanistan.com/index.asp?id=3438

[108] د طالبانو اعلامیه،" د ملکي تلفاتو د مخنیوي په اړه د ځانګړې کمېټې د ریس ښاغلی سرحدي مرکه" د ۲۰۱۳ کال د جون ۱۸ نېټه.

[109] تېر ا ماخذ

یوناما د هغو ملکي تلفاتو په اړه چې په شخړه کې د ښکېلو خواوو له خوا رامنځته شوي دي د حساب ورکونې اهمیت په ډاګه کوي. په هغه ځېړونوکې چې طالبان یې د ترسره کولو ادعا کوي باید د چاودیدونکو توکو د ټولو انواعو په پایله کې رامنځ ته شي تلفاتو باندی متمرکز وی او د ملکي خلکو هغه تعریف وکاروی چې د نړیوال حقوقي معیارونو سره سمون ولري.

د طالبانو له خوا د ملکي شخص تعریف

د ملکیانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۲ کالني راپور په غبرګون کې طالبانو د ,ملکي, شخص داسې تعریف کړی دی:

ملکان هغه کسان دي چې په هیڅ وجه په جګړه کې ښکیل نه دي. سپین ږیري، ښځې، ماشومان او عام وګړي چې خپل عادي ژوند تیروي، نو دا غیر مشروع ده چې هغوي تر برید لاندې راشي او و وژل شي.[110]

په دې اعلامه کې طالبانو د ,ملکي, تعریف د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې رد کړی دی او یوناما یې په دې تورنه کړې ده چې د ملکي وګړو او دولتي کارکوونکو ترمنځ توپیر نه کوي.[111] د دې سربیره چې د طالبانو تعریف د "ملکي" کس د هغه تعریف سره چې د بشر پالنې په نړیوال قانون کې شوی دی سمون نه خوري، د داسې اصطلاحاتوکارول لکه ,عام وګړي, جنګېدونکوکسانو ته د دې اجازه ورکوي څو هغوي هغه ملکان تر برید لاندې راولي چې ,عام وګړي, نه دي لکه هغوي چې د دولت سره کارکوي او یا هم ورسره په تړاوکې دي، یا قبایلي او د ټولنو مشران چې په سیاسي او د سولې را وستلو او جوړولو په بهیرونوکې لکه چې یوناما مستنده کړې، مشغول دي.[112]

یوناما یوځل بیا دا څرګندوي چې د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې ,ملکیان, هغه کسان دي چې هغوي جنګیالي نه دي (د نظامي او نیمه نظامي ځواکونو غړي) او نه هم د جګړې د اړخ د منظم شویو ډلو غړي دي، او په هغوکې ټول هغه کسان شامل دي چې نیغ په نیغه په شخړوکې ګډون نه لري. ملکان هغه مهال خپل د ساتنې او خوندي حالت له لاسه ورکوي چې وسله په لاس کې اخلي او نیغ په نیغه په شخړه کې ګډون کوي او یا هم د یوې وسله والې ډلې چې د جګړې یو اړخ دی غړیتوب تر لاسه کوي. په دې ډول هغه افراد چې په ملکي حکومتي دندوګومارل کیږي ملکان شمرل شي ځکه چې هغوي نیغ په نیغه په شخړوکې برخه نه لري او یا هم تر هغه مهاله چې هغوي مستقمآ په شخړو کې ورګډ شي.

د ملکي تلفاتو د پېښو د مسوولیت په غاړه اخستل

یوناما دا څرګنده کړې ده چې د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې طالبانو د ټولو ۵۲ بریدونو مسوولیت منلي دی. یوناما دا معلومه کړې ده چې په دغو بریدونوکې ۵۷۱ ملکي تلفات (۱۶۶ ملکان وژل شوي او ۴۰۵ تنه نور ژوبل شوي دی) را منځته شوي او په هغوکې هدفي وژنې، ځانمرګي او پېچلي بریدونه، تښتونې، د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو کارول او ځمکنۍ نښتې شاملې دي. دغو پېښوکې ګڼ شمیر هغه بریدونه شامل دي چې د

[110] د طالبانو اعلامیه، " یوناما ته د دغه سازمان د یرې/اړخیز لرونکي دریځ په اړه پرانستی لیک،" د۲۰۱۳ کال د فبرورۍ ۲۵ نېټه.
[111] د طالبانو اعلامیه، " یوناما ته د اسلامي امارت له خوا د تکراریدونکي یو اړخیز راپور ورکولو له امله،" د ۲۰۱۳ کال د جون ۱۳ نېټه.
[112] په دې راپورکې د ملکانو د هدفي او عمدي وژنو او پر هغو د بریدونو په اړه برخه وګورئ.

لسګونو ملکي تلفاتو لامل شوي دي. د بلګې په ډول د اپرېل په ۵ نېټه طالبانو د هغه ډله سز برېد پړه په غاړه واخسته چې د اپرېل په ۳ نېټه ترسره شو او په هغه کې د فراه د ولايت د فراه په ښار[113] کې يوه دولتي وداني په نښه شوه چې په پايله کې يې ۳۳ تنه ملکي وګړي و وژل شول او ۱۰۵ تنه ژوبل شول.

د مۍ په ۲۱ نېټه د بغلان په ولايت کې طالبانو د هغه ځانمرګي برېد مسوولت په غاړه واخست چې د مۍ د ماشتی په ۲۰ نېټه ترسره شوی وه او په هغه کې د بغلان د ولايت د ولايتي شورا مشر په نښه شوی و. په دغه برېد کې ۱۴ تنه ملکيان و وژل شول، چې په کې د ولايتي شورا رسس هم شامل و، په بريدکې نور نهه تنه ژوبل شول. د مۍ په ۲۶ نېټه طالبانو د هغه پېچلي برېد مسوولت په غاړه واخست چې په کابل[114] کې دکډوالو د نړيوال سازمان (آی او ام) په ودانۍ تر سره شو او له امله يې ۴ تنه ملکيان و وژل شول او ۲۲ نور يې ژوبل کړل.[115] د جون په ۱۲ نېټه طالبانو په کابل کې د سترې محکمې په کارمندانو باندې د ځانمرګي برېد مسوولت په غاړه واخست چې د جون په ۱۱ نېټه تر سره شو او له امله يې ۱۷ تنه ملکيان و وژل شول او نور ۴۰ تنه ژوبل شول.[116]

د هغو ملکي تلفاتو په اړه د طالبانو ماشتني بيانونه چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا را منځ ته شوي

په ۲۰۱۳ کال کې طالبانو ماشتنۍ اعلامې خپرې کړې چې په هغوکې يې د هغو ملکي تلفاتو د پېښو تفصيل ورکړی چې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړای شوي وو. يوناما هغه اعلامه تعقب کړه څو دا معلومه کړي چې ايا يوناما لا د وړاندې څخه دغه راپورکړای شوې پيښه مستنده کړې ده اوکنه. د ۱۱۹ پېښو له جملې څخه چې طالبانو د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ څخه د مۍ تر ماشتې پورې يې يادونه کړې ده يوناما داکره کړه او د هغو څخه يې ۴۲ پېښې د ملکي تلفاتو د پېښو په راپورکې راوستلې. يوناما دا مستنده کړله چې د دغو ۴۲ پېښو څخه ځېنې يې د دولت پلوه ځواکونو له خوا رامنځ ته شوي په داسې حال کې چې نورې ټولې د دولت ضد ځواکونو ته منسوبې وې.[117]

د طالبانو د ماشتنو اعلامو د نشر له لارې يوناما نورې ۱۲ اضافي پېښې کره کړي دي چې په کې ملکيانو ته زيان اوښتي او په دې توګه هغه مستندې شوي اود راپور په وروستو ارقاموکې شامل شوې. په نورو پېښوکې چې د طالبانو له خوا يې يادونه شوې ده، يوناما يا ونه شوای کړای چې د پېښې را منځته کېدل کره کړي، چې په هغې کې ملکي تلفات شامل وي او يا دا چې هغه د جګړې اړونده پېښه وه.[118]

---

[113] د طالبانو اعلامه، " د فراه په ولايت کې د محکمې په ودانۍ د برېد په اړه د اسلامي امارت د وياندوي تبصره"، د ۲۰۱۳ کال د اپرېل ۵ نېټه.

[114] د طالبانو اعلامه، " په ډېرې مخفي استخباراتي موسسې باندې د مجاهدينو برېد به څه مانا و لري؟"، د ۲۰۱۳ کال د مۍ ۲۵ نېټه.

[115] د دغه برېد په تعقب، طالبانو دهغه مسوولت په غاړه واخست خو د دې يادونه يې وکړه چې هغوي د سي آي اي مرکز هدف ګرځولی دی.

[116] د طالبانو اعلامه، " فدايي/شهيد په ستره محکمه برېد وکړ؛ د ۵۰ څخه زيات لوړپوړي کارمندان، قاضيان و وژل شول، " د ۲۰۱۳ کال د جون ۱۲ نېټه.

[117] د پېښو په دغه لړ لړ کې دهغو ملکي کسانو حواله ورکړل شوی دی چې د دولت پلوه ځواکونو او همدارنګه د دولت ضد عناصرو له خوا زيانمن شوي دي، د طالبانو د دې يادونې سره سره چې ټولې هغه پېښې چې د دوي په ماشتنو راپورونوکې ورته اشاره شوې ده په دولت پلوه ځواکونو پورې منسوبې کړا ی شوې وې. يوناما لږ ترلږه ۸ داسې تر مخه مستندې شوې پېښې جوتې کړې دي چې طالبانو يې يادونه کړې اود هغو عاملين د دولت ضد عناصر وو.

[118] د ټولو پېښو د لست لپاره لومړۍ ګڼه ضميمه اود يوناما کره کتنه وګورئ.

د قضاء د هدف ګرځولو په اړه د طالبانو اعلامې

د ۲۰۱۳ کال د اپریل په ۳ نېټه، طالبانو د فراه د ولایت د فراه په ښارکې د محکمې او حکومتي ودانې تر برید لاندې ونیوله، چې په دغه بریدکې ۳۳ تنه ملکیان و وژل شول او ۱۰۵ تنه ژوبل شول. دا بواځینې مرګونی برید و چې تر اوسه پورې په ۲۰۱۳ کال کې تر سره شو. د دغه برید په تعقب طالبانو پخپله وب پاڼه کې څو بیانونه خپاره کړل او په هغوکې یې د دغه برید مسوولیت پخپله غاړه واخست او دا یې څرګنده کړې چې هغوی عام وګړي نه بلکه غوښتل قضاء تر برید لاندې راولي.

په بوه خبري پاڼه کې چې د دغه برید څخه ډېر لږ وروسته نشرشوه، طالبانو د برید د بلا بلو پړاوونو تفصیل وړاندې کړ او اعلان یې کړه چې د دوي جنګیالو په ۳۰ دقیقوکې هغه مهال چې دوي د محکمې د ودانۍ په دننه کې وو ټول دولتي چاوراکي و وژل.[119] دوه نورې اعلامې چې د دغه برید په تعقب خپرې شوې دا څرګندوي چې قاضیان اوڅارنوالان د طالبانو له نظره مشروع هدفونه وو ځکه چې هغوي په عمدي توګه د مجاهدینو د مظنونینو[120]په وړاندې د ,سختو, دوسیو او قضیو د جوړولو هڅې کولې.[121] دغه وروستنۍ اعلامیه د اپریل په ۹ نېټه څو ورځې د برید وروسته نشرشوه، چې داکیدای شي د دغه برید په پراخه ملي او نړیواله کچه د غندلو په غبرګون کې وي.

د جون په ۱۱ نېټه، طالبانو دکابل په ښارکې د ستري محکمې دکارکوونکو پر ضد بو ځانمرګي برید ترسره کړ چې ۱۷ ملکیان یې ووژل او ۴۰ نور یې ژوبل کړل. د دغه برید سملاسي وروسته طالبانو په بوه اعلامیه[122] کې د دغه برید مسوولیت په غاړه واخست. هغه پیغامونه چې په دغو اعلاموکې موجود وو د طالبانو پخوانیو پیغامونو په شان وو چې د فراه د برید څخه وروسته ورکړل شوي وو. د طالبانو د اعلامیو له مخې قاضیان او څارنوالان د ټول افغانستان په کچه باید د هغو مجازاتو له امله مسوول وګڼل شي چې د افغانستان په محکموکې د طالبانو د جنګیالو پر خلاف وضع کیږي.

د طالبانو دریځ چې د دغو بریدونو د مشروعیت په اړه او هغه اهمیت چې د دوي لپاره یې د قضایي کارکوونکو د هدف ګرځولو له امله لري د فراه اوکابل د بریدونو په ترڅ کې یې یادونه شوې ده، خو بیا هم د دې څخه دا نه

---

[119] د طالبانواعلامه، "... مجاهدین د ښار د شورا ودانۍ ته ننوتل او هلته یې نیم ساعت عملیات تر سره کړل چې د هغو په ترڅ کې یې ټول دولتي کارمندان و وژل." د طالبانو اعلامه: ,۸۰ مزدورکسان, د فراه په ولایت کې دفدایي عملیاتو په ترڅ کې و وژل شول، ۷۵ نور ژوبل شول، د ۲۰۱۳ کال د اپریل۴ نېټه.

[120] د طالبانو اعلامه، " د فراه د ولایت د محکمې په ودانۍ د برید په اړه د اسلامي امارت د وياندوي یادونې"، د ۲۰۱۳ کال د اپریل ۵ نېټه.

[121] طالبانو پخپله نشر شوې اعلامه کې یادونه کړې ده چې د دې پریکړه چې دغه برید سهار مهال په ۸:۰۰ بجو تر سره شي کله چې یواځې ,کارمندان, خپلو دفترونو ته را رسیږي (د دې برعکس کله چې عام وګړي د ورځې نا وخته دولتي دفترونو ته مراجعه کوي)، د دې په پوهاوی سره چې ,عام وګړي, ښایي د ملي امنتي طرزالعملونو پر اساس چې د مشتبه طالبانو د غړو په وړاندې صورت نسيي په لږه شمره کې د محکمې په ودانۍ کې وي، اوکله چې برید پیل شو عام وګړي تت او پرک شول. د طالبانو اعلامه: " د ملکي تلفاتو په اړه د کابل د اداري تبلغات،" د ۲۰۱۳ کال د اپریل ۹ نېټه.

[122] د طالبانو اعلامه " ,فدایي په ستره محکمه بریدکوي, د ۵۰ څخه زیات لوړ پوړي چارواکي، قاضیان و وژل شول، " د ۲۰۱۳ کال د جون ۱۲ نېټه

ښکاري چې دا د ۲۰۱۳ کال لپاره کومه نوې پالسي ده. د عدلي ارګانونو پرخلاف بریدونه د ۲۰۱۳ کال ترمخه هم مستند شوي دي، خو د ۲۰۱۳ کال د بریدونوکچه د هغو پخوانو بریدونو په پرتله چې مشاهده شوي دي زیاته وه، چې لږ تر لږه په کې ۱۹۵ ملکي تلفات محاسبه شوي دي. یوناما دا څرګندوي چې په قاضانو او څارنوالانو نغ په نغه بریدونه چې هغه هم ملکیان وو او په شخړوکې مستقیمه ونډه نه لري چې دا د بشر پالنې د نړیوال قانون څخه سرغړونه ده اوکیدای شي چې په جنګي جرمونوکې وشمرل شي.[123]

د طالبانو د غندنې اعلامې

د هغو اعلامیو سربیره چې په ۲۰۱۳ کال کې د بریدونو د مسوولیت اخستنې په تړاو یې نشرکړي دي طالبانو په ګڼ شمیرکې داسې بیانونه هم نشرکړي دي چې یې هغه بریدونه غندلي دي چې په کې ملکي تلفات رامنځته شوي دي، د مارچ په ۲۵ نیټه، د لوګر د ولایت د برکي برک په ولسوالۍ کې د افغان ملی امنیتی ځواکونو او طالبانو تر منځ د ځمکنیو نښتو په تعقیب چې له امله یې ۴ ملکیان مړه او ۵ نور ژوبل شول، طالبانو یوه اعلامیه نشرکړه چې په هغې کې یې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه او ایساف د زیات ځواک دکارولو له امله وغندل، او د هغوي اقدامات یې جنګي جرم وباله. [124] په دې شان یوه اعلامیه د هغه هوایي برید په تعقیب نشر شوه چې دکنړ د ولایت د شګل په ولسوالۍ کې داپریل په ۵ نیټه وشوه او په هغې کې یې طالبان غیر مسوول ګڼلي او دا یې ویلي دي چې ځمکنی او هوایي برید د افغان ملي امنیتي ځواکونو او ایساف له خوا تر سره شوی چې د ملکي تلفاتو لامل شوی دی.[125]

هغه اعلامیه چې د طالبانو له خوا د مۍ په ۳۱ نیټه په جلال ابادکې د هغه ځانمرګي برید چې د سره صلیب (آی سي آرسي) د ودانۍ په وړاندې وشو په تعقیب سره نشر شوه او د خپلې دوه ګونې موخې له پلوه خورا ځانګړې وه چې له یوې خوا په کې هغوي خپل نه دخالت اعلان کړي او له بلې خوا دا بیانوي چې ګواکې طالبان د دغه ډول بریدونو ملاتړ نه کوي. په دغې اعلامیه کې طالبانو ادعاء کړې چې هغوي هڅکله هم په هغه چا بریدونه نه کوي،څوک چې د خلکو د منفعت لپاره پرته له دې چې د جاسوسۍ د سازمانونو سره تړاو ولري کارکوي،.[126] د طالبانو حواله د سره صلیب دکمیټې په اړه د یوه داسې سازمان په توګه چې " په رښتونې توګه د خلکو لپاره کار کوي" د هغو سازمانونو په وړاندې چې هغوي "د استخباراتي سازمانونو سره اړیکي لري "، یوه ممکنه اشاره ده

[123] یوناما په ۲۰۱۲ کال کې د قضاء د کارمندانو په وړاندې ګڼه شمیره کې بریدونه مستندکړي دي، د دغو بریدونو ډیری یې د ټیټې کچې هدفي وژنې، تهدیدونه، ډارونې، او ازارونې وې. د راپور له مخې طالبانود میدان وردک ولایت په میدان ښارکې د ۲۰۱۲ کال د نوومبر په ۲۳ نیټه ځانمرګي برید په دې موخه تر سره کړ چې عدلي او قضایي موسسې هدف وګرځوي.

[124] که څه هم یوناما په دغه پیښه کې رامنځته شوي ملکي تلفات نه شي کولای په جګړه کې د اخته لورو څخه کوم یو ته منسوب کړي ځکه چې د راپورونو له مخې قربانیانو ته د متقابلو ډزو له امله تاوان اوښتی دی. د طالبانو اعلامیه، " بهرنیو او داخلي ځواکونو د برکی برک د سجاوند په سیمه کې ۲۸ ملکیان شهیدان او د هغوي کورونه یې ویجاړکړل. " د ۲۰۱۳ کال د مۍ ۲۷ نیټه.

[125] د یوناما موندنې د حکومتي موندونو سره په سمون کې وې او دا په کې معلومه شوه چې ملکي تلفات د بمباریو په پایله کې د ټکان (د هوایي فشاري ګوزار) له امله د رامنځته شوې. حکومت هم قربانیانو ته تاوان/غرامت ورکړ. د طالبانو اعلامیه،" په کنړکې د قتل عام په اړه د اسلامي امارت غبرګون " د ۲۰۱۳ کال د اپریل ۷ نیټه.

[126] د طالبانو اعلامیه: " په جلال ابادکې د آی سی آر سي په دفتر باندې د برید په اړه د اسلامي امارت غبرګون"، د ۲۰۱۳ کال د مۍ ۳۱ نیټه.

چې وکولای شي با د طالبانو له خوا د هغه برید لپاره مشروعت ولټوي چې له امله یې د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۲۴ کې دکډوالۍ د نړیوال سازمان (آی او آیم) اغېزمن شو.[127]

## په جګړه کې د ښکېلو اړخونو تر منځ ځمکنۍ نښتې: ملکي کسان په متقابلو ډزو کې راګیرشوي دي

د سهار مهال ۱۰ بجې وې او مور ټول په کور کې وو. زموږ ځینې دکور په خونوکې وو او نور د باندې په حویلۍ کې وو. ناڅاپه یو ډېر قوي غږ د حویلۍ دننه وا وریدل شو او ورپسې تور لوګی له موږ را چاپېرشو. زما ځلورو ورونړو په برنډه کې لوبې کولې. هرڅومره ژر چې موږ دکور څخه حویلۍ ته منډه کړه نو ومو لېدل چې هغوي په وینوکې لت پت پراته دي. هر یوه د مرستې لپاره چېغې وهلې او په ژړا وو. موږ دغه ځلور تنه را واخستل او په منډه مو نږدې د ولسوالۍ کلنک ته ورسول. زما ۱۲ کلن ورور هم هلته په میدان مړ شو خو با هم موږ څخه کوله چې هغه روغتون ته ورسوو که هغوي څه وکړا ی شي. زما نورو درې ورونړو لومړنۍ طبي مرستې تر لاسه کړې او با مو هغوي د ننګرهار د عامې روغتیا روغتون ته و لېږدول. زما ځلور کلن ورور وروسته د ننګرهار د عامې روغتیا په روغتون کې وفات شو. نور دوه ورونړه هلته تر درملنې لاندې دي. زه په دې باوري یم چې دغه ګولۍ د ملي اردو له خوا ګوزار شوې. هلته په.... ولسوالۍ کې د ملي اردو نوی قوماندان دی چې هغه ډېر بې پروا دی او د هاوان مرمۍ د نښتې پرمهال پرکورونوګوزاروي،
- - د لغمان د ولایت د علنګار په ولسوالۍ کې د ځمکنۍ نښتې د پېښې عیني شاهد او د قربانانو دکورنۍ غړی. دغه پېښه د ۲۰۱۳ کال د مارچ په ۲۱ نېټه وشوه او په پایله کې یې دوه هلکان و وژل شول او نور دوه هلکان ژوبل شول، ځلور واړه سره ورونړه وو. [128]

د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ د نښتو له امله ملکي تلفات ۴۲ سلنه زیات شول، چې په کې ۲۰۷ ملکي مړینې او ۷۶۴ ژوبلې (ټولټال ۹۷۱ ملکي تلفات) مستند شوي دي. دغه ارقاموکې ملکي تلفات د شخړې ټولو خواوو ته منسوب وو. د ځمکنو نښتو امله د ټولو تلفاتو ۲۵ سلنه رامنځته شوې، په دغه تاکتیک کې د تعبه شویو چاودېدونکو توکو وروسته د ملکي تلفاتو جګه شمېره رامنځته شوې ده.

یوناما مشاهده کړې چې د لېږد تحرکاتو د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ، په داسې حال کې چې دواړه خواوې د سیمې د ساتلو او د سیمې د با نیولو لپاره جګړې کوي، د شخړو ساحه پراخه کړې ده. په دې حواله، یوناما د لا زیاتو ملکي وګړو تلفات چې د مخامخ کېدو په سیموکې د ځمکنۍ ښکېلتیا په پایله کې رامنځ ته

[127] د هغه برید په اړه چې په کې دکډوالۍ نړیوال سازمان (آی او ایم) اغېزمن شو د ملکي تلفاتو د پېښو د مسوولیت اخستنې برخه په یورتنې څېړکې کې وګورئ.
[128] د ننګرهار د ولایت د عامې روغتیا په روغتون کې د یوناما مرکه.

کېږي، ثبت کړي دی.[129] د ملکي تلفاتو په شمېرکې ۱۷۶ سلنه زیاتوالی چې د دولت ضد عناصرو له خوا د افغان ملي اردو، افغان ملي پولیسو او افغان سیمه ییزو پولیسو د موقعیتونو په وړاندې د بریدونو په نتیجه کې رامنځ ته کېږي، په ځانګړې توګه د پام وړ دي . د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په پرتله، یوناما د ۲۰۱۳ کال د لومړیو ۶ میاشتو په دوران کې د داسې بریدونو پر مهال د ۹۳ ملکي کسانو وژل او د ۳۹۹ ملکي کسانو ټپي کېدل (۴۹۲ ملکي تلفات) ثبت کړي دي.[130]

د دغو ارقامو په دننه کې، تر ټولو ډراماتیک زیاتوالی د سیمه ییزو پولیسو په وړاندې د بریدونو زیاتوالی دی، چې دې هم ملکي کسانو ته تلفات اړولي دي. په ۲۰۱۳ کال کې، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د سیمه ییزو پولیسو په وړاندې ۱۸ بریدونه ثبت کړي، په دې بریدونوکې ۱۹ ملکي کسان وژل شوي او ۱۶۲ نور ټپیان شوي دي (۱۸۰ ملکي تلفات)، دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۱۹۰۰ سلنه زیاتوالی ښيي.[131]

د ځمکنیو ښکیلتیاوو څخه را ولاړ شوي زیات ملکي تلفات هم ښایي د انتقال د چټک خوځښت، یا هم په ۲۰۱۳ کال کې د پوځي اډو د تړلو او یا د نړیوالو پوځي عملیاتو کمښت سره تړاو ولري . د بېلګې په توګه، لیدل شوي چې، د هواد په ختیځه سیمه کې د پوځي اډو د تړلو یا لیږد له امله او د دې په تعقیب د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا د هوایي او ځمکنیو عملیاتو په ترسره کولوکې دکموالی مسلې، د افغان امنیتي ځواکونو په وړاندې دولت ضد عناصرو ته د خوځښت او بریدکولو زیات توان ور په برخه کړی . د جنوري د لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۳۰ پورې، یوناما د کنړ، لغمان او ننګرهار په ولایتونوکې د ځمکنیو ښکیلتیاوو په نتیجه کې د ملکي کسانو ۴۹ وژنې او ۲۵۷ ټپي کېدنې (ټولټال ۳۰۶ ملکي تلفات) ثبتې کړي دي، دا په ختیځه سیمه کې له ځمکنیو ښکیلتیاوو څخه د راولاړ شوو ملکي تلفاتو ۳۲ سلنه جوړوي چې د ۲۰۱۲ کال راهیسې په سیمه کې ۹۵ سلنه زیاتوالی دی.[132]

افغان امنیتي ځواکونو ته د نړیوالو پوځي ځواکونو څخه د امنیتي مسولیتونو د انتقال په تعقیب، کیدای شي دا زیاتوالی هم په دغو دریو ولایتونوکې د دولت ضد عناصرو زیات شتون ته منسوب شي. د بېلګې په توګه، د لغمان ولایت د علیشنګ او الینګار د ولسوالیو د امنیتي مسولیتونو انتقال د ۲۰۱۲ کال د جولای په میاشت کې ترسره شو. د لیږد په تعقیب، د دولت ضد عناصرو شتون او فعالیتونو په ملکي کسانو باندې منفي اغیزه کړې ده . د جنوري د لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۳۰ پورې، یوناما د ملکي کسانو ۱۳ وژنې او ۴۶ ټپي کېدنې (ټولټال ۵۹ ملکي تلفات) ثبتې کړي دي، دا د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په پرتله د ملکي کسانو په تلفاتوکې ۶۳۸ سلنه زیاتوالی ښيي. [133] د را ولاړ شویو تلفاتو زیاتره

[129] یوناما همدارنګه د حکومت ضد عناصرو له خوا د بې تناسبه تاکتیکونو زیات کارول، په تېره بیا، د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د زیاتې کارونې، هدفي وژنو او د حکومتي ملکي کارکونکو په وړاندې بریدونه لکه څنګه چې په دې راپورکې د مخه مشخص شوي، ثبت کړي دي.


[130] یوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړیو ۶ میاشتوکې د ځمکنیو ښکیلتیاوو له امله د ملکي کسانو ۳۹ وژنې او ۱۳۹ ټپي کېدنې (۱۷۸ملکي تلفات) ثبتې کړي دي.

[131] د ۲۰۱۲ کال په لومړیو ۶ میاشتوکې، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د افغان سیمه ییزو پولیسو په وړاندې ۶ پېښې ثبت کړي چې د پېښو په نتیجه کې دوه ملکي کسان وژل شوي او ۷ تنه ټپیان شوي دي.

[132] د ۲۰۱۲ کال په لومړیو ۶ میاشتوکې، یوناما دکنړ، لغمان او ننګرهار په ولایتونوکې د ځمکنیو ښکیلتیاوو له امله د ۳۴ ملکي کسانو د وژنې او ۱۲۳ ملکي کسانو ټپي کېدنې(۱۵۷ ملکي تلفات) ثبتې کړي دي.

[133] د ۲۰۱۲ کال په لومړیو ۶ میاشتوکې، یوناما د الینګار او علیشنګ په ولسوالیوکې د ۴ ملکي کسانو وژنې او د ۴ ملکي کسانو ټپي کېدل ثبت کړي دي. د ۲۰۱۲ کال د جولای په میاشت کې په دغو دواړو ولسوالیوکې د امنیتي ځواکونو څخه افغان امنیتي ځواکونو ته امنیتي مسولیتونه انتقال شوي.

په سیمه ییزه کچه د ځمکنۍ نښتو په پایله کی د ملکی کسانو مرګ ژوبله
د ۲۰۰۹ - ۲۰۱۳ جنوري څخه تر جون پوری



## د ځمکنۍ ښکېلتیا لپاره د اډو په حث د ملکي موقعتونو کارول

د هواد په کچه، ملکي کسان د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو د بریدونو د ډزو په منځ کې په زیاتېدونکې توګه اسار پاتې شوي دي. د بلګې په توګه، د ۲۰۱۳ کال په لومړیو ۶ میاشتوکې، یوناما ۱۶۵ بېلابېلې پېښې ثبتې کړي چېرې چې د هاوان دګولو یا لاسي بمونو په نتیجه کې ۶۹ ملکي کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې او نور ۲۹۶ ټپیان شوي دي (۳۶۵ ملکي تلفات)، دا د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په پرتله ۴۰ سلنه زیاتوالی ښي.[134] په زیاترو مواردوکې، د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو له خوا د هاوان توغول شوي مرمۍ د ملکي کسانو په کورونو لګېدلي. یوناما همدارنګه د هغو سیمو په اړوند چې د حکومت تر محدود او یا هم د حکومت ترکنترول لاندې نه دي کله ناکله د دولت ضد عناصرو له خوا په دولت پلوه ځواکونو باندې د ملکي کورونو په کارولو سره بریدونه ترسره کېږي او د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا ځوابي ډزې کېږي.

یوناما داسې پېښې ثبتې کړي چېرې چې د دولت ضد عناصرو په جبري توګه ملکي موقعتونه د موقتي پټن ځایونو په حث له دې امله چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا د تلاشي او بریدونو سره مخ نه شي، کارولي دي. د بېلګې په توګه، د جوزجان په ولاست کې ټولنو یوناما ته ویلي چې طالبان په لېږې پرتو سموکې د هوايي بریدونه څخه د مخنوي په خاطر د دایمي اډو پر ځای د خوځنده واحدونو نه عملیات ترسره کوي. په دې ډول ځای په ځای کېدنې کې اکثرآ د بریدونو د ترسره کولو په خاطر د ملکي کورونو، ښوونځو او استوګنځایونو کارول شامل وي. د ټولنې یوه غړي یوناما ته و ویل" د دې په خاطر چې طالبان خوندي وي هغوي د استوګنې ځایونه کاروي".[135]

ټولنو یوناما ته و ویل چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د عملیاتو پر مهال، طالبان په هغه صورت کې چې د تېښتې لار و نه مومي د ملکي کسانو په کورونوکې پټېږي. د ټولنې غړي په جبري توګه اړ شوي څو په راتلونکې کې د غچ اخستنې د ډار له وجې د ملي امنیتي قواوو له خوا د برید او یا له مخالف وسلوالو سره د مرستې په وجه د نیولو خطر مني. د بېلګې په توګه، د جوزجان د ولاست د قوش تېپې د ولسوالۍ د یوه کلي څخه د ټولنې غړو راپور ورکړی چې دوي د حکومت سره موافقې ته رسېدلي تر هغه چې دوي دکلو په منځ کې د طالبانو د خوندي ځای د جوړولو څخه مخنوي وکړي، افغان ملي امنیتي ځواکونه به همدارنګه کلو ته نه ننوځي او په دې توګه به ټولنې خوندي پاتې کېږي. د دې تړون په تعقب، د ۲۰۱۳ کال په مې میاشت کې، نږدې ۴۰ وسله وال طالبان په کلي کې کورونو ته ننوتل، دکورونو څخه یې په دې موخه کار اخست چې د افغان سمه سزو پولسو او افغان ملي پولسو په وړاندې بریدونه په لار واچوي. د دې ډزو په نتیجه کې یو ماشوم د ډزو د تبادلې پر مهال و وژل شو. په دې ډزوکې دکلي عامه او شخصي ملکتونو ته هم درانه تاوانونه واوښتل.[136]

---

[134] یوناما په ۲۰۱۲ کال کې ۱۰۹ پېښې ثبتې کړي، د ۲۰۱۲ کال په لومړیو ۶ میاشتوکې په ډزوکې ۶۰ کسان وژل شوي او ۲۰۰ ټپیان شوي(۲۶۰ تنه ملکي تلفات).

[135] د ۲۰۱۳ کال د مې د میاشتې په ۲۲، د شبرغان ښار په قوش تېپې ولسوالۍ کې دکلي د مشرانو سره د یوناما مرکه.


[136] همدا ماخذ

د بدخشان د ولایت د وردوج په ولسوالي کې، ټولنو یوناما ته ویلي چې د وردوج په ولسوالي کې یو شمېر کورنۍ د خپلوکورونه پرېښودو ته اړې شوي او غواړي تر هغو چې جګړه پای ته نه وي رسېدلې خوندي ځایونو ته ولاړې شي. اوسېدونکو راپور ورکړی چې دولت ضد عناصرو دوي ته ویلي چې په کورونوکې پاتې شي، او دا بې هم ویلي چې د ټولو خلکو د پرېښودو په صورت کې به د دولت ضد عناصر و نه توانېږي چې د ځان لپاره خوندي ځای پیدا کړي. د ټولنو مشرانو راپور ورکړی دولت ضد عناصرو خلکو ته ویلي چې په هغه صورت کې چې خلک په کورونو کې پاتې شي نو افغان ملي امنیتي ځواکونه به په هغوي برید و نه کړي.[137]

د ځمکنۍ ښکېلتیا په پایله کې د ملکي تلفاتو بېلګې په لاندې ډول دي:


- د جون په ۱۶، د لوګر ولایت د چرخ ولسوالي په مرکزکې دولت ضد عناصرو د افغان ملي اردو په یوه کاروان برید وکړ. افغان ملي پولسو او پوځ ځوابي برید وکړ او په دې سره د دولت ضد عناصرو او افغان ملي امنیتي ځواکونو تر منځ اوږدې ډزې تبادله شوې. د ډزو په تبادله کې د دریو ماشومانو د وژل کېدو په شمول ۴ کسان و وژل شول او نور ۱۷ کسان ټپیان شول.
- د می په ۲۷، دولت ضد عناصرو د بدخشان ولایت د وردوج په ولسوالي کې د ملي پوځ په یوه پوسته برید وکړ. د دې پېښې نه وروسته په تعقیبي ډزوکې یوه ۱۲ کلنه نجلۍ و وژل شوه او د ۲ ښځو او یوې ځوانې نجلۍ په شمول ۷ تنه ټپیان شول.
- د می په ۱۸، افغان ملي پوځ د ننګرهار ولایت په بټي کوټ ولسوالي کې عملیات ترسره کړل او د عملیاتو پیل د دولت ضد عناصرو لپاره د ډزو لار هواره کړه. ار پي جي راکټ د استوګنې د یوه کور په دننه کې ولګېد او د ۶ ماشومانو او د یوه نارینه او ښځې په ګډون بې ۸ تنه ملکي کسان ټپيان کړل.
- د اپریل په ۲، د فاریاب ولایت د قیصار په ولسوالي کې د افغان ملي پوځ او دولت ضد عناصرو تر منځ د برید پر مهال د هاوان یوه ګولۍ په یوه ملکي کور ولګېده چې په نتیجه کې یې یو ماشوم و وژل شو او ۴ نور ملکي کسان ټپیان شول.
- د مارچ په ۲۵، ایساف او افغان ملي امنیتي ځواکونو د لوګر ولایت په برکي برک ولسوالي کې چې موخه یې یوه ورځ وړاندې د طالبانو له خوا د دوو تښتول شویو سرتیرو خلاصون وه، ګډ عملیات ترسره کړل. د دې عملیاتو په نتیجه کې ۵ ماشومان و وژل شول او نور ۴ ټپیان شول.

[137] د ۲۰۱۳ کال د اپریل په ۸، د بدخشان ولایت د وردوج او بهارک د ولسوالو د ټولنې د غړو او داخلي بې ځایه شویوکسانو سره د یوناما مرکې.


د دولت پلوه ځواکونو د تاکتیکونو په پایله کې ملکي مړګ ژوبله
جنوري - جون ۲۰۱۳
هوايي برید
% ۲۵
د ځواك ساتنه
% ۱۲
ځمکني نښتي
% ۳۷
نور
% ۹
د تلاشي او لټول
% ۹
هدفي وژل
% ۶
ناچاودې توکي
% ۲

دولت پلوه ځواکونو ته د ملکي کسانو د تپي کدو په شمېرکې د زیاتوالي منسوبدل په عمومي توګه د دولت پلوه او افغان ملي امنتي ځواکونو تر منځ د ځمکنو ښکلتاوو له امله د ملکي تلفاتو په شمېرکې د زیاتوالي سره منسوبېږی. هغه ملکي تلفات چې د ځمکنو ښکلتاوو پر مهال دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کېږي دکال د لومړیو ۶ ماشتو په دوران کې ۱۳۹ سلنه لوړ شوي، بوناما د ۵۷ پیښو پر مهال د ملکي کسانو ۳۲ مړینې او ۱۰۲ تپي کدنې ( ټولټال ۱۳۴) تلفات ثبت کړي دي . [141]

[141] د ځمکنو ښکلتاوو څخه د را ولاړو شوبو ملکي تلفاتو په حواله، د ۲۰۱۲ کال د جنوری د ۱ نه د جون د ماشتې تر ۳۰ نتې پورې، بوناما د ۲۱ ملکي تلفاتو د وژنې او ۳۵ تپي کدنو ( ټول ۵۶ ملکی تلفات)مسوولت حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي. په دغه راپور کې د شخړې د ډلو تر منځ ځمکنی ښکلتا: په متقابلو ډزوکې د ملکي کسانوګرېدل.


د هوايي بريدونو په پايله کی ملکي خلکو مرګ ژوبله
جنوري - جون ۲۰۰۹ - ۲۰۱۳
300
250
200
150
100
50
0
188
96
248
69
45
114
159
75
234
83
44
127
49
41
90
2009
2010
2011
2012
2013
مړينه
ټپيان
ټول

یوناما د هوايي عملياتو له امله د ملکي تلفاتو په برخه کې دکمښت ستاینه کوي خو د یو شمېر عملیاتو په هکله چې د ملکي کسانو د نا متناسب وژل کېدو او ټپي کېدو سبب شوي په خپلو اندېښنو با تاکيدکړي. یوناما همدارنګه د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا د یو شمېر هوايي بریدونو د روڼوالی او حساب ورکونې په هکله دکومو په نتېجه کې چې ملکي کسانو ته تلفات اوښتي خپلې اندېښنې په ډاګه کړي.

د بېلګې په توګه، د ۲۰۱۳ کال د اپریل د میاشتې په ۶ نېټه، د ملي امنت د ریاست په عملیاتوکې چې ملاتړ یې د نړیوال پوځ او امنتي ځواکونو له خوا کېده، دکنړ ولایت د شګل ولسوالي د شولتن د درې په سیمه کې د سونو د کلي په یوه برخه کې څو هوايي بریدونه ترسره کړل چې په نتجه کې یې ۱۳ ملکي کسان و وژل شول او ۵ نور ټپیان شول. په مړیوکې ۱۰ ماشومان چې زیاتره یې تي خواره او هغه ماشومان چې تازه یې تګ زده کړي و، دوه ښځې او یو معیوب شخص او په ټپیانوکې دوه ماشومان، دوه ښځې او یو نارینه شامل وو. د یوناما د څېړنو پر اساس، پېښه د برغلیزو عملیاتو پر مهال رامنځته شوه چې موخه یې د منځنۍ‌کچې د یوه قوماندان په نښه‌کول و، دا پېښه هغه مهال را منځ ته شوه چې برغلیز عملیات د دولت ضد عناصرو له خوا تر برید لاندې راغلل .[144]
د هدف لاندې نیول شوي قوماندان په‌کورکې یوي خونې ته د ښځو او ماشومانو د استنې په تعقب، دولت ضد عناصرو په دولت پلوه ځواکونو برید وکړ. په دې پېښه کې یو نړیوال مشاور و وژل شو او د ملي امنت د ریاست ۴

[144] یوناما د شګل په ولسوالۍ کې د ۲۰۱۳ کال د اپریل د میاشتې د ۶ نېټې په پېښه کې هر اړخېزه څېړنه ترسره کړي او د شګل د ولسوالۍ د اوسېدونکو، د پېښې د ژوندي پاتې شویوکسانو، شاهدانو، د افغان ملي امنتي ځواکونو د متعددو سرچینو، حکومتي او اسناف چارواکو، ځايي ډاکټرانو، او په اسد اباد کې د عامې روغتیا د روغتون د روغتیا پالنې دکارکونکو او د شګل په ولسوالۍ کې د ځايي کلنیکونو او همدارنګه د نړیوالوکارپوهانو (طبي او پوځي) په شمول د ۶۰ نه د زیاتوکسانو سره مرکې کړي دي. یوناما همدارنګه یو شمېر اسناد او نور توکي له سره کتلي دي.

غړي ټپیان شول. نړیوالو ځواکونو د دولت پلوه ځواکونو د په شا تګ لپاره د بوې لارې د برابرولو په موخه نور هوایی مهمات وتوغول.

د دغو ځواکونو د وتلو وروسته، په سېمه کې د هوا له لارې نور بارودري ګولۍ هم وغورځول شول. هوایي راکټونه کور ته څرمه ولګېدل چې په نتېجه کې یې د چاودنې/ټکان قوي څپې رامنځ ته شوې او په پایله کې یې دکور چت چېرې چې ښځو او ماشومانو پناه اخېستې وه و نړېد.[145] د بوناما نظر چې په خپلو څېړنو ولاړ دی دا دی چې ټول ملکي تلفات په بوه خونه کې رامنځ ته شوې، دا د لوړ سرعت د ټکان/چاودنې د څپو، ساه بندۍ د ترکبب او د چت د را غوځدو له امله د داخلي ټپونو څخه را منځ ته شوې.

اساف د پېښې په اړه څېړنې ترسره کړې او په نتېجه کې یې ویلې چې اساف د پېښې مسول نه دی.[146] د ولسمشر له خوا ټاکل شوي کمسسون چې موخه یې د پېښې څېړنه وه، د ملکي کسانو د وژلو او ټپي کېدو علت د زبات بمبارد له امله چې په نتېجه کې یې چت را پرېوتی د چاودنې څپې ښولی دی.[147]

د حکومت د موندنو پایلې د بوناما د څېړنو سره په سمون کې وې. د بوناما څېړنې دې ته اشاره کړې چې کور ته څرمه بمباري د حکومتي ځواکونو د وتلو وروسته او د دی درکه چې نور نو هېڅ ډول پوځي او تاکتکي موخه نه لري، واقع شوې.[148] بوناما یادونه کوي داسې ښکاري چې د هوایي مهماتو اندازه چې د پوځي عملیاتو پر مهال او د هغه نه وروسته موده کې کارول شوې او له هغو پوځي برباوو سره نا متناسبی وی چی دوی بی په مشخص مستقیم ډول وړاندوبنه کولای شوای.

د ساتنې نورې اندېښنې د شګل په ولسوالي کې د نورو هوایي بریدونو څخه را ولاړې شوې او ناچاودلي توکي او طبي حالتونه کوم چې ظاهرا د هوایي بمبارۍ څخه په مستقیم ډول را منځ ته کېږي، شامل دي. بوناما د ځایي روغتیا پالنې دکارکونکو سره مرکه کړې چا چې ژر د پېښې په تعقب د نس ناستي او سترګو ناروغیو په ډراماتیک د ډېریدا پخلې کړی او یې د سقط جنن د بو شمېر پېښو په اړه راپور ورکړی.[149] ټولو متاثره شویو ناروغانو د متاثره شویو سېمو سره نږدې ژوندکاوه.[150] ځایي مشرانو بوناما ته ویلي چې د اپریل د میاشتې د ۶ نېټې د پېښې

---

[145] د افغان ملی امنتی ځواکونو په حواله، حکومتی او د ټولنې سرچینی چې د بوناما له خوا پوښتل شوي، دغه مهمات د متعددو هوایی پلاټفورمونو له لارې ګوزار شوي.

[146] د اساف د مرکزی دفتر د چارواکو سره د بوناما غونډې، د ۲۰۱۳ کال د اپریل څخه تر جون ماشتې پورې، او د جولای د ماشتی ۲۸، کابل.

[147] د ولسمشرکرزی وباند په څرګند ډول و ویل چې د ملی امنت د رباست د ۴ څانګې سره بوځای CIA د عملیاتو رهبري کړې. د روډ نوردلانډ(د هوایی برید څخه وروسته CIA ته افغان نکتې او پټې ملشاء) نیوبارک ټایمز، ۲۰۱۳ کال، اپریل ۱۸ ته مراجعه وکړئ.

[148] د بشر پالنې د نړیوال قانون مطابق، پوځي موخې تر هغو موخو محدودې شوي چې د هغوي د خاصت، موقعت، هدف یا کارونې د پوځي عمل سره په مثبته توګه مرسته کړي وی او د چا د عارضي یا ټولنزې تباهۍ، نیونې یا بې طرفۍ، د پریکړې په حالاتوکې د بوه روښانه پوځي پرمختګ وړاندېزکوي. ۸ قاعده. د ملکي کسانو او جنګیالو تر منځ توپیر. دودېز/مرسوم نړیوال عنعنوي قانون، لومړی ټوک. مقرری. جن ماری هنکرټس او لویس ډسواک- بک، ICRC، کامبرج، ۲۰۰۵ کال، ۲۹ – ۳۲ پاڼه.

[149] د شګل په ولسوالۍ کې د ۲۰۱۳ کال د فبروری د ۱۳ او اپریل د ۶ نېټو د هوایی بریدونو په تعقب د بوناما سره د مرکو پر مهال، د روغتیا پالنې کارکونکو د هرې پېښې په تعقب د نس ناستي او Conjunctivitis / پیچ له امله د ۱۱۳ ناروغانو درملنه کړې.

[150] طبی کارکونکو همدارنګه د بوې بلې مخکنۍ پېښې په اړه چې په ورته سېمه یعنی د چوګام د سېمې په شولتن دره کې د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ په ۱۳ ترسره شوه هم د داسې پدیدې راپور ورکړی.

وروسته ځاني اوسدونکو د نا چاودلو توکو ۴ ټوټې موندلې او هغه يې بيا په يوه لښتي کې اچولي او بيا يې چاودېدلې ده.

هدفي وژنې: بې پيلوټه الوتکې(UAVs) او نور هوايي پلاتفورمونه

د ۲۰۱۳ کال په لومړيو ۶ مياشتوکې، يوناما د بې پيلوټه الوتکو چې موخه يې د دولت ضد عناصرو په نښه کول وو په ۷ بېلابېلو پېښوکې د ۱۵ ملکي کسانو د وژلو او ۷ نورو ټپي کېدل ثبت کړي دي.[151] د ۲۰۱۲ کال په ورته موده کې، يوناما د بې پيلوټه الوتکو په بريدکې د ملکي تلفاتو دکومو پېښو تصديق نه دی کړی.[152]

که څه هم چې د بې پيلوټه الوتکو په بريدونوکې د ملکي وژنو او ټپي کېدلو شمېر د ټولو ملکي تلفاتو د يوې سلنې څخه کمه برخه جوړوي، خو يوناما د هدف نيولو د خصوصصاتو او د بې پيلوټه الوتکو د کارولو (او د نورو هوايي پلاټفورمونو) په تړاو د حساب ورکونې د مېکانېزمونو په هکله [153] د وضاحت غوښتنه کوي چې د هغو هوايي بريدونو پر مهال چې ښايي د هدفي وژنو په څېر طبقه بندي شي. [154]

د بېلګې په توګه، د ۲۰۱۳ کال د جون په ۴ نېټه، اساف د بشر پالنې په يوه ماين پاکونکې په داسې حال کې چې نوموړی د ۸۰ نورو ماين پاکونکو سره دکندهار ولايت د پنجوايي په ولسوالي کې د ماينونو په پاکولو بوخت و دوه راکټونه وتوغول او هغه يې ځای پر ځای و واژه.[155] نورو ماين پاکونکو په فزيکي لحاظ ضرر و نه لېد. د وژنې پر مهال، قرباني شخص په دښمنانه عملياتوکې برخه نه درلوده او د ماين پاکولو د بشر پالنې د فعالتونو په ترسره کولو بوخت وه، دا په خپل ذات کې دا ښيي چې د جګړې دوامداره دنده نه ده ترسره شوې، لکه څنګه چې د بشر پالنې د نړيوال قانون لاندې اجابت کوي يو ملکي شخص خپل ساتلی موقف له لاسه ورکړی. اساف يادونه کړې چې هدف د منځنۍ کچې د ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي د يو تن خښونکی شخص او عملات وه چې

---

[151] بی پيلوټه الوتکې هم د لېرې واټن څخه دکنترول شوې وسېلې په حث تعريف شوي دي. د لېرې واټن څخه دکنترول شوې وسېلې، بی پيلوټه الوتکی او ډرون تر منځ توپير نه دی شوی.

[152] يوناما ممکن د بې پيلوټه الوتکو په بريدکې د ملکي تلفاتو شمېرکم ښولی وي، دا ځکه چې يوناما نه شی کولای دا جوته کړي چې د عملياتو پر مهال دکوم ډول هوايی پلاټفورم څخه کار اخستل شوي ( الوتکې، چورلکو يا بې پيلوټه الوتکه) کوم چې د ملکي تلفاتو باعث شو. د دې علاوه، نړيوال امنيتي ځواکونه د هغوي د درجه بندۍ له امله موجوده اطلاعات نه برابروي.

[153] يوناما د اساف د تبصرې چې د هدف نيولو پروسه له دې پرته چې کوم پلاټفورم کارول شوي، د حساب وړ، ښه سنجول شوي او په حقوقی لحاظ تصديق شوې دی، يادونه کوي. دا د اساف د هدف نيولو نواځنۍ پروسه ده. د ار پي ای وسله د وسلو د ګوزار نو پلاټفورم دی. يوناما ته د ناټو او اساف غر محرمې تبصرې د ۲۰۱۳ کال د جولای په ۲۸خپرې شوي.

[154] که څه هم چې په ځنو مواردوکې هدفی وژنې د ژوند د حق څخه سرغړونه ده، د پوځي شخړې په استثنايی حالت کې، کدای شی د غرې نړيوالې پوځي شخړې په شمول قانوني وي. د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې، بشري حقونو د شورا ۱۴ ناسته، د اجنډاء درېيم شمېر مواد، په خپل سر او ناقانونه اعدامونو په هکله د ځانګړي راپور ورکونکی فلپس السټن راپور. ضمىمه،د هدفی وژنو په اړه څېړنه، A/HRC/14/24 Add.6. 10 May 2010.

[155] قربانی شخص د ۲۴ ټيم سره کارکاوه، د افغانستان د امارت د ماين پاکولو پروګرام، د ماين پاکولو دځواک ساتڼ. د ۲۰۱۳ کال د جون د مياشتی ۴، د امارت د ماين پاکولو د پروګرام د ۲۴ ټيم د ځواک ساتڼ د پوځی الوتکو د بمبارۍ په هکله د غری بمی وژونکو داخلی پېښو د څېړنو راپور ته مراجعه وکړی، د ۱۰ څخه ۷ کاپی.

موخه بې نوموړی ته د سرترو د رسدو څخه وړاندې د نوموړی د غابېدلو خطر وه، هغه ونسی او د هغه د څرک معلوم کړی.[156]

دا روښانه نه ده چې ټول پوځي ځواکونه چې په اوس حال کې په افغانستان کې فعالیت ترسره کوي په هوايي عملیاتو کې د وژونکې قوې دکارولو په حواله د ورته معارونو او پالسي ګانو په وړاندې مسوول وی. په دې حواله، یوناما یادونه کوي چې د اساف، امریکايي خاصو ځواکونو، د خاصو عملیاتو امریکايي ځواکونو، د امریکې د متحده ایالاتو د حکومتي نمایندګو تر منځ د فعالیتونو، پالسي ګانو او طرزالعملونو په برخه کې د همغږۍ او پایدارۍ، د سی آی ای په شمول، په خاص ډول د بې پیلوټه الوتکو دکارولو په حواله، د ملکي افغانانو د لا زیاتې ساتنې د ترویج په هکله اصرارکوي.

یوناما یادونه کوي چې اساف موافقه کړې چې یوناما ته د خپلو تاکتیکي او عملیاتي پالسي ګانو چې موخه بې د وسلو دکارولو په وړاندې د هدف نیولو د خصوصیاتو او د مثبت تشخص رامنځ ته کول دي، معلومات وړاندې کړي.[157] داسې ډیالوګ ښايي روښوالي ته وده ورکړی او د اوسنو پالسي ګانو او فعالیتونو په اړه چې څنګه د بشرپالنې د نړیوال قانون سره مطابقت ولري توضیح وړاندې کړي. دا د وړاندې څخه د هوکړی شوو موخو په وړاندې د هوا څخه د مهماتو د فر کولو د استعمال په هکله د خاص اهمیت څخه برخمنه ده.

د اړوندو هوايي پېښو په نورو بېلګوکې لاندې موارد شامل دي:

- د می د میاشتې په ۲۴، اساف د ننګرهار ولایت په اچین ولسوالي کې د دولت ضد عناصرو د هدف نیولو په موخه د بې پیلوټه الوتکې برید ترسره کړ چې په نتیجه کې بې نو ملکي بزګر و وژل شو.
- د مارچ په ۵، نړیوالو پوځي ځواکونو د هلمند ولایت په ناد علی ولسوالي کې د دولت ضد عناصرو د هدف نیولو په موخه د بې پیلوټه الوتکې برید ترسره کړ چې په نتیجه کې بې نو باغي شخص و وژل شو او ۵ نور ملکي کسان ټپیان شول.
- د فبرورۍ په ۱۳، دولت پلوه ځواکونو د کنړ ولایت په شګل ولسوالي کې د دولت ضد عناصرو د مشکوکو موقعیتونو په وړاندې د تلاشي دشپې عملیات ترسره کړل چې په نتیجه کې بې د ځواکونو تر منځ نښتې ته لار هواره شوه. نړیوالو پوځي ځواکونو د دولت ضد عناصرو د هدف نیولو په موخه په یوه انګړ هوايي برید ترسره کړ چې په نتیجه کې بې ۵ ماشومان او ۴ ښځې و وژلی شوې او ۳ ماشومان او یوه ښځه بې ټپي کړل.

## د ځواک د ساتنې پېښې

زما ورور زموږ دکلی څخه د برکی برک د ولسوالي مرکز ته د شپې د ډوډۍ لپاره زما کور ته راغلی وه. د ډوډۍ خوړلو وروسته، هغوي خپل کور ته د تګ پر سر ټېنګارکاوه. د شپې نږدې ۳۰:۸ بجې وې چې هغوي دکور په لټ حرکت وکړ. د لږ ځنډ وروسته ما د ټوپک ډزې واوریدلې. د سهار په

---

[156] د اساف د چارواکو سره د یوناما غونډه، د ۲۰۱۳ کال د جون۱۰، کندهار هوايي ډګر، کندهار. یوناما بیا د اساف سره دا دوسیه راپورته کړه، هغوي په خپل موقف چې په دې هکله کوم معلومات نه لري، ټېنګار وکړ. د اساف په قرارګاه کې د یوناما غونډه، د ۲۰۱۳ کال د جولای ۲ او ۳ نېټې، د اساف قرارګاه، کابل.

[157] د اساف په مرکزی دفترکې د یوناما سره غونډه، ۲۰۱۳ کال د جولای ۲۸، کابل.

> ۰۰:۴ بجو زما د تره زوي ما ته په ژړا راغی. نوموړی و ویل چې نږیوالو ځواکونو زما پلار او ترونه و وژل. موږ د ولسوالي پولسو ته ورغلو. ما د پولسو د یوه کارکونکي څخه وپوښتل چې ایا هغوي ژوندي دي او که نه. نوموړی و ویل، له هغه وروسته چې د هغوي موټر په زرګونو مرمو و ویشتل شو، هغوي و نه توانندل چې ژوندي پاتې شي. ما جسدونه ولدل هغوي هر ځای په مرمو لګدلي وو. موږ ډېر خواشیني شو او دا ډېره له غمه ډکه شېبه وه. ولسوال و ویل چې زما وروڼه بې ګناه وو. ما د امریکایي ځواکونو څخه و پوښتل چې دوي ولې زما وروڼه و وژل. ما غوښتل پوه شم چې هغوي چا او ولې وژلي دي. ما غوښتل پوه شم چې څوک به زما د وروڼو ۲۰ ماشومانو او د هغوي کونډو ته پاملرنه کوي. زما څخه باید بخښنه غوښتل شوې وای. ما د عدالت غوښتنه کوله.
> -- د ۲۰۱۳ کال د جنوري په ۲۶ نېټه د درېو ملکي وژل شویو کسانو ورور، د لوګر ولایت د برکی برک ولسوالي، د افغان ملي پولسو د تلاشي پوسته.[158]

یوناما د ځواک د ساتنی د پېښو په ۲۳ بېلابېلو پېښوکې د وژنې ۲۰ او د ټپي کېدنې ۲۲ پېښې (۴۲ ملکي تلفات) ثبتی کړي دي، دا د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په پرتله ۵۶ سلنه زیاتوالی ښيي. د ۲۰۱۳ کال په لومړیو ۶ میاشتوکې د ملکي تلفاتو په داسې پېښوکې هغه راټيټېدنه چې په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونوکې ثبت شوې وه، دغه زیاتوالی شاته یوړ. د ۲۳ پېښو له جملې څخه ۱۳نړیوالو پوځي ځواکونو ته منسوب شوي، ۹ پېښې افغان ملي امنتي ځواکونو او پاتې پېښې د نړیوالو پوځي ځواکونو او افغان امنتي ځواکونوګډو عملیاتو ته منسوب شوي.

که څه هم چې د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کلونو په پرتله په ۲۰۱۳ کال کې د ځواک د ساتنی د پېښو له امله د داسې پېښو شمېر ډېرکم وه، یوناما د ځینو پوځي ځواکونو له خوا د عندی معارونو د دوامداره کارونې په اړه چې موخه یې د یوه ژر پېښېدونکی ګواښ په حٔث د یوه حالت ارزونه ده څو د وژونکې قوې کارول سم وښيي، خپلې اندېښنی په ډاګه کړي. د بېلګې په توګه د مارچ په ۱۰، نړیوالو خاصو ځواکونو د اروزګان ولایت د چورې په ولسوالي کې په یوه بې وسلې شخص او ښځې چې په یوه موټرسائکل سپاره وه ډزې وکړې چې په نتیجه کې یې شخص و وژل شو او ښځه ټپي شوه. په داسې پېښوکې، داسې ښکاري چې په فردی معارونو تکیه کول او د عملیاتو د چاپېرېال په هکله محدود درک هم ښایې ناسمو پایلو ته لار هواره کړي او داسې ګومان ښایی شوی وی چې ګویا دغی جوړې ځواکونو ته ژر پېښېدونکی ګواښ متوجه کاوه او د هغوي له خوا د وژونکې قوې دکارولو اجابت کړی وي.[159]

د ملکي کسانو د تلفاتو بېلګې چې د ځواک د ساتنی د پېښو په نتیجه کې رامنځ ته کېږي:

- د مارچ په ۳۱، د پروان ولایت د بګرام په ولسوالي کې د نړیوالو پوځي ځواکونو دګزمې ټیم په یوه شخصي موټر ډزې وکړې چې په نتیجه کې یې د یوې کورنۍ درې ملکي کسان ټپیان شول.
- د ۲۰۱۳ کال د مارچ په ۲۴، د هرات ولایت په شن ډنډ ولسوالي کې افغان ملي پوځ په یوه شخصی موټر له هغه وروسته چې موټر و نه دربد ډزې وکړې او په نتیجه کې یې نو ځایي ماشوم و وژل شو.

[158] د ورور سره د یوناما مرکه، کابل ښار، ۲۰۱۳ کال د فبروري ۲۱

[159] د اسساف د چارواکو سره د یوناما مرکه، کابل ښار، ۲۰۱۳ کال د جون ۱۲.

- د جنوري په ۲۶، د لوګر ولایت په برکی برک ولسوالي کې، اساف او د امریکې د متحده اایالاتو د خاصو عملیاتو ځواکونو د اساف د مرکز دروازې ته نږدې په یوه کرولا ډوله موټر ډزې وکړې او درې ملکی کسان چې ورونه وو و وژل.[160]

[160] د امریکې د متحده ااېالاتو د ځانګړو عملیاتو ځواکونو په ولایت کې افغان ملی پوځي ځواکونو مشرتابه او والی ته وېلي چې دا پیښه په غلط فهمۍ ترسره شوې، خو دا معلومه نه ده چې د پیښې په اړه څېړنې ترسره شوي او یا نه. د قربانانو خپلوانو د پیسو د اخستلو نه ډډه کړې (هغوی ته د ۱۰۰۰۰۰ افغانو یا د ۱۸۰۰ امریکایی ډالرو وړاندیز شوی). هغوي د حساب ورکونې او د مرتکبینو د مجازاتو غوښتنه کوله. د یوناما مرکې، لوګر ولایت، د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ او مارچ میاشتې.

## د تلاشي عملیات

> زما پلار بو پخوانی جهادي قوماندان وه. هغه په هېڅ ډول په ناغتوب کې ښکېل نه وه. زما پلار د شپې تر ۱۱:۰۰ تلویزیون لید او بیا ویده شو. نړیوال او افغان پوځي ځواکونه زموږ کور ته د شپې په ۱۱:۳۰ را دننه شول. زما پلار د الوتکو په غږ له خوبه را وېښ شو. افغان او بهرني ځواکونه زموږ کور ته را دننه شول، زما پلار بې ونو، نومړی بې دکور څخه د باندې واست او په ډزو بې و واژه.
> د هغه چا زوي، چې پلار یې د ۲۰۱۳ کال د اپرېل د میاشتې په ۸ نېټه د تخار ولایت د اشکمش په ولسوالي کې د نړیوالو او افغان پوځي ځواکونو د شپنیو عملیاتو پر مهال و وژل شو.[161]

د ۲۰۱۳ کال په لومړیو ۶ میاشتو کې، دولت پلوه ځواکونو د تلاشي په ۲۴ بېلابېلو عملیاتو کې ۱۷ ملکي کسان وژلي او ۱۵ نور یې ټپیان کړي دي (۳۲ ملکي تلفات). دا د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې پرتله د تلاشي په عملیاتو کې د ټولو ملکي تلفاتو په هکله ۱۴ سلنه کموالی ښیي.[162] دا ارقام د ۲۰۰۹ کال څخه بیا تر ۲۰۱۱ کال پورې د ورته ۶ میاشتو په جریان کې د ثبت شوي دوامداره مخ په ځوړ تمایل سره مطابقت لري.

د دې ارقامو سربېره، یوناما د تلاشي په ۵ بېلابېلو عملیاتو کې د ۹ ملکي کسانو وژنه او د ۸ ټپي کېدل (۱۷ ملکي تلفات)، چېرې چې یوناما په دې نه ده توانېدلې چې ملکي تلفات دولت پلوه ځواکونو یا دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي، ثبت کړي دي.

د تلاشي په عملیاتو کې د ملکي کسانو په شمېر کې دکموالي نسبت ښايي تر یوې اندازې د نړیوالو ځواکونو له خوا د عملیاتو د میزان دکموالي او همدارنګه د امنیتي ځواکونو له خوا د عملیاتي فعالیتونو د ښه والي په مسلې پورې تړلی وي.

یوناما څرګندوي چې د تلاشي د عملیاتو څخه د تلاشي د عملیاتو د شمېر او د ملکي تلفاتو په هکله دکره معلوماتو ترلاسه کول یو ستونزمن کار دی او د دې علت د امنیتي ګڼو ارګانونو له خوا دګډو او خپلواکو عملیاتو ترسره کول او همدارنګه د پوځ له خوا د داسې معلوماتو تصنیف کول دي.[163]
یوناما په خپلو وړاندیزونو بیا تاکېدکوي او د دې لپاره چې د ملکي کسانو ساتنه پیاوړې شي، ایساف او افغان ملي امنیتي ځواکونه باید د ملکي کسانو د ژوند او زیان څخه د مخنیوي په خاطر په تاکتیکي لارښودونو او عملیاتي طرزالعملونو له سره کتنه وکړي. یوناما په افغانستان کې د نړیوالو امنیتي مرستندویه ځواکونو د قوماندان د ۲۰۱۳ کال و جولای ۲۳ نېټې د لارښود یادونه کوي چې د ایساف په ټولو تاکتیکي لارښودونو بیا کتنه کوي څو د روانو عملیاتو

[161] دکندز ولایت په کندز ښارکې د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۱۲، د عیني شاهد او د ټولنې د مشرانو سره د یوناما مرکه.

[162] د ۲۰۱۲ کال د جنوری د ۱ نېټې نه د جون د میاشتې تر ۳۰ نېټې پورې، یوناما د د دولت پلوه ځواکونو له خوا د تلاشي د ۲۲ بېلابېلو عملیاتو په ترڅ کې د ملکي کسانو ۲۵ وژنې او د ۱۲ ټپي کېدنې(۳۷ ملکي تلفات) ثبتې کړي دي.

[163] د شپنو عملیاتو د بشپړ شمېر په اړه معلومات د نړیوالو او افغان ملی امنیتي ځواکونو، د ځانګړو ځواکونو، د ځانګړو عملیاتو د ځواکونو او نورو دولتی نمایندګو له خوا په ګډه او خپلواکه توګه ترسره شوي دي او د دې عملیاتو په نتیجه کې د اوښتو ملکي تلفاتو په اړه څرګند معلومات موجود نه دي. یوناما په فعال ډول د تلاشي د عملیاتو په هکله د ملکي تلفاتو د ټولو ادعاګانو څېړنه کوي او د هغه نظارت کوي. د فعالیت د چاپېریال او اطلاعاتو دکم لاسرسی سره د تړلو محدودیتونو په پام کې نیولو سره، ممکن یوناما د تلاشي د عملیاتو په برخه کې د ملکي تلفاتو په اړه کم راپور وړاندې کړي.

ځخه د ترلاسه شویو سبقونو د شریکولو او عملیاتي تړاو څخه ډاډ حاصل کړي. د اساف په وینا، دغه تخنکي لارښود د پوځي عملیاتو د ټولو اړخونو/طف په کچه د ملکي کسانو د ژوند د ساتنې په اهمیت په پرلپسې ډول تاکید کوي.[164] یوناما وړاندې وړاندېزکوي چې افغان ملي امنتي ځواکونه او اساف دې داسې تدبرونه خپل کړي چې د ملکي تلفاتو د ټولو پېښو د مناسب تعقب او څېړنې څخه ډاډحاصل کړي څو وکولای شي روڼوالی او د حساب ورکونې پاوړتنا او د عملیاتي او جګړه سزو فعالیتونو ښه والی ته وده ورکړی.

د تلاشي د عملیاتو په پایله کې د ملکي کسانو د تلفاتو شاملې بېلګې:

- د مې په ۵، امریکایي او افغان خاصو ځواکونو د بغلان ولایت د نهرین په ولسوالي کې د تلاشي شپنۍ عملیات ترسره کړل چې په نتیجه کې یې یو ملکي شخص و وژل شو او دوه ښځې ټپانې شوي.
- د فبروري په ۴، نړیوالو پوځي ځواکونو او افغان ملي امنتي ځواکونو د هرات ولایت د شن ډنډ په ولسوالي کې د تلاشي عملیات ترسره کړل چې موخه یې د دولت ضد عناصرو د دوو قوماندانانو په نښه کول وه. د عملیاتو په ترڅ کې، دوه ښځې او نجونې ماشومانی و وژلی شوې او درې نور ماشومان ټپیان شول.

[164] د اساف د مرکزی دفتر سره د یوناما مرکه، کابل، د ۲۰۱۳ کال د جولای ۲۸، د جولای په ۲۸-۲۹ نېټه د یوناما او اساف تر منځ د ایمل تبادله.

## افغان ملي امنيتي ځواکونه

سهار د وخته د باغيانو او افغان ملي امنيتي ځواکونو تر منځ جګړه ونښته. زما ۱۳ کلن زوي له هغه وروسته چې زما په کور د افغان ملي پوځ نو هاوان ولګېد و وژل شو. له هغه وړاندې چې نوموړی ساه ورکړي، ما هغه يوه خوندي ځای ته په داسې حال کې چې له ما څخه هم پخپله زياتې وينې رواني وې، انتقال کړ. ما د طالبانو نو جنګيالي په لاره ولېد، ما خپل زخمي زوي په څمکه کښنود او طالب مې په څپېړه په مخ وواهه. کله چې هغه زه ولېدم چې زه او زما زوي ټپيان نو او زموږ کالي په وينو ککړ دي پرېې ښودم چې لاړ شم. کله چې زه بېرته خپل زوي ته راستون شوم نو هغه د خپلو ټپونو له امله ساه ورکړې وه. دا زما د ژوند تر ټولو دردناکه او له درده ډکه شېبه وه. زما زوي نو نور زموږ په منځ کې نه شته. زه نه پوهېږم چې ولې موږ افغانانو ته سزا را کول کېږي او دا پوځي شخړه به څومره نور دوام وکړي. زما بل ۱۶ کلن زوي ټپي شوي وه. زما د ښځې مخ د هاوان د مرمۍ له امله سوي او ټپي شوي وه. بل هاوان د ناصر په کلی کې د يوه بزګر په کور ولګېد او د هغه ۷ کلنه لور يې ټپي کړه. بل هاوان د عسی خلو په کلي کې په يوه کور ولګېد او يو درې کلن ماشوم يې ټپي کړ چې دکوما حالت ته ولاړ. زه د افغان ملي پوځ د قوماندان څا چې د ملکي کسانو د کورونو د هدف ګرځولو حکم کړي،عدلی تعقيبول/محاکمه غواړم.

--- پلار، د چا زوي چې د ۲۰۱۳ کال د جون په ۴ دکندز ولات د چاردرې په ولسولۍ کې د افغان ملي پوځ د هاوان په ډزو مړ او بل ټپي شو. [165]

ملکي تلفات

د جنوري د مياشتې د لومړۍ نېټې نه د جون د مياشتې تر ۳۰ نېټې پورې، يوناما د نړيوالو ځواکونو د شتون نه پرته د افغان ملي امنيتي ځواکونو، افغان ملي پوځ، افغان ملي پولسو، افغان سيمه ييزو پولسو او د ملي امنت د رياست په ترسره شويو عملياتوکې د ۳۴ ملکي کسانو د وژنې او ۹۰ کسانو ټپي کېدل ثبت کړي دي.[166] (۱۲۴ ملکي تلفات).[167]

دا د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په پرتله ۱۷۰ سلنه زياتوالی ښيي.[168] زياتره پېښې د هواد په شرقی(۴۷ ملکي تلفات)، شمال شرقي (۲۸ ملکي تلفات) او جنوبي سېموکې (۱۶ ملکي تلفات)واقع شوي دي.

د افغان ملي امنيتي ځواکونو په برخه کې د ملکي تلفاتو زياتوالی د نړيوالو پوځي ځواکونو څخه افغان امنيتي ځواکونو ته د امنيتي مسوولتونو د پرمختګ په حال کې د انتقال مسلې ته منسوبېږي. د افغان ملي پوځ دکارکونکو په حواله، د ۲۰۱۳ کال په لومړيو ۶ مياشتوکې، افغان امنيتي ځواکونو په خپلواکه توګه ۹۰ سلنه پوځي عمليات ترسره کړي.[169] د جون د مياشتې په ۱۸، د امنيتي مسوولتونو ۵ او وروستی پړاو په رسمي توګه د اساف څخه افغان

---

165 د يوناما مرکه، دکندز ولا ت، کندز ښار، ۲۰۱۳ کال د جولای ۶.

166 دغه ارقام د ملکي تلفاتو هغه پېښې په کوموکې چې افغان ځايي پولس ښکېل دی نه رانغاړي.

167 دغه ارقام د ډزو د تبادلې پېښې با د دولت ضد عناصرو سره جګړې چېرې چې د ملکي تلفاتو نسبت روښانه نه وي، نه رانغاړي .

168 يوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړيو ۶ مياشتوکې د افغان ملي ځواکونو له خوا په عملياتوکې د ۱۲ ملکي کسانو وژنې او ۳۴ ملکي کسانو ټپي کېدنې ثبتې کړې دي.

169 د دفاع د وزارت د حقوقی رئيس سره د يوناما غونډه، ۲۰۱۳ کال د مې ۲۲.

ځواکونو ته انتقال شو. د انتقال د ۵ پړاو په مطابقت کې، افغان سرتیري به د ۲۰۱۴ کال تر پایه د پاتې ۱۱ ولایتونو امنیتي مسوولیت په غاړه واخلي.[170]

د یوناما په غوښتنه، د افغان ملي امنیتي ځواکونو ویاند د ملکي کسانو په اړه لاندې تعریف وړاندې کړي، څنګه چې دا د افغان ملي امنیتي ځواکونو د عملیاتو سره تړاو لري:

یو ملکي شخص هغه څوک دی چې د شخړې دکومې ډلې سره تړاو و نه لري، وسله او یونیفورم و نه لري، د بېلګې په توګه ماشومان، د زیات عمر درلودونکي کسان، ملکي کارکونکي، د روغتیا پالنې کارکونکي، انجنیران، ښوونکي یا په بل عبارت هغه کسان چې جنګیالي او یا د افغان ملي امنیتي ځواکونو(افغان ملي پوځ، افغان ملي پولیسو او د ملي امنیت د ریاست) غړي نه وي. دولت ضد عناصر هغه کسان دي چې د دولت پر وړاندې وسله اخلي او په ترهګریزو او ورانکارو فعالیتونوکې ښکېل وي او هغه کسان چې ځانونه د ملکي کسانو په جامه او بڼه کې پټوي سوانحې په هغه صورت کې جنګیالي شمېرل کېږي چې د هغوي په وړاندې اعتبار لرونکي استخباراتي معلومات موجود وي.[171]

د ملکي تلفاتو لپاره د حساب ورکونې نا مناسب تدبیرونه

که څه هم چې افغانانو په عمومي توګه یوناما ته راپور ورکړی او هغوي د نړیوالو ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د امنیت د انتقال د لیږد ستاینه کوي. یوناما د افغان ملي امنیتي ځواکونو د عملیاتو لپاره د نظارت او حساب ورکونې د یوه فعال مکانېزم د نه شتون له امله اندېښنه لري. په ۲۰۱۳ کال کې، یوناما د افغان ملي امنیتي ځواکونو په عملیاتوکې د ملکي تلفاتو د پېښو ثبت کولو ته، هغه چې نه دي څېړل شوي او د ملکي کسانو د پېښو مسوولیت کومې ډلې ته نه دی منسوب شوي، دوام ورکړي. په هغو اکثرو پېښوکې چې یوناما ثبتې کړې، افغان ملي امنیتي ځواکونو یوناما ته ویلي چې دوي د پېښې په اړه معلومات نه لري او یا دا چې پېښه نه ده واقع شوې او یا دا چې پېښه واقع شوې خو افغان ملي امنیتي ځواکونه مسوول نه دي.

د بېلګې په توګه، د مارچ په ۸، د بدخشان ولایت د وردوج په ولسوالي کې، افغان ملي پوځ د دولت ضد عناصرو په شکمنو موقعیتونو د هاوان مرمۍ ګوزارکړي. یوې مرمۍ په یوه کور اصابت وکړ چې په نتېجه کې یې دوه ملکي کسان و وژل شول او نور ۹ تنه ټپیان شول. د افغان ملي پوځ چارواکو په فضل آبادکې په دې پېښه کې خپله ښکېلتیا رد کړه، [172] او و یې ویل چې په دې هکله په کابل کې د هغوي چارواکو لارښودونه نه دي لېږلي او نه یې د ملکیانو د تاوان ورکولو لپاره کومه بودیجه چمتوکړې.

په نورو پېښوکې، که څه هم چې افغان ملي امنیتي ځواکونو سوانحې په یو څو قضوکې څېړنې پیل کړي او مسوولې ډلې یې تر حساب لاندې نیولي دي. یوناما مشاهده کړې چې د قانون پلي کوونکي او قضایي ارګانونه د شکمنو کسانو تحقیقات او عدلي تعقیب په دوامداره توګه حتی د افغان ملي امنیتي ځواکونو د داخلي تحقیقاتو وروسته چې کله د ملکي تلفاتو مسوولیت د افغان ملي امنیتي ځواکونو غړو ته منسوب شوي هم ځنډوي. د بېلګې په توګه،

---

[170] د ناټو موضوعات: "انتقال: افغان مشرتابه ته لیږد "، او "افغان ځواکونه د افغانستان لپاره رهبري په غاړه اخلي"، ویدیویي برخه، http://www.nato.int/cps/en/natoive/topics_accessed14julay2013

[171] د افغان ملی امنیتی ځواکونو د ملکي تلفاتو د معلوملولو د څانګې د مشر سره د یوناما غونډه، د ولسمشر د معلوماتو د همغږۍ دفتر، کابل، ۲۰۱۳ کال د جولای ۱۱.

[172] د بدخشان ولایت په فضل ابادکې د افغان ملی پولسو د قوماندان سره د یوناما غونډه، ۳۰۱۳ کال د مۍ ۱۳.

د مارچ په ۲۳، دکندهار ولایت د پنجوایی په ولسوالي کې، د افغان ملي پولسو یوه کارکوونکي په رڼا ورځ د تلاشي د عملیاتو پر مهال یو ملکي وګړی و واژه. یو شمېر سرچینو د افغان ملي پولسو د یوه کارکوونکی له خوا په خلاص میدان کې د یوه ملکي کس د وژلو تصدیق کړی. افغان ملي پولسو خپل ۶ تنه کارکوونکي نیولي او بیا بې وروسته خوشې کړي دي. د دې کسانو د خوشې کېدو په تعقب، افغان ملي پولسو راپور ورکړ چې هغوي په دې قضیه کې د افغان ملي پولسو دوه تنه نور مرتکبین په نښه کړي دي، چې یو یې په دې وروستوکې د سړک د غاړې د تعبه شویو چاودېدونکو توکو په پېښه کې وژل شوی او بل لا هم لا درکه دی. 173

یوناما د ملکي کسانو د تلفاتو په پېښه کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د حساب ورکونې یو شمېر بېلګې ثبتې کړي دي. د بېلګې په توګه، د مارچ په ۲۴، د هرات ولایت په شین ډنډ ولسوالي کې یو ځایي ماشوم له هغه وروسته چې شخصي موټر یې د دربدو لپاره و نه درېد د افغان ملي پوځ په ډزو و وژل شو. د می په ۲۰، د هرات ولایت د نظامی محکمې مشر یوناما ته ویلي چې مرتکب د رسمي دندې پر مهال د وسلې څخه د ناوړه کارونې په خاطر په دوه کلن بند محکوم شو. ښایي دوسیه استیناف ته ولاړه شي. افغان ملي پولسو هم د قرباني شخص کورنۍ ته تاوان ورکړی.

د ۲۰۱۳ کال په اوږدو کې، یوناما د افغان ملي امنیتي ځواکونو د اړوند چارواکو سره سره خپل منځي دوامداره ناستو ته دوام ورکړی او د ملکي تلفاتو تولې پېښې چې یوناما ثبتې کړي د هغوي سره شریکې کړي دي. په کابل کې دکورنیو چارو او دفاع وزارتونو سره دوره یې ناستې هم جوړې شوي دي. که څه هم چې یوناما د ملکي تلفاتو د پېښو په هکله د افغان ملي امنیتي ځواکونو د ارګانونو څخه د معلوماتو د شریکولو غوښتنه کړې، د یوناما سره د افغان ملي امنیتي ځواکونو ښکېلتیا تر یوې زیاتې اندازې د یوه ځانګړي مقصد پر بنسټ ولاړه وه، او د افغان ملي امنیتي ځواکونو د حساب ورکونې د اوسني مکانېزمونو د محدودیت انعکاس کوي.

د ملکي تلفاتو د کمښت او څېړنو د مستقل تشکل/ جوړښت نه شتون

د امنیت د لېږد د لومړی پړاو د پیل او د هیواد په کچه افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د امنیتي مسوولیتونو د لېږد سربېره، د افغان ملي امنیتي ځواکونو په بېلابېلو ارګانونوکې داسې دایمي جوړښت لا هم موجود نه دی چې د ملکي تلفاتو د ادعاګانو سیستماتیکه څېړنه وکړي، اصلاحي تدبیرونه پیل کړي او تعقیبی اقدامونه ترسره کړي. د ملکي تلفاتو د پېښې څېړنه د قرباني شخص یا شاهد له خوا د شکایت له طریقه یا د داخلي یا نړیوال بشر دوستانه قانون د ماتولو په هکله د افغان ملي پوځ یا افغان ملي پولسو د حقوقي کارکوونکي یا قوماندان د شک پواسطه را منځ ته کېږي.

د ولسمشر د معلوماتو د همغږۍ په مرکزکې د ملکي تلفاتو د معلومولو ټیم، PICC د ۲۰۱۲ کال په می میاشت کې جوړ شو، بواځې هغه راپورونه ثبتوي چې د امنیتي ارګانونه له خوا ورته رسېږي او د انفرادي کسانو او سازمانونو څخه کوم شکایتونه نه تر لاسه کوي. د افغان ملي پولسو او پوځ لوړ پوړي چارواکي په مرکزي او ولایتي کچوکې

173 د ۲۰۱۳ کال د مارچ په ۲۳ په کندهارکې د افغان ملی پولسو د پوځي څارنوال سره د یوناما غونډه. یوناما همدارنګه د ۲۰۱۳ کال د اپریل په ۲۱ د پنجوایی ولسولۍ د ولسوال سره دغه معلومات تصدیق کړل.

په دوامداره توګه په ښکاره وايي چې افغان ملي امنيتي ځواکونه ملکي تلفات نه را منځ ته کوي، حتی که چېرې يوناما د ملکي تلفاتو په اړه هغوي ته شواهد هم برابرکړي.[174]

داسې ښکاري چې افغان چارواکي، د ملکي کسانو د ساتنې په هکله د ولسمشر د مشاور د دفتر په شمول د ملکي تلفاتو د کمولو په موخه کوټلي تدبيرونه نه پلي کوي تر څو دا يقيني کړي چې په جګړه کې ښکيل افغان ځواکونه د پوځي شخړې د زيانونو څخه د ټولنو او ملکي کسانو د ساتلو په موخه اړين تدبيرونه ترسره کړي.[175] د بېلګې په توګه، په ۲۰۱۳ کال کې، يوناما د هاوان، لاسي بمونو او راکټونو په ۲۱ بلابېلو پېښو کې چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا د ځمکنيو ښکېلتياوو پر مهال د دولت ضد عناصرو په موقعيتونو توغول شوي د ۱۴ ملکي کسانو وژل او د ۵۵ کسانو ټپي کېدل(۶۹ ملکي تلفات) ثبت کړي دي. په ۲۰۱۲ کال کې، يوناما د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا دې ته ورته يوه پېښه چې په نتيجه کې يې يو ملکي شخص وژل شوی او دوه نور ټپيان شوي. د ملکي کسانو په شمېرکې زياتوالی د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا د زياتو خپلواکو عملياتو د ترسره کولو د مسلې سره اړخ لګوي، خو د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا د ښکېلتيا نه وړاندې د هدف نيولو په معيارونو بايد له سره کتنه وشي څو ملکي کسانو ته د زيان اړولوکچه راکمه او همدارنګه داسې نور لارښودنه چې موخه يې د ملکي کسانو ساتنه وي، پلي کړي.

که څه هم چې د دولت له اړخه د ملکي کسانو د تلفاتو د معلومولو اوکمولو په موخه ځينې هڅې په لار اچول شوې، يوناما د افغان ملي امنيتي ځواکونو د مشرتابه د نه علاقې او بې ملي‌ړ په هکله څو د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا د رامنځ ته شويو ملکي تلفاتو په تړاو څېړنې وکړي او حساب ورکونه يقيني کړي، انديښنه لري. د ناکافي هڅو يوه پايله هم په دې هکله دا ده چې په ډېر قوي احتمال د ملکي تلفاتوکچه چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د عملياتو په پايله کې رامنځ ته شوې په سمه توګه نه ده راپور شوې.

## د دولت پلوه ځواکونو حساب ورکونه- د مدان ورد‌ګو د قضيې څېړل

نږدې ۱۱:۰۰ بجې وې. موږ دکلي په جومات کې د قران شريف تلاوت کاوه. موږ ۶ کسان او څو ماشومان وو. ناڅاپه دوه امريکايي سرتېري، يو افغان ژباړونکی او د افغان ملي پوځ يو سرتېری جومات ته را ننوتل. هغوي په انګليسي خبرې کولې او ژباړونکي هغه ژباړلې. هغوي موږ تلاشي کړو او موږ يې د جومات څخه د باندې را و ايستلو. ما شاخوا ۳۰ امريکايي او افغان سرتېري،۴ موټر سايکل او پوځي لارۍ د جومات د باندې ولدل. هغوي ماشومان خوشې کړل او موږ (۶ کسان) يې په يوه کنډواله کور کې توقيف کړو. دوو امريکايي سرتېرو او افغان ژباړونکي په آهنګرانوکلی کې د تعبه شويو چاودېدونکو توکو په هکله زموږ څخه پوښتنې وکړې. موږ هغوي ته و ويل چې په دې هکله نه پوهېږو. بيا هغوي د ډنډو او د ټوپک د مېل پواسطه زموږ په وهلو پيل وکړ. زما د ښي غوږ د شاته برخې څخه وينې روانې وې. هغوي موږ په مرګ وګواښلو، موږ يې په ځمکه پرې اېستلو او موږ ته يې ټوپکونه ونيول. په دې وخت کې، د ملي پوځ يو کارکونکی راغی او مداخله يې وکړه. د امريکايي قوماندان او افغان چارواکي تر منځ تندې خبرې تبادله شوې. امريکايي چارواکي افغان چارواکي ته خپل ټوپک ونيو خو د افغان

---

174 د وګړو د ساتنې په هکله په کنفرانسونوکې يوناما ګډون کړی، د ايساف قرارګاه، کابل، ۲۰۱۲.

175 د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په مياشت کې، حکومت ډاکټر مدبر د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د ولسمشر د مشاور په حث وټاکه

> پوځ نوه بل چارواکي د افغان چارواکي ملاتړ وکړ. افغان ملي پوځ و ویل چې موږ بې ګناه نو. بیا موږ د افغان ملي پوځ سرترو د هغه ځای څخه د باندې و اسستلو. هغوي زموږ څخه ځلور ډېر سخت ټپيان د مېدان ښار عامه روغتون او دوه پاتې د افغان ملي پوځ د نرخ اډې ته بوتلو. هغوي دواړه په هم هغه ماښام د بند څخه خوشې شول. زه د نوې اونۍ لپاره په روغتون کې د درملنې په موخه پاتې شوم او اوس هم په دوامداره توګه د سر درد لرم.
>
> د وردګو ولایت په مېدان ښارکې دګډو پوځي عملیاتو پر مهال چې د ۲۰۱۳ کال د جنوري په ۲۷ ترسره شول، د ناوړه چلند په هکله یو قرباني او شاهد.[176]

یوناما د ۲۰۱۲ کال د نومبر او د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ د میاشتو تر منځ د مېدان وردګو په ولایت کې د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ورکېدو،خپل سره وژنو او ځورونو یو شمېر ادعاګانی ثبتې کړي دي. دغه ادعاګانې د نړیوالو رسنیو له طریقه هم په پراخه پیمانه څرګندې شوي دي.

یوناما د مېدان وردګو د ولایت په نرخ او مېدان ښار ولسوالوکې د ۲۰۱۲ کال د نومبر او د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ د میاشتو تر منځ د ځورونو دوه، د وژنو درې او د اجباري ورکېدنو ۱۰ پېښې ثبتې کړي دي. شاهدانو او قربانانو یوناما ته ویلي چې مرتکبین امریکایي سرتري او د هغوي افغان ژباړونکي وو. د یوناما څېړونو موندلې چې د افغان ملي پوځ پرسونل لږ تر لږه په درېو پېښوکې موجود وه. د ۲۰۱۳ کال د اپریل او جون په میاشتوکې، دکورنیو غړیو او ځایي چارواکو د هغو ۱۰ کسانو د جسدونو د موندلو په هکله چې دوي یې د ورکېدو په اړه راپور ورکړی وه، دغه مړي د مېدان وردګو په نرخ ولسوالي کې د امریکایي خاصو عملیاتو د ځواکونو د پخوانی اډې سره نږدې موندلی.[177]

د ۲۰۱۲ کال د نومبر د میاشتې راهسې، د ولسمشر دفتر د حقیقت موندنې لږ تر لږه درې هیئتونه وګومارل څو ادعاګانې وڅېړي، خو هیئتونه په دې ونه توانېدل چې د ممکنو مرتکبینو په اړه عمومي توافق ته ورسېږی.[178]

د دې ادعاوو په غبرګون کې اساف یو مطبوعاتی بیان خپور کړ او په هغه کې راغلي، ائتلافی ځواکونه په دې مصمم دي چې یو ملکي افغان چې په سیمه کې یې د یوه افغان ژباړونکي په حث کارکاوه د یوه توقف شوي شخص د

[176] د یوناما مرکې، کابل ولایت، د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ ۱۱.

[177] د یوناما د پېښو په څېړنوکې د ۴۰ نه د زیاتوکسانو سره مرکې او د نورو شواهدو او اسنادو په برخه کې بیا کتنه شامله ده.

[178] لومړی هیئت د ۲۰۱۲ کال د ډسمبر د میاشتې په ۹ د یوه شکایت په غبرګون کې چې د قربانانو د یوې ډلې او ولایتي شورا د غړو له خوا د ولسمشر دفتر ته وړاندې شوي وه، تشکیل شو. د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ د میاشتې په ۷، د یوناما سره په یوه ناسته کې، د ولسمشر د معلوماتو د همغږۍ د دفتر دووکارکونکو و ویل چې هیئت د ملي امنیت شورا ته مختصر معلومات وړاندې کړل، خو دوي ونه توانېدل چې د بشري حقونو د سرغړونو/ترېو په هکله فهرست تیارکړي او یا ممکنه مرتکبین وپېژني. یوه بل هیئت د ۲۰۱۳ کال په جنورۍ میاشت کې دغه مسله تر بحث لاندې ونیوله، که څه هم چې د دې هیئت موندنې په تولیز ډول خپرې او د یوناما سره شریکې نه شوې. د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ په ۲۴، د حقیقت موندنې د هیئتونو د معلوماتو په تعقیب، افغان ملی امنیتي ځواکونو د دفاع وزارت ته دنده وسپارله څو خپله پریکړه عملي کړي او د ۲۰۱۳ کال د مارچ تر ۱۰ د مېدان وردګو د ولایت څخه د امریکایی ځانګړو عملیاتو ځواکونه وباسي. د افغان ملی امنیتي ځواکونو د پریکړې په تعقیب، د افغان حکومت او امریکایی چارواکو تر منځ خبرې اترې پیل شوي او په نتیجه کې یی د ۲۰۱۳ کال د مارچ په ۴ د حقیقت موندنې یوګډ هیئت چې د افغان چارواکو (د دفاع اوکورنیو چارو د وزارتونو او ملی امنیت د ریاست) او امریکایی ځواکونو (د امریکې د متحده ایالاتو، اساف او د امریکا د ځانګړو عملیاتو ځواکونو) څخه متشکل دی، جوړ شو. ګډ تحقیقاتی هیئت و نه توانېد چې د پېښې په اړه یوه عامه توافق ته ورسېږي. د هیئت افغان غړو ادعاءکوله چې د امریکا د ځانګړو عملیاتو ځواکونه په نا قانونه وژنو، ځورونو او اجباري ورکېدنوکې ښکیل دي خو امریکایی غړو د خپلو ځواکونو ښکیلتیا ردوله. د هغو سرچینو په حواله چې د یوناما له خوا ورسره خبرې شوي، ښکاري چې دګډ تحقیقاتی هیئت راپور په کابل کې د اړوندو چارواکو سره شریک شوی دی.

ګواښلو پر مهال په وډيوکې ثبت شوی. دګواښلو پر مهال، توقف شوي شخص د افغان ملي امنتي ځواکونو په يوه ګوښه دولتي ځای کې په توقف کې وه. د يوناما بشپړې بياکتنې د دې خبرې تصديق کړی چې په پېښه کې ائتلافي ځواکونه موجود او ښکيل نه وو.[179]

د ۲۰۱۳ کال د جولای په ۷، دکندهار د ملي امنت رياست د دې ادعاګانو په تړاو د يوه افغان شخص د نيولو راپور ورکړ.[180] د ملي امنت رياست د توقف شوي شخص په وړاندې د څېړنو د وسعت او اتهامونو په هکله په عامه توګه څه و نه ويل.

د ۲۰۱۳ کال د جولای په ۱۱، د اساف قوماندان په افغانستان کې د امريکې د متحده ايالاتو د اردو د جنايي څېړنو د مرکز څخه غوښتنه وکړه چې د ۲۰۱۲ کال د نومبر او د ۲۰۱۳ کال د مارچ د مياشتو تر منځ د مېدان وردګو په ولايت کې د نړيوالو ځواکونو په وړاندې د ټولو ادعاګانو په هکله پراخې څېړنې ترسره کړي.[181]

راپور شوي ورکېدنې، د قانون د باندې له خپل سرې وژنې او ځورونې- که چېرې ثابتې شي چې دا د پوځي شخړې د يوې ډلې تر ملاتړ لاندې ترسره شوي- ښايي په جنګي جرمونو کې راشي. د ۲۰۱۳ کال د جولای څخه، د پېښو د بشپړې اندازې او دا چې کومه ډله د ادعاء شويو جرمونو ابتدايي مسوولت مني، په عام ډول نه دي خپرې شوي. د داخلي څېړنو ماهيت او موندنې چې د اساف، امريکايي خاصو عملياتو د ځواکونو او افغان ملي امنتي ځواکونو په دننه کې ترسره شوي او هر ډول تعقيبي اقدامونه چې موخه يې د حساب ورکونې تر سره کول وو په اوس وخت کې معلوم نه دي او په عام ډول نه دي خپاره شوي.

## د تعبه شويو چاودېدونکو توکو سره مبارزه- او د تعبه شويو چاودېدونکو توکو شنډول

د امنيتي مسوولتونو د لېږد د ډېر ژر بشپړوالي سره، يوناما د تعبه شويو توکو سره د مبارزې او د تعبه شويو چاودېدونکو توکو د شنډولو په برخه کې د نړيوالې ټولنې، په ځانګړې توګه د اساف له خوا د برابرو شويو سرچينو په هکله دکموالي په اړه د اندېښنو يادونه کړې. په افغانستان کې د عمومي نا امنۍ او د ملکي افغانانو په وړاندې د تعبه شويو چاودېدونکو توکو د مخ پر زياتېدونکي ګواښ په پام کې نيولو سره، هغه سرچينې چې په او س مهال کې د تعبه شويو چاودېدونکو توکو سره د مبارزې او د تعبه شويو چاودېدونکو توکو د شنډولو لپاره ځانګړې شوي وسائل او تقويه شي. د پالسۍ د انکشاف، قوماندې/کنترول او د تعبه شويو چاودېدونکو توکو سره د مبارزې او د همغږۍ هغه مهمې مسالې چې د موثره پلي کولو لپاره ضروري دي د اساف او افغانستان د حکومت تر منځ د لوړې کچې د دوامدارې ښکېلتيا لپاره د خاص اهمت لرونکي او ضروري دي.

يوناما په ۲۰۱۳ کال کې د افغانستان د حکومت له خوا د ترسره شويو اقداماتو هرکلی کوي چې موخه يې د تعبه شويو چاودېدونکو توکو دګواښ پر وړاندې د افغان امنيتي ځواکونو د ظرفت لا پراختيا ده، د بېلګې په توګه، د افغان امنيتي ځواکونو سره د تعبه شويو چاودېدونکو توکو په وړاندې د مبارزې سره د غبرګون د تيمونو لا انکشاف، د بايو متريک

[179] د اساف مطبوعاتي بيان، د ۲۰۱۳ کال د جنوری ۷.

[180] د ملی امنت د رياست اوکورنو چارو د وزارت دکارکونکو سره د يوناما مرکې، کابل، د ۲۰۱۳ کال جولای.

[181] د اساف د قرارګاه سره د يوناما غونډه، د ۲۰۱۳ کال د جولای ۲۸، کابل. د يوناما او اساف تر منځ د ايمل رابطه، ۲۸-۲۹ جولای، ۲۰۱۳.

لابراتوارونو د ظرفت ښه والی او په دې وروستوکې ځمکني مخه نیونکي بریښنای تدبیرونه شامل دي. د تعبه شویو چاودېدونکو توکو د مخ پر زیاتېدونکي ګواښ په پام کې نیولو سره، یوناما د افغانستان د حکومت لپاره د اساف او نړیوالې ټولنې له خوا د دوامداره ملاتړ په اړتیا ټینګارکوي څو ډاډ حاصل شي چې افغان ملي امنیتي ځواکونه روزل شوي، هڅوي ته سرچینې برابرې شوي او په ۲۰۱۴ کال کې د انتقال د بشپړېدو څخه وروسته په بشپړه توګه د تعبه شویو چاودېدونکو توکو پر وړاندې د مبارزې د پر مخ وړلو او رهبرۍ وړتیا ولري.

د تعبه شویو چاودېدونکو توکو پر وړاندې د مبارزې د ملي ستراتیژۍ[182] پلي کول به د افغانستان د حکومت دوامداره او اوږدمهاله ملاتړ ته اړتیا ولري. یوناما په ۲۰۱۳ کال کې د نویو پرمختګونو هرکلی کوي، په دې کې د افغان ملي پوځ د انجنیرۍ د ریاست دکنترول او د تعبه شویو توکو سره د مبارزې د ریاست او د ریاست په دننه کې د افغان لوړ رتبه کارکونکو په حث په دندو د ۲۵ کارکونکوګومارل شامل دي.[183] د اساف د چارواکو په حواله، دا دفتر اوس د افغان ملي پوځ د چاودېدونکو مهماتو د شنډولو د روزنو، سرچینو اوکنترول او د تعبه شویو چاودېدونکو توکو د شنډولو وړتیا او ظرفت لري.[184]

د تعبه شویو چاودېدونکو توکو پر وړاندې د مبارزې بریالي پلي کول او د افغان ملی امنیتي ځواکونو د بشپړ ظرفت انکشاف او د تعبه شویو چاودېدونکو توکو د تولد او خښولو د شبکو تعقب، پېژندل او معلومول به د انتقال د پروسې او د ملکي کسانو د ساتنې د ښه والي لپاره د قانون د حاکمت د نهادونو لپاره مهم وي. په دې هکله، یوناما د افغانستان د حکومت څخه غوښتنه کوي څو د بایومتریک او جرمی تخنکونو په اړه د ولسمشر فرمان چې د اړوندو امنیتي وزارتونو له خوا په ۲۰۱۲ کال کې په ګډه تصویب شو، لاسلیک کړي. دغه فرمان د جرم د صحنې د څېړنو، د محل د امنت، د شواهدو د راټولولو او چاودنو په برخه کې نقشونه او مسولیتونه ټاکي، او د ملي بایومتریک او جنایی جرمونو د ستراتیژۍ د جوړولو لپاره چوکاټ برابروي. دغه فرمان د تعبه شویو چاودېدنکو توکو پر وړاندې د مبارزې د سرتاسري ستراتیژۍ لپاره مهم دی، ځکه چې د ۲۰۱۴ کال نه وروسته به د افغانستان حکومت د بایومتریک او عدلي شواهدو د جمع کولو، تحلیل او پروسس کولو مسوول وي. د یوې اړوندی او یو بل سره تړلې پالیسۍ پرته، جنایی محکومتونه چې د عدلي طب او بایومتریک اطلاعاتو پواسطه یې ملاتړکیږي، ډېر ستونزمن وي.

ناتو/اساف، په خاص ډول د ځنو دودېزو جګړه ییزو وسلو په هکله د میثاق د دوهم تعدیل شوي پروتوکول (CCW APII) په مقابل کې لاسلیک کونکي هیوادونه،[185] باید د افغانستان د حکومت د ملاتړ په موخه اضافي

---

[182] د ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۴، د افغانستان امنت شورا د تعبه شویو چاودېدونکو توکو پر ضد د مبارزې ملی ستراتیژی تصوب کړه چې موخه یې د داسې عملیاتو د ترسره کولو په برخه کې د اړوندو امنیتي نهادونو تر منځ د همغږۍ برابرول دي.

[183] د تعبه شویو چاودېدونکو توکو پر وړاندې د مبارزې د پالیسۍ د څانګې سره د یوناما غونډه، د اساف قرارګاه، کابل، جون ۲۳، ۲۰۱۳.

[184] د تعبه شویو چاودېدونکو توکو پر وړاندې د مبارزې د پالیسۍ د څانګې سره د یوناما غونډه، د اساف قرارګاه، کابل،جون ۲۸، ۲۰۱۳.

[185] د ناتو او اساف په چوکاټ کې د سرتړو ورکونکو ۵۰ هیوادونو له جملې څخه ۴۲ هیوادونو تعدیل شوي CCW APII تصوب کړي. البانیا، استرالیا، اطریش، بلجیم، بوسنیا او هرتزیګوینیا، کانادا، کروشیا، چیک، ډنمارک، السلوادور، استونیا، فنلنډ، فرانسې، المان، یونان، هنګری، ایسلانډ، ایتالیا، اردون، لاتویا، لتوانیا، لوکزامبورګ، د پخوانی یوګوسلاویا د ماساډونیا جمهوریت، مونتینګرو، هالنډ، نوی زیلانډ، ناروی، پولنډ، پرتګال، دکوریا جمهوریت، رومانیا سلوواکیا، سلووینیا، هسپانیه، سویډن، ترکیه، اوکراین، انګلستان او امریکا.

سرچینې برابرې کړې څو د تعبه شویو چاودیدونکو توکو پر وړاندې د مبارزې او د تعبه شویو چاودیدونکو توکو د شنډولو د عملیاتو د اغیزمن او متمرکزه مدیریت او تنظیم څخه ډاډ حاصل شي.[186]

## افغان سمه سیز پولیس او د ملکي کسانو ساتنه

زما خوښنه په کور کې وه چې کله د عسکي خلو په سمه کی د یاغیانو او سمه سیزو پولیسو تر منځ جګړه ونښته. کله چې هغی فکر وکړ چې ماشومان یې د باندې لوبې کوي، نو د کور دروازې ته ورغله تر څو خپلو ماشومانو ته و وایی چې کور ته را دننه شي. کله چې نوموړی دروازه وازه کړه، نو د افغان سمه سیزو پولیسو قوماندان په هغې ډزې وکړې او هغه یې له پښو وغورځوله. د افغان سمه سیزو پولیسو ډلې حتی د نوموړې په زوي چې د باندې یې لوبې کولې د ټوپک ماشه را کش او د نوموړې خوا ته یې په ننه کړه. نوموړی د یاغیانو له خوا نه،ه، بلکه د افغان سمه سیزو پولیسو په ډزو و وژل شو ځکه چې نور نو یاغیان په سمه کې نه وو.
دکندز ولایت د چهار درې په ولسوالي کې د ۲۰۱۳ کال د می د میاشتې په ۱۸ نیټه د افغان سمه سیزو پولیسو له خوا د وژل شویو قربانانو خپلوان[187]

په ۲۰۱۳ کال کې، یوناما د هیواد په کچه د افغان سمه سیزو پولیسو د ځواکونو د سلوک په اړه مختلط راپورونه ترلاسه کړي. په یو شمیر ولسوالیو کې، ځایي ټولنو د افغان سمه سیزو پولیسو د عملیاتو د ترسره کولو له امله د ښه امنیت د ټینګښت راپور ورکړی.

یوناما همدارنګه د افغان سمه سیزو پولیسو له خوا د بشري حقونو د سرغړونې ثبتولو او همدارنګه د ملکي تلفاتو کوم چې د هغوي د عملیاتو په نتیجه کې رامنځ ته شوي، دوام ورکړی. د جنوري د لومړۍ نیټې نه د جون د میاشتې تر ۳۰ نیټې پورې، یوناما په ۳۲ بیلابیلو پیښوکې د ملکي کسانو ۱۴ پیښې او د ټپي کیدنو ۲۳ پیښې ثبتې کړې چې افغان سمه سیزو پولیسو ته منسوبیږي، دا د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په پرتله ۶۱ سلنه زیاتوالی ښیي، چې کله یوناما ۱۹ پیښې ثبتې کړې چې په نتیجه کې یې د وژنو ۱۵ او د ټپي کیدو ۸ پیښې رامنځ ته شوې.[188]

د هغو ملکي تلفاتو زیاتره برخه چې یوناما ثبت کړي، د ملکي کسانو په وړاندې د افغان سمه سیزو پولیسو د غړو له خوا د بشري حقونو د سرغړونو د ارتکاب په پایله کې را منځ ته شوي.

یوناما د افغان سمه سیزو پولیسو له خوا د بشري حقونو د سرغړونې زیاتره پیښې د هیواد په شمال شرقی سمه کې ثبتې کړې. لکه څنګه چې په مخکنو راپورونوکې ثبت شوي، د راپور ورکولو د همدې مودې پر مهال، یوناما د افغان سمه سیزو پولیسو له خوا د قتل، ځورونې، جنسي تیري، ګواښ، ډارونې، شکنجې، اجباری کار، شوکونې او نا

[186] د هیواد پر سر د ناټو او ایساف ونډه، HTTP://WWW.ISAF.NATO.INT/TROOP-NUMBER-AND-CONTRIBUTION/INDEX.PHP

[187] د یوناما مرکه، کندز ښار، کندز ولایت، د می ۲۰، ۲۰۱۳ کال.

[188] د ۲۰۱۳ کال په لومړیو ۶ میاشتوکې، د افغان محلی پولیسو د عملیاتو په پرتله د افغان سمه سیزو پولیسو په عملیاتوکې ملکي کسانو ته زیات تلفات اوښتي دي، دا تلفات ۲۷ تنه ملکي کسان دي. د افغان ملی پوځ د عملیاتو په پرتله د افغان سمه سیزو پولیسو په عملیاتوکې ملکي کسانو ته کم تلفات اوښتي دي، دا تلفات د ورته راپور شوې مودې پر مهال ۴۴ ملکي تنه وو.

قانونه مالیاتو (د عشر د ورکولو لپاره د تولنو اړ استل)د ثبتولو پیښو ته دوام ورکړی.[189] یوناما همدارنګه د افغان سمه سزو پولسو له خوا د ملکي کورونو د نولو بلګې او د افغان سمه سزو پولسو د غړو له خوا د تولنو څخه د ناقانونه مالیاتو د شوکونې پراخ فعالت هم ثبت کړی دی. د هواد په بو شمېر شمال شرقي او شمالي سېموکې د غیر قانوني مالیاتو د شوکونې دوامداره راپورونه ورکړل شوي.

یوناما همدارنګه د ملکي کسانو په اړه هغه تلفات چې د افغان سمه سزو پولسو د ځمکنو ښکلتاوو له امله را ولاړېږي ثبت کړي دي، د ځمکنو ښکلتاوو په پېښوکې د دوو وژنو او اوو ټپي کېدنو پېښې شاملې دي.

افغان سمه سزو پولسو ته د منسوب شویو بشري حقونو د سرغړونو د پېښو بېلګې:

- د می په لومړۍ نېټه، د لغمان ولات د مهترلام په ولسوالي کې د افغان سمه سزو پولسو په بوه نقله وسېله له لېرې څخه کنترول شوی ځاي پر ځاي کړای شوی چاودېدونکی توکی RCIED وچاود چې په نتېجه کې بې د افغان سمه سزو پولسو دوه کارکونکي ټپي‌ان شول. د افغان سمه سزو پولسو بوه قوماندان د ور څېرمه امنتي پوستې څخه دوه تنه ملکي کسان د دولت ضد عناصرو سره د ملاتړ په تور ونول او دواړه بې ډېر و وهل. د دې جملې څخه بو قرباني شخص ډېر شدید ټپي او د مهترلام په عامه روغتون کې بستري شو.
- د اپرېل په ۲۲مه، د لوګر ولات د پل علم په ولسوالي کې د تعبه شویو چاودېدونکو توکو بو ماین د موقع نه وړاندې و چاودید او د دولت ضد عناصرو د ډلې ۴ غړي بې و وژل. د وژل شویوکسانو د خښولو د مراسمو پر مهال، د افغان سمه سزو پولسو بوه قوماندان د خښولو د مراسمو بوګډون وال ودراوه په ډزو بې و ویشت او ویی واژه. د ادعاء له مخې، قوماندان په قرباني شخص د دولت ضد عناصرو د غړي شک کړی و.
- د مارچ په ۲۲مه، دکندز ولات د دشت ارچي په ولسوالي کې د افغان سمه سزو پولسو د تلاشي پوستې ته څېرمه د تعبه شویو چاودېدونکو توکو د چاودنې وروسته د افغان سمه سزو پولسو بو قوماندان او د سمه سزو پولسو غړو د تلاشي عملیات ترسره کړل. د تلاشي د عملیاتو پر مهال، د افغان سمه سزو پولسو ډلې ۷ تنه ملکي کسان چې په هغوکې بوه ښځه او بو ماشوم شامل وو د ټوپک په کونداغونو او لرګیو و وهل.
- دمارچ په ۷مه، دکندز ولات د چهار درې په ولسوالي کې، د افغان محلي پولسو دوو قوماندانانو ځایي خلک څورولي او هغوي بې د سون د لرګیو او بادامو د خرڅلاو په خاطر د عشر ورکولو ته په اجباری ډول اړ استی.
- د فبرورۍ په ۱۶مه، د غزني ولات د قره باغ په ولسوالي کې، د سمه سزو پولسو بوه نقله وسله د لېرې واټن څخه په کنترول شوي تعبه شوي چاودېدونکي توکي ور برابره شوه. د چاودنې نه وروسته د افغان سمه سزو پولسو غړو دوه ملکي وګړي په ډزو ټپیان او هغوي بې د ماین په خښولو او د دولت ضد عناصرو سره د اړیکو په درلودلو تورن کړل.

---

[189] دکرهنېزو محصولاتو په هکله ۱۰ سلنه تادیات عشر دی. د ملکي کسانو د ساتنې په هکله د یوناما د ۲۰۱۲ کال نمایی راپور ته مراجعه وکړئ، ۲۶ پاڼه.

یوناما مشاهده کړې ده که څه هم چې د افغان سیمه ییزو پولیسو ریاست او جګپوړي مشرتابه د افغان سیمه ییزو پولیسو د حساب ورکونې رښتیني ژمنه څرګنده کړې خو په ولایتي کچو کې د چارواکو وړتیا او انګیزه چې د افغان سیمه ییزو پولیسو شکمن غړي محاکمه کړي، لا هم کمزورې ده. په داسې حال کې چې چارواکو اکثرا په ولایتي او د ولسوالیو په کچو کې څېړنې پیل کړي، یوناما په مکرر ډول په بېلابېلو مرحلو کې د طرزالعملي بهیر ځنډ مشاهده کړی، په عمومي توګه، دغه روش ددې باعث شوی چې مرتکبین معافیت تر لاسه کړی او خپلو دندو ته بیا ستانه شی. په داسې حال کې چې د افغان سیمه ییزو پولیسو یو شمیر سرغړونکي د سرغړونو له امله له دندو ګوښه شوي، خو د هغوي اکثریت، په خاص ډول د هواد په شمال شرق کې، د خپلو عملونو لپاره دکوم ډول حقوقی عکس العمل سره نه دي مخ شوي.

بل عامل چې د افغان سیمه ییزو پولیسو حساب ورکونه متاثره کوي هغه د شواهدو نا سم ثبت او د غچ اخستلو د ډار له امله د شاهدیٔ ورکولو په هکله د شاهدانو او قربانیانو بې مېلي وه. په یو شمیر زیاتو مواردو کې، قربانیانو ویلي چې دوي د افغان سیمه ییزو پولیسو په وړاندې د شاهدیٔ ورکولو څخه په دې خاطر ډډه کوي چې هغوي بیا خو د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا تهدید شوي او یا په ټولنه کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د قوماندان د نفوذ د وېرې شاهدی نه شي ورکولای.

د بېلګې په توګه، د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ په ۷مه، دکندز ولایت د امام صاحب په ولسوالي کې د ۵ کسانو له خوا د امام صاحب د ولسوالي څخه د افغان سیمه ییزو پولیسو د دوو غړو په شمول په دوو هلکانو ډله ییز جنسی تیری وشو. د افغان ملي پولیسو د جنایی څېړنو څانګې یوناما ته د دې خبرې تصدیق وکړ چې د دې پېښې په تړاو د افغان سیمه ییزو پولیسو دوه تنه غړي نیول شوي دي. د استیناف د محکمې څارنوال د افغان سیمه ییزو پولیسو غړي له هغه وروسته په ضمانت خوشې کړل او قربانیان وګواښل شول تر څو د افغان سیمه ییزو پولیسو د غړو په وړاندې خپل شکایتونه بیرته واخلي. په یوه بله بېلګه کې، د مارچ په ۶مه، دکندز ولایت د دشتې ارچي په ولسوالي کې د افغان سیمه ییزو پولیسو یوه قوماندان او د هغه وسله والوکسانو دوه ملکي کسان په ډزو و ویشتل او هغوي بې ټپیان کړل. دا پېښه د یوې داخلي شخړې سره چې د قوماندان کورنۍ په کې ښکېله وه، تړاو لري. د یوناما نظارت څرګنده کړه چې ځایي چارواکو د دې پېښې هیڅ ډول څېړنه نه ده کړې. په کابل کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د نظارت څانګې د ولسوالي د چارواکو د همکاریٔ د نه شتون په هکله اندېښنه څرګنده کړه چې دکوم ډول اقدام په ترسره کولو و نه توانېدل.[190]

کله ناکله ځایي چارواکی د افغان سیمه ییزو پولیسو د یوه شکمن غړي بیا ګومارل د عملیاتي او امنیتي اړتیا له مخې اړین بولي. د بېلګې په توګه، چارواکي په ټولیز ډول استدلال کوي چې که چېرې د افغان سیمه ییزو پولیسو پوستې خالی پاتې شي، ښایي د دولت ضد عناصر په پوستو بریدونه وکړي او پوستې لاندې کړي، دا په ځینو سیمو کې د امنیت د ساتلو په برخه کې د افغان سیمه ییزو پولیسو په هکله د ځایي امنیتي نهادونو لوړه اتکاه ښیي.

په نورو قضیو کې څېړنې او محاکمې متوقفې او یا ځنډېدلې دي ځکه چې ځایي چارواکو ادعاء کړې چې دا د افغان سیمه ییزو پولیسو د شکمنو غړو لپاره ډېره خطر ناکه ده چې د څېړنو د ترسره کولو په مقصد له خپلو پوستو څخه د سفرکولو په موخه د باندې ووځي. چارواکو اکثرا یوناما ته د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د بریدونو په

[190] دافغان سیمه ییزو پولیسو د نظارت د څانګې د مشر سره غونډه، کابل ښار، د اپریل ۱۳، ۲۰۱۳.

وړاندې د افغان سمه سزو پولسو د غړو په خطرکې د واقع کدلو په هکله چې کله هغوي د ولاېت په دننه کې سفر کوي، څرګنده کړې. په څېړنوکې دګډون په موخه د افغان سمه سزو پولسو د شکمنو غړو د سفر په تړاو بې ملی ښاېي په دندوکې د افغان سمه سزو پولسو د موجودو غړو د محدود شمېر په اړه او د افغان سمه سزو پولسو په وړاندې د بردونو د زیاتوالي له امله د اندېښنو سره تړاو ولري.[191]

د بېلګې په توګه، د اپرېل په ۲۲مه، د دولت ضد عناصرو د غړو د خښولو په مراسموکې د یوه ملکي شخص د ویشتلو په تعقب، د لوګر ولاېت د پل علم په ولسوالي کې، افغان ملي پولسو د افغان سمه سزو پولسو قوماندان چې د ادعاء له مخې مسوول و، ونیو. چارواکو بیا وروسته د افغان سمه سزو پولسو قوماندان خوشې کړ او ادعاء یې کوله چې د قوماندان نه شتون ښاېي امنیتي تشه رامنځ ته کړي او ښاېي د دولت ضد عناصرو لپاره د برید نو فرصت را منځ ته کړي.[192] نورو ځایي چارواکو بیا په دې معلوماتو اعتراض وکړ او یوناما ته یې و ویل چې هغه شخص چې د افغان سمه سزو پولسو د قوماندان له خوا په ډزو و ویشتل شو د طالبانو غړي و، خو افغان سمه سزو پولسو ته د جګړه سزو عملیاتو د پیل اختیارات نه دي ورکړل شوي. ورته سرچېنو یوناما ته ویلي چې دوسه اوس تړل شوې.

د جولاې د میاشتې په ۱۷مه نېټه د افغان سمه سزو پولسو د عمومي رئیس سره په یوه لیدنه کې نوموړي ومنله چې د قضیې پلټنه روانه ده. رئیس یادونه وکړه چې په زیاتره داسې دوسوکې ځایي چارواکي د افغان سمه سزو پولسو د نظارت د څانګې پرخلاف د افغان سمه سزو پولسو د څېړنو د شکمنو غړو ملاتړکوي.[193] دغه بېلګه همدارنګه د ځایي چارواکو او په کابل کې د افغان سمه سزو پولسو د نظارت د څانګې تر منځ د اطلاعاتو مکررې تشې څرګندوي.

که څه هم چې په ځینو دوسوکې د افغان سمه سزو پولسو د ریاست مداخلت د څېړنو د ترسره کولو په موخه کمېټې اعزام کړي، د قانون ځایي تعمیل کونکي ارګانونه یې د اقداموتو د ترسره کولو لپاره اړ استي دي، کله چې د افغان سمه سزو پولسو د ریاست پاملرنه بلې خوا ته اوښتې یا د قدرت ځایي دلالانو مداخلت کړی، دغوکمېټو اکثرا په عمل کې هېڅ ډول ربښتني اغېزه نه لرله. د بېلګې په توګه، د جنوري په ۱۱مه، دکندز ولاېت د چهار درې په ولسوالۍ کې د افغان سمه سزو پولسو یوه ټیټ رتبه قوماندان ۱۵ ملکي کسان اړ استي څو د شګو بوجۍ ډکې او د نوموړي سره د هغه د پوستې په جوړولوکې مرسته وکړي. د جنوري په ۲۰مه، د افغان سمه سزو پولسو د نظارت د څانګې د تحقیقاتو ټیم د افغان سمه سزو پولسو د همدې او نورو ادعاء شویو سرغړونو لپاره شکمن قوماندان ونیو او د نوموړي اعتراف یې هم تر لاسه کړ. وروسته ځایي څارنوال شکمن خوشې او لامل یې د با اعتباره شواهدو نه شتون وښود..[194]

یوناما هم په ځېنو مواردوکې په کوموکې چې د افغان سمه سزو پولسو غړي د بشري حقونو په سرغړونو پړه بلل شوي، ثبت کړي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۱۳ کال د مې په ۲، دکنړ ولاېت د مرورې په ولسوالي کې افغان سمه سزو

[191] دکورنو چارو په وزارت کې د افغان ملی پولسو د لوړ رتبه چارواکو سره د یوناما غونډه، کندز ولاېت، د اپرېل ۹، ۲۰۱۳.

[192] د افغان سمه سزو پولسو سره د یوناما غونډه/دکورنو چارو د وزارت د نظارت د څانګې مشر، د مۍ ۱۴، ۲۰۱۳.

[193] د سمه سزو پولسو د رئیس سره د یوناما غونډه، د جولاې ۱۷، ۲۰۱۳

[194] د یوناما مرکې، کندز ولاېت، جنوری، ۲۰۱۳

پولسو هوايي ډزې وکړې چې په نتجه کې يې يوه ښځه ټپي او د هغې د جنن د له منځه وړلو باعث شو. د دې پېښې په تعقيب، د افغان سمه بزو پولسو ۴ تنه ونيول شول او دوسيه په اسداباد کې د افغان سمه بزو پولسو څارنوال ته راجع شوه. د ۴ تنو له جملې څخه دوه تنه د ابتدايي تحقيقاتو د پيل کېدو څخه وروسته خوشې شول. د کنړ ولايتي محکمې لارښونه وکړه چې د افغان سمه بزو پولسو د پاتې دوو غړو محاکمه به د ۲۰۱۳ کال په جولای کې پيل شي.

د افغان سمه بزو پولسو رياست او د افغان سمه بزو پولسو د نظارت او تحقيقاتو څانګې په دوامداره توګه د ناوړه استعمال ادعاګانې تعقيبوي، او دا اکثرا د تحقيقاتي هيئتونو د سملاسي لېږلو او ساحوي لېدنو باعث ګرځي. يوناما يادونه کوي چې د ځايي کچې د حساب ورکونې ميکانيزمونه لا هم د ادعاګانو د تعقيب، د افغان سمه بزو پولسو د نظارت او تحقيقاتو د څانګې له خوا د وړانديزونو د پلي کولو او د مرتکبينو د مسوول ګڼلو په برخه کې کوم خپلواک ظرفيت نه لري. يوناما د افغان سمه بزو پولسو او د ملکي کسانو د ساتنې په حواله لاندې وړانديزونه مطرحوي: د افغانستان حکومت بايد د ساسي ملاتړ، عملي مرستې، سامان الاتو، پرسونل او سرچينو د برابرولو له طريقه د افغان سمه بزو پولسو د رياست ظرفيت لوړ کړي څو د افغان سمه بزو پولسو د ادعاء شويو سرغړونو لپاره د حساب ورکونې څخه ډاډ حاصل شي، او د ځايي کچې د مداخلت څخه مخه ونيول شي. د افغانستان حکومت بايد د افغان سمه بزو پولسو په رياست کې يوه پوځي څارنوال ته دنده وسپاري چې په ملي کچه د څېړنو رهبري وکړي او د لوړ رتبه کسانو څخه د بشري حقونو يو مرجع/رابط شخص وټاکي څو د يوه خپلواک نظارت او د حساب ورکونې د ملاتړ سره مرسته وشي.

## ملکي کسان لا هم په خطرکې دي : د شخړې په سېموکې د بشري حقونو ساتنه

### وسله والې ډلې[195]

زموږ په سمه کې نو پېژندل شوی قوماندان د نويو قومندانانو او پوځي کسانو د ګومارلو له لارې د پشتون کوټ په ولسوالي کې خپل شتون پياوړی کوي. هغه وسلې چې نوموړي او د هغه قوماندانان لېردوي ناقانونه دي. د بېلګې په توګه، د نوموړي زوي د ۴ ټوپکونو د لېږد جواز لري خو په هرکلي کې بې وسله والو سره دوه پوستې جوړې کړي دي. هغه او د هغه وسله وال ځانی ټولنې جرمنه کوي او د ماشتې پر اساس د هغوي څخه پسې راغونډوي او هره ورځ ډوډۍ راټولوي. که چېرې خلک د تادیاتو د ورکولو څخه ډډه وکړي نو نوموړی زندان لري.

-- د پشتون کوټ د ولسوالي څخه د ټولنې مشر، فارياب ولايت، جون ماشت ۲۰۱۳ کال.[196]

د ۲۰۱۳ کال په لومړيو ۶ ماشتوکې، يوناما د پوځي ډلو له خوا د ترسره شويو بشري حقونو د سرغړونو ۱۹ پېښې ثبتې کړي، چې په نتجه کې يې ۷ ملکي کسان وژل شوي او دوه نور ټپيان شوي دی. زياتره پېښې په هغو سموکې چېرې چې پوځي ډلو د پام وړ قدرت او نفوذ درلود، په تيره بيا، د هواد په شمال، شمال شرقی او مرکزی لوړو پرتو سموکې، ثبتې شوي دي.[197] يوناما همدارنګه مشاهده کړې چې پوځي ډلو د افغان ملي امنيتي ځواکونو تر څنګ، په خاص ډول د فارياب په ولايت کې په ځمکنو ښکلتاوو کې دوامداره فعاله ونډه اخستې ده.[198]

په ثبت شويو زياترو پېښوکې دګواښونو، ډارونو، ځورونو او شکونو بېلګې شاملې دي، که څه هم چې يوناما د پوځي ډلو له خوا د وژنو ۴ بېلې پېښې تصدق کړي دي، ټولې پېښې د معافت سره ترسره شوي دي.[199] د بېلګې په توګه، د مارچ په ۱۵، د فارياب ولايت په المار ولسوالي کې، يوه دولت پلوه د ملشې قوماندان يو موټر ودراوه، ملا او د هغه ۱۲ کلن زوي يې دولت ضد عناصرو ته د جاسوسۍ په تور په ډزو و وژل. هڅوک و نه نيول شول.

---

[195] "پوځی ډله"، د يوه وسله وال غر دولتی فعال په حث چې په شخړه کې ښکيل او د يوه حکومتی ځواک څخه توپير ولري، خپل جوړښت ولري او ښايی تر يوې ملشې، ياغيانو او جنايتکارانو پورې رسېږي، تعريف شوي. پوځی ډلې د سياسي، ايډيالوژيکي او اقتصادي موخو د ترلاسه کولو لپاره د ځواکونو په واک کې د وسلو دکارولو امکانات لري، وسله والې ډلې د هواد په رسمي پوځي جوړښتونو، دولتي ائتلافونو او يا، د دولتی سازمانونو په دننه کې ځای نه دي او د هواد يا هوادونو ترکنترول لاندی نه دی. وسله والې ډلې ممکن د هوادونو يا يوه هواد چېرې چې فعالت کوي تر رسمي کنترول لاندې وي خو دوي ښايی دکوربه هواد يا نورو هوادونو مستقم يا غير مستقم ملاتړ ترلاسه کړي، په دی تعريف کې لاندې ډلې شاملې د ي خو دا تعريف تر دوي پورې محدود نه دی: د ياغيانو مخالفې ډلې، ځايي ملشاء، (په نژادی قومی لحاظ او يا بل لحاظ)، شورشان، ترهګر، چريکان او د ملکي دفاع ځواکونه او نيمه وسله والې ډلې (په داسې حال کې چې کله دا په ځرګند ډول د دولت دکنترول څخه د باندې وي)، دا ډلې د افغانستان د قانون لاندې هڅ ډول حقوقي بنسټ نه لري.

[196] له قومي مشرانو سره د يوناما مرکه، د ممنې ښار، بلخ[فارياب] ولايت، ۳۰ مۍ ۲۰۱۳.

[197] داسې پېښې په عمومی ډول د فارياب، بلخ، کندز، بغلان او دايکندي په ولايتونوکې ثبتې شوي دي. د هواد په شمال او شمال شرقی سېموکې د پوځي ډلو په هکله د نورو معلوماتو لپاره د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۲ کال راپور ته د افغانستان په شمال او شمال شرقی سموکې د پوځې ډلو په هکله څپرکی ته په لاندې پته http://unama,unmission.org مراجعه وکړئ

[198] دغه فعالت همدارنګه په ۲۰۱۲ کال کې د فارياب په ولايت کې ثبت شوی.

[199] د ۲۰۱۳ کال په لومړيو ۶ ماشتوکې دکندز په ولايت کې دوه پېښې، يوه په فارياب او بله په بلخ کې ثبتې شوي،

ټولنو راپور ورکړ چې د برند مسوول د ملشې قوماندان په ولایت کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د منځنۍ کچې د قوماندان ورور دی.

د دای کندي په ولایت کې، ټولنو د پوځي ډلو له خوا چې ځینې یې په ولایت کې د پام وړ سمې کنټرولوي د پراخوګواښونو، ډارونو او ځورونو راپور ورکړی.[200] په دې پېښوکې وهل، تښتونې او شوکونې شاملې دي. د ټولنو غړو په دوامداره توګه د روانو ځورونو په هکله حکومت ته د شکایت کولو او خبر ورکولو په لړکې علاقه نه ده ښوولې، ځکه چې په دغو زیاترو پېښوکې د ځواکمنو پوځي ډلو غړي چې د حکومت څخه یې واک زیات دی ښکېل دي. ډار او د سرغړونو د راپور په اړه بې مېلی په هغو حالتونوکې چېرې چې د پوځي ډلو ځینې قوماندانان او غړي د سولې او پخلاینې په ملي پروګرام کې په رسمي توګه شامل شوي او هغوي ته د حکومت د نوې برخې په حیث کتل کېږي، او د دوي ترکنټرول لاندې پوځي دلې د بشری حقونو سرغړونو ته ادامه ورکوي، تشدید شوي.
201

د فارياب ولايت د قیصار په ولسوالي کې دکلي مشرانو راپور ورکړی چې هره کورنۍ په اجباري توګه اړه شوې څو ځايي پوځي ډلو ته نو مېل وسله او نوه عراده موټرسایکل برابرکړي. [202]د فارياب ولايت په المار ولسوالي کې، پوځي ډلو په دې وروستوکې د ملي پیوستون د پروګرام د نوې پروژې څخه چې په ولسوالي کې یې لښتي، د اوبو څاه ګانې او سړکونه جوړول پیسې او سامان الات شوکولي دي.[203] په ورته ډول، پوځي ډلو د فارياب ولايت په پشتون کوټ ولسوالي کې د ټولنې په غړو باندې عادي ټکس چې د ۱۰۰۰۰او ۵۰۰۰۰ افغانو (د ۱۸۰-۹۰۰ ډالرو) تر منځ دی نا قانونې او ټوپکونه دي، وضع کړي. که چېرې ځايي خلک دا ټکسونه تادیه نه کړي، هغوي اکثرا په شخصي زندانونوکې ساتل کېږي.[204]

ټولنو د بغلان ولايت څخه یوناما ته ویلي چې پوځي ډلو ملکي کسان اړ ایستي دي څو د هغوي سره مشورې وکړي او د ملکي چارو لکه ودونو او د ځمکو پر سر د مسلو په هکله د هغوي موافقه ترلاسه کړي، د حاصلاتو پرسر یې مالیات اخستي او د جایداد په خرڅولو او اخېستلو او د پراختیایی پروژو څخه یې پیسې شوکولي دي.

وسله والې ډلې او د افغان سمه سزو پولسو سره اړیکي

---

[200] دغه ناوړه فعالیتونه د دایکندي ولایت د اشترلای، خدر او سنګ تخت بندر په ولسوالوکې واقع شوي او یوناما ته یې راپوروونه رسیدلي دي.

[201] ټولنو په مکرر ډول یوناما ته ویلي چې د دایکندي په ولایت کې نو وتلي قوماندان چې پخوا یې د افغانستان د انقلاب په ګاردکې د قوماندان په حیث دنده اجرا کوله په دغو فعالیتونوکې ښکېل دی. ځانګړې وسله والې ډلې په ولایت کې پراخ شتون لري او د څه باندې څوکلونو راهیسی د ملکي کسانو په ګواښلو او ځورولوکې ښکېل دی. په ۲۰۱۲ کې، ډله د APRP سره نو ځای شوه. د یوناما سره په وروستو سلا مشوروکې ټولنو راپور ورکړی چې د ډلو له خوا د ملکي کسانو په ځورولوکې کموالی راغلی دی، خو دولتي چارواکو یوناما ته ویلي چې لا هم ټولنې د وېرې او د دې ډلې د نفوذ له امله خلک د ځورونو په اړه نه شي کولای خپل شکایتونه ثبت کړي. د دایکندي د ولایت د ملی امنیت د ریاست د مشر سره د یوناما مرکه، نیلی، د می ۷، ۲۰۱۳.

[202] دغه سرغړونې د قیصار د ولسوالۍ په څه نا څه ۴ کلوکې چېری چې ځایي پوځی ډلې د پام وړ واک څخه برخمنې دي واقع شوي. د قیصار د ولسوالۍ د چارواکي سره د یوناما مرکه، د جون ۱، ۲۰۱۳، میمنه ښار، فارياب ولایت.

[203] د فارياب د ولایت د ښار څخه د شورا د غړي سره د یوناما مرکه، د جړن، ۱۳، ۲۰۱۳

[204] د فارياب ولایت د پشتون کوټ د ولسوالۍ څخه د ټولنې د مشرانو سره د یوناما مرکه، د جون ۳، ۲۰۱۳.

> د خواجه کنتي په سمه کې نږدې۴۶ بابه جوماتونه دي، هره اونۍ باید نو جومات افغان سمه سزو پولسو او اربکانو ته نو ځاروي او سل ډوډۍ ورکړي. کورنۍ باید د پوځي ډلو لپاره د دې شانو په برابرولو کې په مساوي توګه برخه واخلي، هره کورنۍ چې په دې کې پاتې راشي هغه به د افغان سمه سزو پولسو د قوماندان له خوا د ستونزو سره مخ شي، او بناپي چې دکورنۍ غړي د طالبانو سره په ملاتړ تورن شي.
>
> د فارياب د ولايت څخه د تولنې غړي، جون، ۲۰۱۳ کال.[205]

د هواد په شمال او شمال شرقي سموکې د وسله والو ډلو د دولتي او نا دولتي تړاو او پلوۍ تر منځ په پرله پسې ډول , دلېکو خرپېرتیا, د دې لامل شوي چې تسري او ناوره چلندونه دکنترولې ووځي او د ملکي وګړو ساتنه کمزورې شي.[206] په دغو سموکې، دغه حالت د افغان سمه سزو پولسو په صفوفوکې د پوځي ډلو د غړو د پراخې ګومارنی له امله را منځ ته شوي.[207] د فارياب په ولايت کې په خاص ډول تولنو خبر ورکړ چې د پوځي ډلو ځینې غړي د افغان سمه سزو پولسو په حث په دندوګومارل شوي او نور د افغان سمه سزو پولسو او افغان ملي امنتي ځواکونو تر څنګ د طالبانو په وړاندې په جګړه کې بوخت دي. دا کار د دې لامل شوی چې تولنې دولتي چارواکو ته د سرغړونو په هکله له ډاره خبر ور نه کړي، او تولنې همدارنګه د چارواکو له خوا د داسې سرغړونو په هکله د تحققاتو او عدلي تعقب په موخه د اقداماتو د نه نولو په خاطر خبر نه ورکوي.

د افغانستان په شمال او شمال ختیځ کې، زیاتره تولنې د افغان سمه سزو پولسو او پوځي ډلو اصطلاح د یو بل پر ځای کاروي، او په دې توګه عمومي درک وړاندې کوي چې د افغان سمه سزو پولسو رتبې او لېکې د پخوانو قوماندانانو او د پوځي ډلو د اوسنو غړو پواسطه ډکې شوي دي.
یوناما د افغانستان په حکومت د خپلې غوښتنې لپاره بیا ټینګارکوي څو تولې وسله والې ډلې منحل او بې وسلې کړي او د دغو ډلو له خوا د ترسره شویو بشري حقونو د سرغړونو لپاره د حساب ورکونې څخه د ډاډ په خاطر تدبیرونه ونسي. د افغان ملي امنتي ځواکونو د لا پیاوړتیا په موخه باید هڅې زیاتې شي څو د هواد په شمال او شمال شرقي سموکې په خاص ډول په افغان ملي پولسو او افغان ملي پوځ کې د ښو روزل شویوکسانو د استخدام څخه ډاډ حاصل شي.

---

[205] د قصار د ولسوالي له مشرانو سره د یوناما مرکه، د فارياب ولايت، د جون ۳، ۲۰۱۳

[206] د هواد په شمال او شمال ختیځ کې د پوځي ډلو څېرکی، او همدارنګه د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۲ کال په کلنی راپورکې د افغان سمه سزو پولسو او د ملکي کسانو ساتنې ته په لاندې پته:HTTP://UNAMA.UNMISSION.ORG/DEFAULT.ASPX?TABID=12265&LANGUAGE=EN-US مراجعه وکړئ.

[207] د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۲ کال په کلنی راپورکې د افغان سمه سزو پولسو او ملکي کسانو د ساتنې په اړه څېرکی ته مراجعه وکړئ.

## د جګړې څخه پاتې شوني چاودېدونکي توکي

له هغه وروسته چې ائتلافي ځواکونو زموږ ولسوالي خوشې کړه، موږ ډېر خوشاله وو او عادي ژوند مو پیل کړ، خو له بده مرغه دا هغه وخت و چې بله غمجنه پېښه رامنځ ته شوه- د ائتلافي ځواکونو له خوا پرېښودل شوي چاودیدونکي توکی وچاودیدل چې په نتیجه کې یې درې کسان و وژل شول ۱ و ۵ نور ټپیان شول.

د پروان ولایت دکوه صافی ولسوالۍ اوسېدونکی، د فبرورۍ ۲۵، ۲۰۱۳ کال.[208]

د ملکي کسانو د ژوند او معشت په وړاندې د جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو مخ پر زیاتېدونکی ګواښ د افغانانو، په خاص ډول د ماشومانو خوندېتوب په خطرکې اچولی دی.[209] د ۲۰۱۳ کال د جنوري د ۱ نېټې څخه د جون د میاشتې تر ۳۰ می نېټې پورې، یوناما د جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله د ملکي کسانو ۴۳ وژنې او ۱۰۲ ټپي کېدنې (ټولټال د ۱۴۵ملکي کسانو تلفات) ثبتې کړې دي، دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۵۳ سلنه زیاتوالی ښيي.[210] ۷۹ سلنه قربانیان ماشومان وو. یوناما همدارنګه څرګنده کړې چې ښايي د جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي ملکي تلفات په سمه توګه نه وي راپور شوي.[211]


---

[208] افغانستان د ماین پاکولو د همغږۍ مرکز، دکوه صافي د اوسېدونکو سره مرکه، د فبرورۍ ۲۵، کال۲۰۱۳. کوه صافي ولسوالي، پروان ولایت..

[209] د جګړې څخه پاتې شوني چاودېدونکي توکي معنې ناچاودلي توکی او پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي..

[210] یو ناما د ۲۰۱۲ کال په لومړیو ۶ ماشتوکې د جګړی څخه د پاتی شونو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي کسانو د وژنو ۳۱ او د ټپی کېدنو ۶۴ پېښې ثبتې کړي دی.

[211] د ۲۰۱۳ کال په لومړیو ۵ ماشتوکې، د افغانستان د ماین پاکولو د همغږی مرکز د ملکي کسانو د وژنی ۵۳ او د ټپی کېدنو ۱۳۶ پېښې ثبتی کړي دی، (۱۸۹ ملکي تلفات)، دا د ۲۰۱۲ کال د ورته ۵ ماشتو په پرتله ۳۵ سلنه زیاتوالی ښيي(کله چې د ملکي کسانو ۳ وژنې او ۱۱۷ ټپی کېدنې ثبتی شوي). د ۲۰۱۳ کال لپاره د جګړی څخه د پاتی شونو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي کسانو د تلفاتو په اړه د افغانستان د ماین پاکولو د همغږی د مرکز معلومات د یوناما د معلوماتو څخه زیات دی، دا ځکه چې هغوی کولای شی هغو سمو ته چېری چې د یوناما ټیمونه د تصدیق په موخه لاسرسی نه لری، ولاړ شی. .




که څه هم یوناما له جګړې څخه د چاودیدونکو پاتې شونو توکو(ERW)) په ذریعه په تر وخت کې د ملکي کسانو په تلفاتوکې یوه اندازه کموالی څرګندکړی، ۵۳٪ زیاتوالی چې د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو ماشتوکې ثبت شوی د تروکلونو په پرتله ډېره جګه اندازه څرګندوي. له جګړې څخه د چاودیدونکو پاتې شونو توکو په ذریعه د ملکي کسانو په تلفاتوکې دغه زیاتوالی[212] له هغو مځکنو جګړو سره او په چټکی د اساف د تاسساتو او نظامی تمرین ځایونو د بندولو او هغو اندیښنو سره یو ځای پیښ شوي دی چې ناچاودی توکی له بندولو څخه مخکی په پوره ډول نه دي تصفیه شوې.[213] په ترو وختونوکې اساف له ۷۰۰ څخه زیات تاسسات یا تړلي او یابې لیږدولي دي چې نږدې ۱۰۰ تاسسات یې په ترو شپږو ماشتوکې تړلي دي. او نږدې ۱۰۰ تاسسات نور لا نه دي تړل شوي.[214]

له جګړې څخه د چاودیدونکو پاتې شونو توکو اوږد مراث چې ۳۰ کاله جګړې درلود د ملکي افغانانو لپاره په پرلپسې ډول مرګانی تهدیدګڼل کېږي. خو له جګړې څخه د چاودیدونکو پاتې شونو توکو په ذریعه د ملکي کسانو په وژنو او په ژوبلدوکې زیاتوالی، چې په ۲۰۱۳ کې مستند شوی دی، تر زیاتې اندازې له هغو جګړو څخه د

---

[212] د ځمکنو نښتو له امله په ملکي تلفاتوکې زیاتوالی دا امکان څرګندوي، چې له نفوس څخه په ډکو سموکې جګړې زیاتې شوي، چې کدای شي د جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو د زیاتوالی لامل شي.

[213] ناوچاودلو توکو (د یو ایکس او) د منبع څرګندول ګران کار دی، خصوصا په هغه وخت کې چې مواد چاودلي وي. له دې امله د یوناما تحلل د هرې هغې پیښې چې د ناچاودل شوو توکو څخه ملکی کسانو ته اوښتې وي هغه چاپېرال تربا غور لاندې نسي چې پیښه په کې رامنځ ته شوې وي، بانې د اساف په پخوانۍ هډه کې ملکي کسانو ته د ناچاودل شوو توکو څخه را پیدا شوي ملکي تلفات، خو د ناچاودل شوو توکو مسوولت په هغه صورت کې ب چې د موادو د اصلي منبع تاسد شوې نه وي نه راجع کېږي.

[214] د ناټو/اساف غر طبقه بندي شوي معلومات چې یوناما ته ورکړل شوي، ۲۸ جولای، ۲۰۱۳

چاودېدونکو پاتې شونو څخه را پيدا شوي چې د حکومت پلوه ځواکونو او د دولت ضد عناصرو تر منځ په ځمکنو جګړو کې په تروځوکلونوکې پاتې شوي دي،[215] او په تېره بيا د اساف له خوا له نظامی تاسساتو او جنګی تمرين ځايونو څخه د ناچاودو توکو تصفيه کول په منظم ډول نه دي تر سره شوي،[216] مخکې له دې چې افغانی قواوو ته ولېږدول شي، خصوصا د اساف د ځمکنو عملياتو د تاسساتو له لېږد څخه مخکې پاتې شوي دي.[217]

تر ټولو لوېه انديښنه د اساف او د افغانی امنيتی قواوو، او افغان حکومت د افغانستان د ماينونو د استلو د همغږۍ له مرکز سره له جنګی ساحو څخه له جګړې څخه د چاودېدونکو پاتې شونو د تصفيې او د تثبتولو د پالسۍ او عمل په اړه د همغږۍ او ثبات نشتوالی دی د مثال په توګه د اساف له خوا دګوزارېزو ضد د عملياتو څخه وروسته د هغو پاک کول. بوناما او د افغانستان د ماين پاکۍ د همغږۍ مرکز (ماکا) داسې فعالتونه نه دي لېدلی چې له جګړې څخه چاودېدونکو پاتې شونو په اړه مسوولو چارواکو ته خبرورکړي شوي وی چې هغوی د خپل مسوولت له مخې د پاکولوکار همغږی کړي او د دې ډاډ ورکړي چې تر خطر لاندې ساحې نښاني او پاکې شوې دي او ټولنې بې له راتلونکو خطرونو څخه خبرې کړې وي.[218]

د مثال په ډول، کله چې افغانی امنيتی قواوې ىا اساف په بوه ځمکنۍ ىا هوايي جګړه کې ښکېل وې او د وسلو داسې سسټمونه کاروې چې ناوچاودې مرمۍ (ډې بوډې) ىا ناچاودي توکی شاته پرېږدي، دغه امنيتی قواوې هغه ساحې د خطر د ساحو په څر نه نښاني کوي چې وروسته باىد تصفيه او پاکې شي. په دې برسره د ناوچاودل شوبوګلولو موقعيت په حکومت کې د افغانستان د ماين پاکۍ د همغږۍ مرکز او ىا په اساف کې د ماينونو د پاکولو مرکز ته نه ښودل کېږي.[219] د اساف/ناټو ډېری غړي د بين المللی قانون د لاندې د دې مسوولت لري چې د چاودېدونکو توکو د استعمال ىا د هغوي د پرېښولو په باب معلومات ثبت او خوندي وساتي او له جنګ څخه د پاتې شوبو چاودېدونکو توکو ساحې نښاني او پاکې کړي او هغه مواد ىا استه کړي ىا بې وچوي او هغې خوا ته د خطر په باب روزنه اړونده معلومات ورکړی چې دغه ساحې کنټرولوي او هم په هغو ساحوکې ملکي کسانو ته دغه معلومات انتقال کړې.[220]

---

[215] د ۲۰۱۳ په لومړبو شپږو ماشتوکې هغه ملکي تلفات چې له ځمکنو جګړو څخه راپيدکېږي ۴۰ سلنه زيات شوي دي.

[216] تمرين ځای بوه عمومي اصطلاح ده چې هغو موقعتونو ته اشاره کوي چې پکې غر عملياتي وسلې په کار لوبږي.

[217] بوناما زياتوي چې له ناچاودل شوو توکو څخه را پيدا شوي ملکی تلفات دغه راز هغو چاودنو ته منسوب شوي چې له ۲۰۰۱ څخه مخکې جنګونو څخه پاتې شوي وي، خو وروستي ارقام چې د بوناما او د افغانستان د ماين پاکۍ د همغږۍ مرکز (ماکا) له خوا را ټول شوي دي ښبې چې له ناچاودل شوو توکو ی څخه را ولاړ شوي ملکي تلفات چې مشاهده شوي دي اوسنو او جاري عواملو ته منسوبېږي لکه د نظامی هډو لېږدول،)(FOBs ) بندول او د ځمکنو جګړو زياتوالي.

[218] جاري طرز العمل داسې دی چې ساحوي بونټونه باىد د ناچاودل شوو توکوبو له موجودت څخه ((IJC ته خبر ورکړي خو په عمل کې دغه طرز العمل په پرلپسې ډول نه عملي کېږي. بوناما، مکا، اساف، د اساف په مرکزي دفترکې غونډه، ۲۴ جولای، ۲۰۱۳، اساف مرکزي دفترکابل.

[219] د بوناما، د افغانستان د ماين پاکۍ د همغږۍ مرکز او اساف غونډه د اساف په مرکزي دفترکې، ۲۴ جولای ۲۰۱۳، داساف، مرکزي قرارګاه، کابل

[220] څلورمه ماده، د معلوماتو ثبتول، ساتل او لېږدول، له جګړو څخه د پاتې شوبو چاودېدونکو توکو په اړه پروتوکول، (پنځم پروتوکول، د سی سی ډبلوی تړون، ۱۹۸۰)، ۲۸نوومبر ، ۲۰۰۳، له ناټو/اساف سره د عسکروکومکي ۵۰ هوادونو څخه ۳۸ هوادونه چې پنځم پروتوکولو بې تصوب کړی دی.

د نظامي تاسساتو لیږدول: د جګړې څخه د پاتې شوىو چاودىدونکو توکو د پاکولو اړتیا

د اساف وتل او د دوي د نظامي تاسساتو بندول په دې باب ىوه اندېښنه را پیدا کړې چې د جګړې څخه د پاتې شوىو چاودىدونکو توکو د استلو په باب د اساف اوسنۍ پالسي او اقدامات د دې لپاره کافي نه دي چې ىقىنې کړي چې ګوندې اساف او بىن المللي نظامي قوتونه په ټول ملک کې داسې ګامونه اوچتوي چې د جګړې څخه د پاتې شوىو چاودىدونکو توکو پاتې یې له منځه وباسي. یوناما په دې باور ده چې د جګړې څخه د پاتې شوى چاودىدونکي توکي باىد افغان نظامي قوتونو ته د تاسساتو له لیږد څخه پخوا له شاوخوا ساحو او نظامي تمرىن ځاىونو څخه و استل شي. د مثال په توګه په اساف کې داسې ىومرکزي سىستم نشته چې په دقىق ډول مستنده کړي او وښيي چې کوم تاسسات او نظامي تمرىن ځاىونه د جګړې څخه د پاتې شوىو چاودىدونکو توکو څخه پاک شوي دي او د تاسساتو د تړلو سره د ځمکې د پاسه یا د مځکې د لاندې د پاکولوکوم تخنکي معاروىه تعقىب شوي دي.

د دې ډىره زىاته اړتیا شته چې د تاسساتو له تړلو څخه د مخه د نظامي تمرىنونو له ځاىونو څخه د جګړې څخه پاتې شوى چاودىدونکي توکي پاک شي، په تېره لىسزه کې ډېر تمرىن ځاىونه فعال وو او په لس ګونو زره د سپکو وسلوګولۍ (۶، ۵ او ۶۲، ۷) وىشتل شوي دي او دارنګه ۱۲۰ ملي متره د هاوان توپ ۴۰ ملي متره مهمات استعمال شوي دي.[221]

څرنګه چې افغانى ماشومان د پسو لپاره د اوسپنې ټوټې راغونډوي، هره د اوسپنو پاتې شوې ټوټه کىداى شي چې لوي خطر ولري. په ۲۰۱۳ کې د افغانستان د ماىن پاکۍ مرکز او یوناما څو داسې پېښې مستندي کړي دي چې افغانى ماشومانو په تړلو شوىو تاسساتوکې د اوسپنو د ټولولو په حال کې خپل ژوند یا د بدن غړي له لاسه ورکړي دي. که څه هم د ناچاودو توکو چاودنې چې د ماشومانو له خوا د ټولولو په وخت کې پېښىږي، ىوازې په نظامي اډو پورې تړلي نه دي، خو هغه پېښې چې په پخوانىو نظامي تاسساتو او نظامي تمرىن ځاىونوکې رامنځ ته شوي، ډېرې شوي دي. د جنوري د لومړۍ او د جون تر مې۱۲ نېټې پورې د افغانستان د ماىن پاکۍ مرکز د جګړې څخه د پاتې شوىو چاودىدونکو توکو د چاودنو له امله لس تنه ملکي وژنې او ۲۳ د ژوبلې قضىې ثبتې کړي دي. دغه حادثې په باماىان، لوګر، پروان، پکتىکا، وردک، خوست، غزنى، کنړ اوکندهار په ولاىتونوکې په هغو نظامي تاسساتوکې او یا هغو ته ډېر نژدې پېښې شوې دي چې تړل شوي دي.[222]

له جګړې څخه د پاتې شوىو ناچاودو توکو(ERW) له امله د ملکي تلفاتو حادثې :

د ملکي تلفاتو په شمېرکې زىاتوالى چې په پخوانىو نظامي تاسساتوکې د جګړې څخه د پاتې شوىو چاودىدونکو توکو سره تړاو لري دا حقىقت څرګندوی چې اساف له خپلو نظامي تاسساتو څخه له وتلو مخکې د جګړې څخه د پاتې شوىو چاودىدونکو توکو د پاکولو لپاره څه نه کوي.

د ۲۰۱۳ د جنورۍ په ۶۲مه د ىو ناچاودي توکي د چاودنې له امله د پروان ولاىت دکوه صافى په ولسوالي کې درې ملکي کسان و وژل او پنځه نور سخت ژوبل شول. دغه حادثه په پخوانۍ بىن المللى نظامي هډې کې پىښه شوه

[221] همدا ماخذ

[222] د افغانستان د ماىن پاکۍ د همغږۍ د مرکز سره د یوناما مرکه، کابل، جون ۶، ۲۰۱۳.

چې د انتقال په دوره کې ترل شوې وه، له ترلو څخه مخکې خلکو نه شوکولای چې نظامي هډې ته نږدې شي، ځکه دوي ته د اساف له خوا وېل شوي وو چې نژدې ورنه شي.[223] اساف که څه هم د دې چاودنې مسوولت نه دی منلی او ادعاء کوي چې په کوه صافي ولسوالي کې افغاني قواوو ته کومه نظامی هډه نه انتقال شوې او نه هم ترل شوې[224] خو د ناتو/اساف او د امریکا د متحده اایالاتو د نظامی قواوو وېب پاڼې څرګندوي چې په ۲۰۰۹ کال کې په کوه صافی کې یوه نظامی هډه فعاله وه.[225]

د افغانستان د ماین پاکۍ د همغږۍ مرکز له خوا د دې حادثې او د ساحې وروستۍ څېړنو وښودله چې هلته د جګړې څخه پاتې شوي چاودېدونکي توکي موجود وو. دافغانستان د ماین پاکۍ د همغږۍ مرکز د پاکولوکار پیل کړ او خلکو ته یې د دې خطر په اړه روزنه ورکړه چې دغه کارونه د افغانی غیر حکومتي موسسو، افغاني تخنکي مشاورینو او د چاودېدونکو توکو د پاکونکي ټیم له خوا ترسره شول. د پاکولو د پروسې په جریان کې ټولنو راپور ورکړ چې د پخوانۍ نظامي هډې د ترلو له مهاله تر اوسه په دغه ځای کې د جګړې څخه د پاتې شویو چاودېدونکو توکو له امله څلور جلا چاودنې وشوې او شپږ تنه ملکي کسان یې و وژل او اته تنه نور یې ژوبل کړل.[226] د چاودېدونکو توکو د خنثی کولو افغان تخنکي مشاورانو ټیم د پاکولوکار بشپړکړ او له نظامی هډې څخه یې له ۴۰۰ څخه زیات ناوچاودل شوي توکي وکېنل. د دغو توکو وروستو څېړنو وښودله چې د دغو توکو له ډلې څخه ۷۰٪ هغه توکي وو چې په اساف/ناتو پورې یې تعلق درلود.[227]

د ۲۰۱۳ کال د اپرېل په ۶مه د ناچاودي توکي یوه چاودنه څلورو هغو ماشومانو ته نژدې وشوه چې د خوست ولایت د متون په ولسوالۍ کې د اساف له هډې څخه یوکیلو متر لېرې یې لرګي او د اوسپنی ټوټې راغونډولې. دغې چاودنې دوه ماشومان و وژل او دوه نوری ژوبل کړل، د یوه لاس پرې شو او یوه سترګه یې له لاسه ورکړه.[228] دغه چاودنه په داسې یوه ساحه کې چې د اساف د سالرنو هډې ته نژدې چې د ټولنې د خلکو له خوا د اساف د روزنې د ځای په نوم شهرت لرې وشوه.

محلی ټولنو د افغانستان د ماین پاکۍ د همغږۍ مرکز (MACCA) ته راپور ورکړی چې د بامیان په ولایت کې د اساف په پخوانۍ نظامي هډې کې له جګړې څخه چاودېدونکي پاتې شوني شته او د افغانستان د ماین پاکۍ د همغږۍ مرکز د دې ترتیبات ونیول چې ساحه پاکه کړي. د ۲۰۱۳ د جون تر ۱۳ نېټې د افغان تخنکي مشاورانو او د

---

[223] د افغانستان د ماین پاکۍ د همغږۍ د مرکز (ماکا) دکوه صافي د ولسوالي له اوسېدونکو سره مرکه، فبرورې ۲۰۱۳.

[224] د افغانستان د ماین پاکۍ د همغږۍ د مرکز او اساف ترمنځ د بریښنالیکونو تبادله مارچ ۵، ۲۰۱۳.

[225] https://www.facebook.com/media/set/?set=a.154562038453.142134.69621718453&type=1 ; http://www.flickr.com/photos/isafmedia/3953141062/in/set-72157622326953693/ ; http://www.flickr.com/photos/soldiersmediacenter/3922583607/, accessed 16 July 2013.

[226] د افغانستان د ماین پاکي د همغږي مرکز (ماک)، حقیقت پاڼه، جون ۲۰۱۳: د اساف په نظامي تمرین ځایونو او نورو نظامي تاسیساتوکې له جګړې څخه پاتې شوي چاودېدونکي توکي د ملکي کسانو مړینې او ژوبلې لامل ګرځېدلي.

[227] دافغانستان د ماین پاکۍ د همغږۍ د مرکز سره د بوناما غونډه، کابل، جون ۶، ۲۰۱۳

[228] د افغانستان د ماین پاکي د همغږي مرکز (ماک)، حقیقت پاڼه، جون ۲۰۱۳: د اساف په نظامي تمرین ځایونو او نورو نظامي تاسیساتوکې د جګړې څخه د پاتې شوي چاودېدونکي توکي د ملکي کسانو د مړینې او ژوبلې لامل ګرځېدلي.

چاودېدنکو توکو د خنثی کولو بل تېم د مشکوکې ساحې ۱۴٪ پاکه کړې وه او ناچاودي۲۳۵[229] توکی یې استلي دي چې په ناتو، شوروي او نورو ناڅرګنده خواوو پورې تړلي دي.[230]

له جګړې څخه د چاودېدونکو پاتې شونو د لېرې کولو په اړه د نړېوال قانون له مخې د ناتو د غړو هوادونو مسوولیتونه

له جګړې څخه چاودېدونکي پاتې شوني د پنځم پروتوکول له مخې (د ۱۹۸۰ کال د ځینو دودېزو وسلو په باب د تړون پروتوکول، نوومبر ۲۸، ۲۰۰۳) د ناتو له ۵۰ هوادونو څخه د یوځې ټولګو د برابرونکو ۳۸ هوادونو، چې دغه پروتوکول یې تصویب کړی دی د دې مسوولیت لري چې په دوه اړخېزه ډول او یا د دواړو خواوو په موافقه د درېیمې خوا په ذریعه تخنکي، مالي، مادي او د بشري منابعو ملاتړ برابر او د دې اسانتیاوې پیدا کړي چې د جګړې څخه پاتې شوي دغه ډول چاودېدونکي توکي په نښه کړي، ویې باسي، استه یا یې محوه کړي. د پنځم پروتوکول غړې هېوادونه د دې مسوولیت هم لري چې ټول ضروري اقدامات د دې لپاره ونسي چې د جګړو د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له اغېزې او خطر څخه ملکي وګړي، انفرادي ملکي کسان او ملکي اجناس وژغوري.[231]

دهغو محدودو معلوماتو پربنسټ چې اساف برابرکړي دي، یوناما په دې باور ده چې د عسکرو برابرونکي هېوادونه ښایي د پنځم پروتوکول له مخې هغه مسوولیت پوره نه کړي چې په جمعي ډول د جګړې څخه پاتې شوي چاودېدونکي توکي او ناچاودي مهمات پاک کړي. د موجوده پالیسو او طرز العملونو سره توافق په کافي اندازه نه څارل کېږي. اوسنی چوکاټ نه شي کولای چې په دې برخه کې د ټولو عسکرو برابرونکو هېوادو نو عملي ستونزې هوارې کړي. د مثال په ډول، داسې یو مرکزي سیستم نشته چې وښيي کومې ساحې نښاني او پاکې شوي دي او کومې نه دي شوي. هغه ساحې چې په څرګند ډول خطري ساحې دي او دغه راز د جګړې څخه پاتې شوي چاودېدونکي توکي چې د ځمکنیو یا هوايي عملیاتو له امله پاتې شوي دي، حکومت او یا هم د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز ته خبر نه دی ورکړل شوی.

د اډو له تړلو څخه وروسته د جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو د خطر او د ملکي کسانو د تلفاتو له وجې یوناما د دې سپارښتنه کوي چې د اډو او نظامي تمرین ځایونو ته شاوخوا ساحې تر هغو پورې باید مظنونې یا تاسد شوي خطري ساحې وبلل شي تر څو پاکې شوي نه وي.

د نړمګړو پالیسو، طرز العملونو او عملونو په اړه د پالیسۍ اساسي اندېښنې

یوناما په دې باور ده چې د پالیسۍ اوسنی چوکاټ نه شي کولای چې د خطر لاندې ساحې په نښه کړي او هغه پاکې کړي، لکه نظامي تمرین ځایونه، او هغه فعالیتونه مستندکړي چې د جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو

229 د افغانستان د ماین پاکۍ د همغږۍ په مرکزکې د اساف له چارواکو سره د یوناما غونډې، کابل، ۱۲ جون، او د اساف له قرارګاه سره، ۲۴، ۲۸ او ۲۹ جولای، ۲۰۱۳.

230 د ناټو/اساف غېرطبقه بندي شوي معلومات چې یوناما ته ورکړل شوي، ۲۸ جولای، ۲۰۱۳.

231 د ۱۹۸۰ کال د ځینو دودېزو وسلو د تړون پنځم پروتوکول ۳ او ۵ مادې، ۲۸ نومبر، ۲۰۰۳.

توکو د پاکولو په غرض تر سره شوي وي[232] نسمګړي دي او یا نه دي تطبق شوي. د مثال په توګه، اساف تاسد کړې ده چې عملیاتي معاري پالسي وجود لري چې د جګړې څخه د پاتې شوبو چاودېدونکو توکو د پاکولو او تثبتولو ځښي عناصرلري، خو دغه پالسي هغه ساحې، هډې او نظامي تمرین ځایونه نه پاکوې چې تړل شوي او یا پخوا لېردول شوي وي.

د دې لا اندېښنه هم شته چې اوسنۍ پالسي ګانې چې اساف ورته اشاره کړې ده د دې لپاره کفاىت نه کوي چې د ناچاودو شوبو توکو خطر له تمرین ځایونو څخه لېرې کړي چې د مځکې د لاندې برخې د پاکولو غوښتنه کوي څو یقیني کړي چې افغاني ټولنې په اوږد مهال کې د هغو له خطر څخه وژغورلې شي.[233] یوناما د پالسۍ یا طرزا لعمل نشتوالی ته ګوته نسې چې د تمرین ځایونو د پاکولو لپاره ضروري دي او د دې غوښتنه کوي چې د مځکې پرمخ په پاکولو اکتفاء نه کوي.[234]

په دې سربېره، څرګنده نه ده چې ایا داسې کومه پالسي شته چې له تړلو یا لېږدولو څخه د مخه د خطر ناکه ساحو په ګوته کول چې یا تر شک لاندې وي او یا تاسد شوي وي، د لېږد په دوران کې او له تړلو یا لېردولو څخه د مخه د خطرناکه ساحو تاسد او د جګړې څخه د پاتې شوبو چاودېدونکو توکو پاکول د یوه شرط په ډول ومنې.[235] د بګرام د ماینونو د پاکولو د مرکز په قول، په ټول ملک کې نژدې ۸۳۲ کیلو متره مربع ساحه چې پخوا د نظامي تمرینونو ساحې وې دې ته ضرورت لري چې باید د جګړې څخه د پاتې شوبو چاودېدونکو توکو څخه پاکې شي.[236]

[232] "تر شک لاندې خطرناکې سمې" هغه سمې دي چې ګمان کېږي هلته ماینونه اوله جګړې چاودېدونکې پاتې شوني شته.وګورئ:http://www.minetech.co.uk/terminology/, accessed4 June2013

[233] اساف یوناما ته د مرکزي دفتر د عملي پالسي سټنډرډ ۱۰۶۱۱ (اس او پي) یادونه کړې ده، ۸ ضمیمه، الف الحاقه، چې له جګړې چاودېدونکې پاتې شونو د پاک کولو لپاره د اساسي پالسۍ د سټنډرډ په ډول د ۲۰۱۳ د جون په ۲۶ صادره شوې ده. د بندولو تر شرایطو لاندې، دغه پالسي وايي: "د نظامي ځایونو د سملاسي بندولو یا لېږد څخه مخکې یوه سربېرنه تصفیه باید ترسره شي، چې د مرمۍ، د صندوقونو اود ناچاودل شوو توکو ځایونه معلوم شي، وپیژندل شي لرې کړای شي." د ناچا ودو وسلو په وړاندې د اساف غبرګون، د جولای ۲۴، ۲۰۱۳. له یوناما د افغانستان د ماین پاکۍ د مرکز، د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ د خدماتو(UNMAS) او اساف سره غونډې، د اساف قرارګاه، کابل ۲۴ جولای، ۲۰۱۳. همدارنګه وګورئ د اساف د مرکز ي دفتر/د سي جی ۳ خپرونه چې د یوناما د بشري حقونو د آر اېف آی ځواب وايي چې د ۲۰۱۳ د نیمایي کال ملکي وګړو د ساتنې په اړه راپور په برابرولوکې یادې شوي دي، ۲۶ جون، ۲۰۱۳، د یوناما دوسه.

[234] اساف په خپلو څرګندونوکې د د تمرین ځایونو او د سي آی وي Civ Cas Mitigation د چوکاټ او پالسي په اړه آی سی جې ته اشاره کړې ده چې د اېف ار ای جی او ۰۴۱ لاندې د ۲۰۱۲ د فبروري په ۲ خپره شوې ده. دغه پالسي د جستن او د وسلو د Collection Drop Rea Data Range Jettisonمعلوماتو په باره کې ده. دFRAGO او د" جنګي ساحې خاوندان ") مکلفت لري چې د رسمی تمرین ځآیونو او هغو ساحو په اړه معلومات د اساف په ډېټابېس کې خوندي وساتي چې په موقت ډول د تمرین ځآیونو استفاده ور څخه کېږي. د نا چاودو توکو په مقابل کې اساف غبرګون، ۲۴ جولای ۲۰۱۳. له یوناما، دافغانستان د ماین پاکۍ د مرکز، اونماس او اساف سره غونډې، د اساف قرارګاه، کابل ۲۴ جولای، ۲۰۱۳.

[235] یوناما د اساف له څو تنوکارمندانو څخه د انتقال په دوره کې له جګړې څخه چاودېدونکو پاتې شونو د پاک کولو په اړه د پالسو په اړه پوښتلي دي خو تر اوسه پورې یې ځواب نه دی تر لاسه کړی. د اساف او یوناما غونډه د بیا رغونې د ولایتي ټیمونو(پی آر ټی) د بندولو او لېږد په اړه، کابل د می ۲۳، ۲۰۱۳.

[236] یوناما، د افغانستان د ماین پاکۍ د همغږۍ مرکز ا UNMAS)(ته د اساف په قرارګاه کې ورکړل شوي معلومات، ۲۴ جولای، ۲۰۱۳.

یوناما سپارښتنه کوي چې اساف باید د هرې تړل شوې یا لېږدول شوې هدېې او تمرین ځای، د غیر رسمي نظامي تمرین ځایونو په ګډون په افغانستان کې د ناټو/ایساف د عملیاتو د پیل څخه په هر اړخیز ډول تر بیا کتنې لاندې ونیسي، تر څو هغه تخنیکي معیارونه په ګوته شي چې له مخې یې دغه ساحې د ناچاودو توکو او هغو موادو څخه پاکې شوي وي چې د خلکو لپاره د چاودلو خطر ولري. تر ټولو لوی لومړیتوب د اساف لپاره دغه ضرورت دی چې د جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو د پاکولو هغه عملیات تر بیا کتنې لاندې راولي چې د تمرین ځایونو په ډېرو خطرناکو ځایونو کې تر سره شوي او اوس تړل شوي دي، څو د دې ډاډ پیدا شي چې د ځمکې لاندی پاک کاري په کافي تخنیکي معیارونو تر سره شوې ده.[237] اساف باید ټول هغه طرزا لعملونه تر بیا کتنې لاندې ونیسي چې له مخې یې ټولنې بین المللي نظامي هدېې پخوا تړل شوي دي، څو د دې ډاډ حاصل شي چې هره ساحه سروې شوې، پاکه شوې یا د جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو د پاکولو غوښتنه یې شوې وه.

یو ناما دغه راز د دې وړاندیزکوي چې اساف باید یوه روښانه لارښوونکې پالسي طرح کړي چې په ټول ملک کې تطبق شي چې ټولې خطرناکې ساحې ونسي او ټول ضروري اقدامات تر سره کړي تر څو د دې ډاډ پیدا شي چې له اډو او نظامي تمرین ځایونو څخه ټول د جګړې څخه د پاتې شوي چاودیدونکي توکي نښاني شوي او پاک شوي دي او د اډو د شاوخوا لازمي ساحې هم پاکې شوي وي. یوناما د دې سپارښتنه هم کوي چې هغه ساحې چې د یوه مناسب معیار سره برابرې نه دي پاکې شي باید نښاني شي او تر هر څه د مخه له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو څخه پاکې شي.

د شکمنو او تاسید شوېو خطرناکو ساحو ټولې لارښوونې او په پاکولو پورې مربوط جزسات باید د ماین پاکولو[238] د معلوماتو د تنظم په سستیم (IMSMA) کې ځای پر ځای شی چې د افغانستان د ماین پاکۍ د همغږۍ مرکز یې د افغانستان د حکومت په استازېتوب پالنه کوي.

د اساف غبرګون

د اساف د مشر تابه[239] سره د یوناما وروستۍ غونډې څرګندوي چې دوی د دې ژمنه کړې څو د هدېې او تمرین ځایونو له تړلو څخه د مخه هغه د جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو څخه پاکې کړي او هغه هدېې چې لېږدول شوې دي تر بیا کتنې لاندې نسی. یوناما د ناټو وروستۍ هڅې تقدیروي چې د جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو په باب یې څرګندکارونه کړي او زیاته اندېښنه یې ښودلې، خو د دې یادونه کوي، چې د پاکولو

---

[237] تعریفونه: مېدانونه (رینجز) هغه جغرافیایی ساحه چې ښایی د لوړې کچې خطري ناچاودیناچاودي توکي ولري. د درنې چاودنې ځای/ساحه: یوه ساحه چې د درنو چاودنو او بې هدفه ډزو لپاره کارول کېږي او د رسمي هدېې د پولو څخه د باندې پیدا کېږي. د سپکو وسلو مېدان: هغه چې په خصوصي ډول د سپکو وسلو د روزنې لپاره کارول کېږي. دغه ځآیونه کدای شي چې د اډو د سرحداتو په دننه کې وي، که څه هم ځنې د لوړې کچې د چاودنې مېدانونه هم د سپکو وسلو لپاره کارول کېږي.

IMSMA [238]آی ام اس ام ای د ماین پاک کولو د معلوماتو د مدیریت سستېم دی. د افغانستان د ماین پاکۍ د همغږۍ په مرکزکې ارقام/ډیتابیس په هوادکې له ۱۹۸۹ راهسې د ماین پاکي د ټولو فعالیتونوریکارډ ساتي. د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ خدمات(اونماس) او د افغانستان د ماین پاکۍ د همغږۍ مرکز(ماکا) د ماین پاکۍ د معلوماتو د مدیریت او د دغو معلوماتو د ساتنې په اړه د افغانستان د حکومت په وړاندې مسوولیت لري.

[239] د یوناما، دافغانستان د ماین پاکۍ د هممغږۍ د مرکز او اساف د مشرتابه تر منځ غونډه، ۲۲ جولای، ۲۰۱۳ او د یوناما غونډه د اساف له مرکزي قرارګاه سره، ۲۴ او ۲۸ جولای، ۲۰۱۳، کابل.

او په نښه کولو په برخه کې زیاتې هڅې او دغه راز د پالیسۍ مستندول او د همغږۍ هڅې باید نورې هم ګړندۍ او اغېزمنې شي څو دغه مسالې په اغېزناک ډول حل شي او د دې ډاډ پیدا شي چې له جګړو څخه د پاتې شویو نا پرېښودل شویو چاودېدونکو موادو په ذریعه د ملکي خلکو د تلفاتو مخنیوی وشي.

هڅې

یوناما دې ته اشاره کوي چې اساف په دې باور دی چې اوسنۍ پالسي د دې لپاره کافي نه ده او د جګړې څخه د پاتې شویو چاودېدونکو توکو د پاکولو او مستندولو په برخه کې ټولو غوښتنو ته ځواب نه شي ویلی. یو ناما د اساف د دې ضرورت منل ستایي چې په ټولو جنګي ساحوکې نظامي هدېږ او تمرین ځایونه له ۲۰۰۱ څخه راهیسې بیا وګوري او هغه له اوسنو ارقامو او معلوماتو سره پرتله کړي څو د ائتلافي قواوو ټولې نظامي هدېږ او تمرین ځایونه را ونغاړي. اساف د دې موافقه هم وکړه چې هره پخوانۍ او اوسنۍ هدېږه او تمرین ځای بیا وګوري څو معلومه کړي چې د جګړې څخه د پاتې شویو چاودېدونکو توکو د پاکولو په باب کوم اقدامات شوي دي او دغه اقدامات په کومو تخنیکي معارونو برابر وو یا د اچې هغه د ځمکې پر مخ او یا د ځمکې د لاندې پاک کاري شوي دي. اساف د دې موافقه هم څرګنده کړې چې دغه معلومات له خپل ډېټابیس (CIDNE)، د ماین پاکۍ (ماک)، او د امریکې د متحده ایالاتو د اردو د انجنیري له معلوماتو سره مقایسه او مستندکړي.[240]

یوناما خپله سپارښتنه بیا تکراروي چې دغه معلومات باید د افغانستان د ماین پاکۍ د همغږۍ د مرکزله لارې د افغانستان له حکومت سره شریک شي او په دې ډول د ماین پاکۍ لپاره د معلوماتو د تنظیمولو په سستم ((IMSMA) کې ثبت شي، لکه څنګه چې په ټول افغانستان کې له جګړې څخه د پاتې شویو چاودېدونکو توکو د مشکوکو او یاهم د تاید شویو ساحو په اړه دغه کار ترسره کېږي.[241]

یوناما د اساف ژمنه یادوي چې د اډو او تمرین ځایونو دلېږد/تړلو لپاره یو عمومي عملیاتي طرز لعمل وضع کړي[242] خو په عین حال کې بیا تکراروي چې ۷۰۰ هدېږ او تمرین ځایونه چې له ۲۰۰۱ څخه راهیسې تړل شوي دي باید په فوري ډول تر بیا کتنې لاندې ونیسي.

د جګړې څخه د پاتې شویو چاودېدونکو توکو له امله د ماشومانو د تلفاتو نمونې:[243]

- د مۍ په ۸مه د ننګرهار ولایت د خاص کنړ په ولسوالي کې د ماشومانو یوې ډلې چې له یوې کورنۍ څخه وو یو ناچاودی توکی یې ښوونځي ته نژدې وموند او هغه یې کورته راوړ. ناچاودی توکی وچاودېد، دري ماشومان یې و وژل او دوه نور یې د مور او یوې نجلۍ په ګډون ژوبل کړل.
- د مارچ په لومړۍ نېټه د بلخ ولایت د مارمول په ولسوالي کې یو ناچاودی توکی وچاودېد، یوه نجلۍ یې ووژله او دري تنه ماشومان یې ژوبل کړل.

---

240 همدا ماخذ

241 د ناټو/اساف غیرطبقه بندي شوي معلومات چې یوناما ته ورکړل شوي، ۲۸ جولای، ۲۰۱۳.

242 همدا ماخذ

243 له جګړې څخه چاودېدونکو پاتې شونو نه منسوب شوې پېښې احتواء کوي.

- د فبروری په لومړی نېټه د بادغس ولات د قادس په ولسوالی کی د یوه ناچاودي توکي د چاودنې په نتجه کې درې ماشومان په جدي توګه ټپیان شول.ماشومانو دغه ناچاودی توکی موندلی او هغه یی په اور ابښی چې په نتجه کی یې دغه وسله وچاودېده.
- د جنوری په ۲۶مه د پروان ولات دکوه صافی په ولسوالي کې د هاوان توپ زړه ګولی په هغه وخت کې و چاودېدله چې اتوکسو شپنو هلکانو له هغې سره لوبې کولې، چې په نتجه کې درې هلکان و وژل شول او پنځه تنه نور هلکان یې ژوبل کړل.
- د جنوری په ۱۹مه د هرات ولات د شن ډنډ په ولسوالي کې یوناچاودی توکی وچاودېد چې دوه هلکان یې و وژل او یو یې ژوبل کړ. هلکانو د اور لپاره لرګي را ټولول او لوبې یې کولې چې په یو ناچاودي توکي برابر شول.

## د تعبه شویو چاودېدونکو توکو اغېزې: بې ځایه کېدنه، ناامني او د پاکولو اړتیا

موږ کولای شو له دښمن سره وجنګېږو خو نه له ځای پر ځای شویو/تعبه شویو چاودېدونکوتوکو سره. د تعبه شو یو چاودېدونکو توکو (IEDs) پاکول ژوند ژغوري، خلکو ته د دې فرصت برابروي چې بېرته خپلو کورونوته راستانه شي، ښوونځي خلاص کړي او بزګران خپلو کارونوته پرېږدي. پنځه کاله پخوا د طالبانو او د بین المللي نظامي قواوو ترمنځ له جګړو څخه وروسته، په نوزاد کې یوازې ۳۵ کورنۍ پاتې شوې. کله چې ماین پاکوونکو ۶۸۳ ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي و وېستل- چې زیاتره د اوسېدو له ځایونو څخه وو- نو نږدې ۴۰۰۰ کورنۍ بېرته خپلو کورونو ته راستنې شوې. په نوزاد کې په ډېرو کلو کې اوس هم ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي ښخ دي. هلته موږ ډېرو ټیمونو ته اړتیا لرو. د اوسنو ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو په موجودیت کې حتی څاروي هم نه شي کولای چې په سوله کې وګرځي.
-- د نوزاد د ولسوالي ولسوال، د هلمند ولایت، ۲۹ می ۲۰۱۳[244]

د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږومیاشتوکې ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو د افغانی ماشومانو، ښځو او نارینه و د ژوند او هوساینې په وړاندې په جنګونو پورې اړوند یو لوی خطر جوړ کړي و. د فشارد تختو لرونکي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي یا د فشار په ذریعه چاودېدونکې وسلې د دغو وسلو له امله د ملکي کسانو د تلفاتو اکثریت برخه جوړوي. برسېره پردې چې ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي د مړګ او د اندامونو د زیان کېدلو سبب ګرځي- د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو میراث[245] - چې خښ شوي او نا چاودي ځاي پر

---

[244] د نوزاد د ولسوالي له ولسوال سره د یوناما مرکه، د نوزاد ولسوالي مرکز، هلمند، ۲۹ می، ۲۰۱۳.

[245] په ابښودل شویو ځاي پر ځاي شویوچاودېدونکو توکوکې د فشار په ذریعه چاودېدونکي توکي، د قوماندي سيم، او د لېرې څخه کنترول کېدونکي تعبه شوي چاودېدونکي توکي شامل دي چې ښایي وچوي یا و نه چوي. د تعبه شوو چاودېدنکو توکو پاتې شوني د هغو تعبه شوو چاودېدونکو توکو څخه عبارت دي چې د پخوانو جګړو په وخت کې ابښودل شوي دي، چې ښایي وچوي یا و نه چوي، بانې د ماشې د آلې بېټري ښایي له وخته تېره شوې وي او یا آله په کار نه وې لوېدلې. زیاتره پرېښودل شوي تعبه شوې چاودېدونکي توکي د فشار په ذریعه د چاودېدونکو وسلو په شکل کې وي او د ملکی کسانو لپاره ډېر لوي ګواښ جوړ وي، ځکه دوي د قربانانو په ذریعه فعاله کېږي.

ځاي شوي چاودېدونکي توکي چې د ځمکنو ماینونو په ډول اغېزمن کارول کېږي اوس هم د زرګونو افغانانو په وړاندې د دې لپاره خنډ دي چې هغوی له خپلو بنسټېزو بشري حقونو څخه برخمن شي.

د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو د پاتې شونو د ډار او نا امنۍ چاپېرېال رامنځته کوي او د ژوند حقونه تهدیدوي. د جګړو په ټوله موده کې د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو پاتې شونو اغېزو دکلیو ټول اوسېدونکي بې ځایه کړي وو او هغه ټولنې چې په پاتې شونو چاودېدونکو توکو په سیموکې اوسي د همېشني خطر لاندې ژوندکوي چې له مرګ، عیبې کېدلو، سختې ټپي کېدنې او د شخصي ملکیتونو له زیان سره مخامخ دي. د ځاي پر خاي شونو چاودېدونکو توکو اغېزې له بشري حقونو څخه د برخمن کېدلو په لارکې خنډګرځي، په تېره بیا دګرځېدو راګرځېدو د ازادۍ او همدارنګه د معشت، په ساسی چاروکې دګډون، تعلیم او د روغتیا د حقونو څخه.

په اوس وخت کې د ځاي پر خاي شويو چاودېدونکیو توکو د پاکولو/د چاودېدونکو توکو د خنثی کولو هڅې په دې باندې متمرکزې دي چې عملیاتی ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي استه کړي، خاصتاً هغه توکي چې افغانی او نړیوالو امنیتي قواوو ته خطر جوړوی. بوناما په دې ټېنګارکوي چې د بشر پالنی هڅو او د ملکي کسانو خوندېتوب ته باید په برابر ډول او هغسې پاملرنه وشي چې اوس مهال د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو د پاکولو لپاره د نظامي هدفونو په غرض کېږي نورې منابع هم باید د دې لپاره په کار ولوېږي چې د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو پاتې شوي توکي او له جګړې څخه چاودېدونکي پاتې شوني توکی له ټولنتو/کلو څخه پاک شي. د ماینونو د پاکولو اغېزې په افغانی ټولنو باندې سملاسي، د اندازې وړ او ډېرې ژورې دي، خو ناچاودلي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي په خپل ځای کې پرېښودل د افغانانو د ژوند او انفرادی خوندېتوب لپاره یو تهدید دی او په اوږد مهال ډول د ورې او بې ثباتي اغېزې پر ځاي پرېږدي.

د حکومت د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکیو توکو ضد ستراتیژۍ یو مهم اصل دا دی چې د افغانانو لپاره یو خوندی چاپېرېال برابرکړي. د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو ـ ضد ستراتیژی پنځه برخې لري: د قانون واکمنی، حکومتداري، امنیت، ډیپلوماتیک فعالیتونه او عامه پوهاوی. د "وسله شنډه کړئ" په برخه کې چې د امنیت د برخې یو جز دی، چې ټول امنیتی وزارتونه د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو یا د چاودېدونکو توکو د خنثی کولو حادثې ته د ممکنه لومړیو غبرګون ښوونکو په توګه ګوري او یا د دې ظرفت ورکوي چې ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي وباسي او د چاودېدونکو توکو د خنثی کولو طرزا لعملونه په کار اچوی.[246] د دې مانا داده، چې هڅې باید ادامه پیداکړي، څو د دې ډاډ پیدا شي چې افغانی امنیتی قواوي روزنه واخلي، مجهزې شي او منابع پیداکړي چې ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي وباسي.

د قضیې څېړنه: د هلمند د ولایت دکجکي او نوزاد ولسوالۍ

[246] ۲۲ ماده، دتعبه شویو چاودېدونکو توکو په ضد ملي ستراتیژي ۲۰۱۲، د ملي امنیت دفتر، د افغانستان حکومت، د تصویب نېټه، ۲۴ جولای، ۲۰۱۲.

په ۲۰۱۲ کې،[247] د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو د اغېزو په باب د نوي څېړنې څخه وروسته، يوناما د ۲۰۱۳ په مې کې د هلمند ولايت دکجکی او نوزاد ولسوالو د ټولنې له مشرانو، چارواکو او اداري کارمندانو سره د دوي په ژوند باندې د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو د اغېزو په باب سلا مشورې وکړې، په دواړو ولسوالو کې له ۲۰۰۸ کال راهيسې د طالبانو او نظامي قواوو په منځ کې د جګړو له امله په زرګونوکورنۍ له خپلو ځايونو څخه بې ځايه شوې، او په ځينو ځايونوکې ټول کلي بې ځايه شوي دي، يوناما په پرلپسې ډول داسې اطلاعات تر لاسه کړي چې په ۲۰۱۳ کال کې بشپړکلي د ناچاودو ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو د زياتې اندازې په وجه بې ځايه شوي دي، ټولنو همدارنګه راپورونه ورکړي دي، چې ځينې کورنۍ هغو ځايونو ته بېرته ستنې شوي دي چې د اوسېدو ساحې بې د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو او ناچاودو توکو له اغېزو څخه پاکې شوي دې.

د هلمند د ولايت د نوزاد په ولسوالي کې، ماين پاکوونکو د ۲۰۱۳ د مې تر ۲۹مې پورې ۲۶۶۰۴۳۲ متره ځمکه له ۶۸۳ پاتې شويو ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو او د ۲۱۰ ناچاودل شوو توکو څخه پاکه کړې ده. په دې کې د ۲۰۱۰ د مارچ څخه راهيسې د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو، او نا چاودل شوو توکو او د کوچنو وسلو د مرمو او پاتې شويو ټوټو لېرې کول او د ۱۲۸۰ ملکي کسانو د اوسېدلولو د ځايونو پاکول شامل وو.[248]

همدارنګه د هلمند د ولايت دکجکي په ولسوالي کې د افغانستان لپاره د ماينونو د پاکولو اېجنسي(ډی ای اېف ای) د ۲۰۱۳ د اپرېل د ۳۰ راهيسی ۸۱ پرښبودل شوي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي او ۱۱۹۸ نا چاودې توکي استه کړي دي چې د ۲۰۱۲ د جولای[249] راهيسې پرښبودل شوي وو. د افغانستان لپاره د ماين پاکۍ د اېجنسي په قول ماين پاکوونکو ۳۰۰ کورونه پاک کړي او له هغه راهيسې ۲۰۰ کورنۍ بېرته راستنې شوې دي.[250]

د نوزاد او د کجکي په ولسوالوکې د ۲۰۱۳[251] د مې په مياشت کې د يوناما دکتنو په ترڅ کې چارواکو، قومي مشرانو، ښوونکو او طبي کارمندانو په دې ټينګار وکړ چې د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو د لېرې کولو پروګرامونو په تعلیم، روغتيا ته په لاس رسي او د ګرځېدو او د شخص په انفرادي خوندتوب باندې مثبتې اغېزې درلودلي دي.ټولنو په پرلپسې ډول راپورونه ورکړي دي چې له ۲۰۰۹ راهيسی په جګړو پوری مربوطو، د تاوترېخوالي پېښو بشپړکلي بې ځايه کړي دی، له جګړه انزو عملياتو څخه وروسته ټولنو نه شوکولای چې خپلوکورونو ته راستنې شي، ځکه چې د دوي په کورونوکې چاودېدونکي توکي ځای پره ځای شوي وو. کورنۍ تر هغو پوری راستنی نه شوي څو چې ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي له ساحې څخه پاک شوي نه وو.

---

[247] وګورئ د ملکی کسانو د ساتنې په اړه د يوناما کلني راپور، **په ژوره کې تعبه شوي چاودېدونکي توکي**: د ملکي وګړو په ژوند باندې د ښخ کړای شوو او پاتې شوو ځاي پر ځاي کړای شوو چاودېدنکو توکو اغېزې، ۶۲- ۶۴ پاڼه په: http://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=12265&language=en-US. کې وګورئ.

[248] د ولسوالي له چارواکو او د ماينونو د کشف له مرکز سره د يوناما غونډه، د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۲۹ نېټه د هلمند د ولايت د نوزاد په ولسوالۍ کې د يوناما سره د افغانستان د ماين پاکۍ د پروګرام کتنه.

[249] د ولسوالي له چارواکو او د افغانستان لپاره د ماين پاکي د اېجنسۍ (ډی ای اېف ای) سره د يوناما مرکه، دکجکي ولسوالي، ۲۹ مۍ، ۲۰۱۳.

[250] پاتې ۱۰۰ کسان بېرته نه دي راګرځېدلی، ځکه په جنګونوکې د دوي کورونه د تعبه شويو چاودېدونکو توکو د پيښو او بمبارېو په ذريعه وېجاړ شوي.

[251] د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۲۸ او ۲۹ نېټو د نوزاد د ولسوالي او د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۲۹ نېټه دکجکي په ولسوالۍ کې دکلوالو ټولنو سره د يوناما غونډې.

که څه هم ډېر شمېر لېږي شوي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي بنايي په تخنيکي لحاظ غير فعاله وګڼل شي،[252] ځکه د مثال په ډول، که بټرۍ چې د فعالولو بوه منبع ده له وخته تېره وي، نو د بوه ملکي شخص لپاره چې د چاودېدونکو توکو د خنثی کولو روزنه يې نه وي لېدلې، ناممکنه ده چې د بوي آلې د فعالیت ظرفیت تشخیص کړي او د بوي آلې فعالیت له هر ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي سره توپیر لري دغه ډول حالات د دې غوښتنه کوي چې د پاکولو او استه کولو لپاره مخصوصې مرستې تر لاسه شي.

په دې ولسوالوکې د پاکولو هڅې د هغو تړلنو بو لړ شمېر ځرګندوي چې د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو له اغېزو څخه متاثرې شوي دي او د دې ضرورت په ګوته کوي چې د پاک کارۍ عملیات بايد نور هم تقويه شي، خاصتآ په جنوب کې قومي مشرانو، د تړلنو استازو او د ولسواليو چارواکو په پرلپسې ډول راپورونه ورکړي دي چې د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو نا چاودي توکي له نوزاد اوکجکي له ولسوالو څخه د طالبانو د مداخلې او بېرې څخه پرته استه شوي دي.

د افغانستان په نورو برخوکې، خصوصا په جنوب کې د دې ضرورت په شديد ډول احساسېږي چې پرېښودل شوي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي بايد و پېژندل شي او استه کړاي شي. دکندهار په ولايت کې له تړلنو سره د يوناما دکتنو په ترڅ کې د تړلنو استازو په پرلسی ډول د ملکي تلفاتو، دګرځېدو راګرځېدو په محدودېتونو او نورو هغو مسالو راپورونه ورکړي دي چې په ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو پورې تړلي وو.[253] د مثال په ډول دکندهار ولايت د ميوند په ولسوالي کې قومي مشرانو ووېل چې دګڅ کارېز په ساحه کې د هغه ځاي خلکو لږ تر لږه ۴۰ ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي د دوي په کلي کې لېدلي دي. دوي وړاندې ووېل چې افغان امنيتي قواووې و نه توانېدلې چې دغه وسلې استه کړي او نا يې شنډې کړي اوس تړلنو راپور ورکړي چې افغان امنيتي قواووې او اساف د دوي په کروندو کې خپل وسائط تېروي ځکه چې په لوبو لاروکې ماينونه اېښودل شوي دي. د دې عمل په نتيجه کې د هغو زياتو زيانونو هېڅ تلافي نه ورکول کېږي چې د دوي حاصلاتو ته اوړي. مشرانو ووېل چې په هرکال ګې له ۸۰ څخه زيات مړګ او ژوبلې په دې ولسوالي کې پېښېږي چې اکثرت د هغو د فشار په ذريعه چاودېدونکو وسلو څخه دي چې په سړکونوکې اېښودل شوي دي.[254]

د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو د پاتې شونو د اغېزو لمن پراخه ده او د دې غوښتنه کوي چې نوره سروې او پلټنې وشي، څو هغه ساحې په ګوته شي چې د ناچاودو توکو له امله په اوس مهال کې او هم په راتلونکي کې خطر جوړوي. خو اوسنۍ جاري جګړې او تاوتريخوالي د دې سبب ګرځي چې د ځاي پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو څخه ډېرې متاثرې شوې ساحې د ماينونو له خطر څخه پاکې شي، نهر سراج او نادعلی داسې سيمې دي چې د ماينونو د پاکولو د ادارو له پاره ډېري نا امني ګڼلي کېږي څو هلته سروې او پلټنې وکړي.

---

[252] تجارتي بټرۍ ډېر ځله د ماشې د الې لپاره د انرژي د منبع په ډول استعمالېږي چې تعبه شوي چاودېدونکي توکي ته چاودونه ورکړي.

[253] په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو ساتنه، د يوناما د ۲۰۱۲ کلنی راپور، ۶۲- ۶۴ پاڼې په کې وګورئ .http://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=12265&language=en-US

[254] د ۲۰۱۳ کال د مې په ۲۷ نېټه دکندهار د ولايت د ميوند د ولسوالۍ د تړلنو د استازو سره د يوناما غونډه د مود د ولسوالي له قومي استازو سره د يوناما غونډه، کندهار ۲۷ مۍ، ۲۰۱۳.

یوناما نو ځل بیا په دې ټینګار وکړ چې د ځای پر ځای شویو چاودېدونکیو توکو ضد ملي پالیسی باید ژر تر ژره په بشپړ ډول تطبق شي، چې د امنت د ملی شورا له خوا د ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۴ تصوب شوه. په ۲۰۱۳ کې افغان امنیتي قواوو د اسباب په مرسته د چاودیدونکو توکو د خنثی کولو د وسایلو په برابرولو او وېشلو او د امر او قوماندې په چاروکې ډېری لاس ته راوړنې درلودې. یوناما د دې پرمختګونو هرکلی کوي او خپلې سپارښتنې بیا تکراروي چې نورې سرچینې باید د دې لپاره وقف شي څو یقیني شي چې په ټول افغانستان کې د د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د لیرې کولو عملیات تر سره شي.

## ښځې او ماشومان او وسله واله جګړه

ښځې

جګړې په افغانستان کې ښځو او ماشومانو ته ډېر زیانونه اړولي دي. د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې، د جنګ او تاوتریخوالی په وجه ۱۰۶ ښځې وژل شوي او ۲۴۱ تنه نورې بې ژوبلې شوي دي(۳۴۷ تلفات)، دغه رقم د ترکال د همدې مودې په پرتله ۶۱ سلنه زیاتوالی ښيي.[255]

په ۲۰۱۳ کې د ښځو زیاتره قربانیاني په ځمکنو جګړو کې وژل شوي یا ژوبلې شوي دي، چې د جګړو ډېری خواوې په کې شاملې وي. په دی تاکتیک سره ۳۳ تنه وژل شوي او ۱۱۸ نوری زخمانی شوي چې د ټولو ښځو د تلفاتو ۴۳ سلنه شمیره ده. په۲۰۱۳ کې په ځمکنو جګړوکې د وژل شویو او ژوبلو ښځو شمیر ۶۴ سلنه زیات شوی چې دا په ټولو تلفاتوکې د هغه زیاتوالي ښکارندوي ده چې د ځمکنو نښتو له امله د یوناما له خوا مستند شوي دي.[256]

اکثریت پیښې د هغو بې ځایه وشتل شوېو مرمو څخه را پیدا شوي چې د دوی کورونه یې اغیزمن کړي او په ورځنیو کارونوکې دوی ته زیانونه اړوي. د مثال په توګه، د می په ۸مه، د فاریاب ولایت د قیصار په ولسوالي کې د افغان ملی اردو له خوا یوه مرمۍ چې منحرفه او خطاء وویشتل شوه چې په یوه ملکي هستوګنځي باندې ولګېده او درې ښځې او یو ماشوم یې و وژل (ټول د یوې کورنۍ غړي وو).

د ځمکنو نښتو او جګړو په تعقب ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ډېری ښځې وژلي او ژوبلې کړي دي چې ۴۱ تنه یې وژل شوي او ۵۴ نورې یې ژوبلې دي. په ۲۰۱۳ کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په وجه د ښځو د تلفاتو په شمېرکې ۱۳۷ سلنه زیاتوالی څرګندیږي.

ماشومان

یوناما د جنورۍ له لومړۍ نه د جون تر ۳۰ نېټې پورې، ۷۶۰ (۲۳۱ مړینې او ۵۲۹ ژوبلې) د ماشومانو تلفات مستند کړي دي، چې د ۲۰۱۲ را هیسې ۳۰ سلنه زیاتوالی څرګندوي. په ۲۰۱۳ کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په ذریعه تر بل هر تاکتیک څخه زیات ماشومان وژل شوي او ژوبل شوي دي. یوناما د ماشومانو ۷۰ د وژنې او

[255] د ۲۰۱۲ کال د جنوري د لومړۍ د جون تر ۳۰ پورې، یوناما مستنده کړې ده چې ۷۶ ښځې وژل شوې او ۱۳۹ تنه ټپیانې شوې دي (۲۱۵ تنه تلفات) او ۲۳۲ تنه ماشومان وژل شوي او ۵۳۲ تنه ژوبل شوي (۷۶۰ د ماشومانو تلفات).

[256] په ۲۰۱۳ کې یوناما په ټولیز ډول ۴۲ سلنه زیاتوالی په ملکی تلفاتوکې ثبت کړی دی چې د ځمکنو جګړو څخه رامنځ ته شوي دي.. په دې راپورکې:د جګړې د خواوو تر منځ د خمکنو نښتو برخه وګورئ.

۱۷۹ د ژوبلدنې پېښې مستندې کړي دي چې د ۲۰۱۲ د همدې مودې په پرتله ۷۲ سلنه زیاتوالی ښکاري، ځکه چې په تېره همدې موده کې یوناما د وژنې ۶۳ او د ژوبلېدنې ۸۲ پېښې ثبتې کړې وې. د مثال په توګه، د ۲۰۱۳ د اپریل په ۲۳، دکندهار ولایت دمعروف په ولسوالي کې د سړک د غاړې نو ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي څلور تنه ماشومان ووژل او یو بل یې زخمي کړ.

له جګړې څخه د چاودېدونکي پاتې شونو څخه وروسته ځمکنۍ نښتې/جګړې یو بل داسې تاکتک دی چې ماشومانو ته زیانونه رسوي چې د دې دواړو تاکتکونو په ذریعه په ۲۰۱۳ کې د ماشومانو د تلفاتوکچه لوړه شوې ده. یوناما د ماشومانو ۵۷ د وژنې او ۱۸۳ د ژوبلدنې قضیې ثبتې کړې دي چې د ځمکنو جګړو په پایله کې رامنځ ته شوي او د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۴۰ سلنه زیاتوالی ښکاري۳۳ نور ماشومان هم له جګړې څخه د چاودیدونکو پاتې شونو له چاودنو څخه وژل شوي او ۸۲ ټپیان شوي دی چې له ۲۰۱۲ څخه ۵۱ سلنه زیاتوالی ښکاري.[257]

په ښوونځو موسساتو باندې بریدونه

د ۲۰۱۳ د جنوری له لومړۍ د جون تر ۳۰ نېټې پورې، یوناما د جګړې اړوند د تاوتریخوالي ۴۰ داسې پېښې ثبتې کړې دي چې له امله یې په مستقیم ډول ښوونځي او د ښوونځوکارمندان متاثره شوي او دغه پېښې د ۲۰۱۲ د لومړنو شپږو میاشتو په پرتله ۱۸ سلنه زیاتوالی ښکاري.[258] د دغو پېښو له نوې پر دریمې برخې څخه زیاتې په ختځو برخوکې ثبتې شوي دي. یوناما له ۴۰ دغو پېښو څخه ۲۳ یې د دولت ضد عناصرو ته منسوبې کړې او څلور نورې یې دولت پلوه قواوو ته منسوبې کړې دي. پاتې ۱۳ پېښې په جګړو کې ښکېلو یوې خوا ته هم نه دي منسوبې شوې.[259]

په اکثرت پېښوکې د جګړیزو عملیاتو په ترڅ کې د ښوونځو ودانیو او ملکیت ته زیانونه رسدلی دي. په نورو بریدونوکې ښوونځي سوځول شوي، زده کونکی وژل شوي یا ژوبل شوي دي او ښوونځی اشغال شوي چې د نظامي هدفونو لپاره کارول شوي دي او د ښوونځو پرسونل برول شوي او تښتول شوی دی. د ۲۰۱۳ په مۍ کې د زابل په ولایت کې ښوونځي د طالبانو له خوا په زور سره تړل شوي، ځکه چې له هغه مخکې د حکومت له خوا د موټر سایکل په سپرلۍ بندیز لګول شوی و. د راپورونو له مخې د دولت ضد عناصرو له موټرسایکلونو څخه په هدفي وژنوکې ګټه اخستله.[260]

په وسله والو قواوو کې د ماشومانو استخدامول اوکارول

---

[257] د دې راپور:له جګړې څخه چاودېدونکي پاتې شوني او د تعبه شوو چاودېدونکو وسلو بقایا، برخه وګورئ:

[258] د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې، یوناما په تعلم باندې په مستقیم ډول بریدونه او هغه پیښې چې تعلم اغزمن کوي ۳۴ بریدونه مستندکړي دي.

[259] د هغو ارقامو له مخې چې د (ماشومان او وسله واله جګړه) په اړه د هوادنې کاري ډلې له خوا په ۲۰۱۳ کې راټول شوي او تصدیق شوي دي.

[260] د پخوانۍ پریکړې چې د موټر سایکلونو په ګرځدو یې بندیز لګولی و، په پایله کې د غزني ولایت د اندړو په ولسوالي کې د ۲۰۱۲ کال اپریل په ۲۶ ښوونځي وتړل شول او د دې سبب شوه چې د طالبانو په وړاندې محلي قیام وشي.

یوناما د دې کال په لومړیو شپږو میاشتوکې وسله والو قوتونو او افغان ملی اردو ته د ماشومانو د شاملولو ۱۶ جلا پیښې ثبتې کړي دي. د دغو پیښو شمیر د ۲۰۱۲ کال د همدې مودې د پیښو له شمیر سره ورته والی لري. په دې شمیرکې، لږ تر لږه اوه تنه محلي پولیسو ته، یو تن ملی پولیسو او۲۳ تنه نور د طالبانو او نورو دولت ضد عناصرو له خوا استخدام شوي دي.[261] ماشومان زیاتره په جنوبي او جنوب شرقي سیموکې استخدام شوي دي. استخدام شوي ماشومان مختلفو نظامي هدفونو لپاره په کار لویدلي دي لکه د پولیس فعالتونه، د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو ترل، ښخول، ایښودل او ځانمرګي بریدونه.

د روغتونونو او روغتیایی اسانتیاوواومرکزونو په ضد بریدونه

یوناما د۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې د روغتونونو او طبی کارمندانو په ضد ۱۲ بریدونه مستندکړي دي. د دغو بریدونو اکثریت په ختیځو سیموکې تر سره شوي دي. په دغو حوادثوکې د واکسناسیون څخه انکارکول، په طبی مرکزونو/اسانتیاوو اوکارمندانو باندی بریدونه، په جبري توګه ور ننه کدل، دکارمندانو تښتول او لوټول شامل دي. د ټولو راپور شویو پیښو شمیر د ۲۰۱۲ کال د لومړیو شپږو میاشتو دکچو سره یو شانته دی.

## د جګړو له امله بې ځایه کیدنه

د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمشنرۍ (یو این ایچ سی ار) د جنورۍ له لومړۍ د جون تر ۳۰ نیټې پورې، ۵۹۳۱۵ ملکي وګړي ثبت کړي چې د جګړو له امله بې ځایه شوي دی.[262] دغه شمیر د ۲۰۱۲ کال د همدې مودې د شمیر په پرتله ٪۳ زیاتوالی څرګندوي. په افغانستان کې د بې ځایه شویوکسانو ټول شمیر نږدې ۵۷۴۳۲۷ تنو ته رسیږي.[263]

د ۲۰۱۲ کال سره په ورته ډول د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې یو این ایچ سی ار د بې ځایه شویو خلکو (ای ډی پی) لوړه اندازه په جنوبي برخوکې له هغه وروسته د افغانستان په غربی او شرقی برخوکې ثبت کړې ده.[264] په شمالي برخوکې د تاوتریخوالی له امله د بې ځایه شویو وګړو په شمیرکې په دویمه درجه زیاته اندازه ثبت شوې ده، چې په عمده ډول د دولت ضد عناصرو له خوا د جبری استخدامولو، وسله والې جګړې، بریونو، د دولت ضد عناصرو له خوا په غیر قانوني ډول د مالیی ټولولو او د امنیتي وضعې د عمومي خرابوالی له امله راپیدا شوي.[265] د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنرۍ (یو این ایچ سی ار) تر ټولو زیاته کچه د بې ځایه شویوکسانو په شمیر کې د ۲۰۱۳ په مۍ کې مستنده کړه چې په ترڅ کې یې په تخمني ډول (۳۲۰۰۰) کسان بې ځایه شوي او زیاتره یې په هلمند او اروزګان کې د نظامی عملیاتو او ځمکنو جګړو له امله پیښ شوي دي.

[261] په ۲۰۱۳ کال کې د (ماشومان او وسله واله جګړه) دکاري ډلې له خوا کې د راټولو شویو او تصدیق شوي ارقامو له مخې.
[262] د ۲۰۱۲ له جنوري-جون پورې دکډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ ۵۷۵۸۷ نوي بې ځایه شوي کسان مستندکړي دي.
[263] دکډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ د بې ځایه شویوکسانو دغه شمیر په افغانستان کې له ۱۹۹۴ راهیسې ثبت کړی دی. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ خپرونه: "د جګړو له امله داخلي بې ځایه کدنه- افغانستان"، جنوري- می ۲۰۱۳ او "د جګړو له امله داخلي بې ځایه کدنه- میاشتني نوي معلومات " دکډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ، افغانستان، جون ۲۰۱۳.
[264] دکډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ د ارقامو له مخې د افغانستان په جنوب کې د بې ځایه شویو خلکو شمیر تر بل هر ځای زیات دی چې ۱۸۰۹۶۰ تنه تخمین شوی دي. دوهم زیات شمیر په لویدیځ کې ثبت شوی چې نږدې ۱۵۹۴۲۲ داخلي بې ځایه شویوکسانو ته رسیږي او په ختیځو برخوکې نږدې ۱۰۳۸۴۱ تنه بې ځایه شوي کسان شته. همدا ماخذ.
[265] د جګړو له امله داخلي بې ځایه کدنه- میاشتني معلومات. دکډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ، افغانستان، جون ۲۰۱۳.

بې ځایه شویو کسانو په پرلپسې ډول راپورونه ورکړي دي چې ځمکنۍ جګړې، نظامي عملیات او د امنیتي وضعې عمومي خرابوالی د بې ځایه کېدنې اصلي لاملونه دي. په نورو راپورونوکې راغلي دي چې د دولت ضد عناصرو له خوا ګواښونه او تهدیدونه او د قومونو په منځ کې جګړې هم د بې ځایه کېدنې علتونه ګڼل کېږي.[266] په ډېرو قضیوکې داخلي بې ځایه کېدنې د خپلې اصلي ولسوالي، ولایت یا په سیمه کې د نورو ولایتونو په حدودو کې صورت نیسي چې په لږ شمېرکې خلک نوروګاونډیو ولایتونو ته کوچ کوي. په ټولو قضیوکې ملکي بې ځایه شویو کسانو د نا امنۍ، دګوزڼیو او ټولنې په جوړښتونوکې د ماتېدو، مړینې او ژوبلې، د اوسېدنې په اصلي ځایونوکې د معیشت د له منځه تللو، ضروري خدمتونو ته د نه لاس رسي او د نورو تر څنګ د بشري حقونو له اندېښنو څخه راپورونه ورکړي دي.

د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې، د بشر پالنې د سازمانونو اندېښنې له دې درکه وې چې دوي نه شوکولای د نا امنۍ له وجې خصوصا په لېرې پرتو سیموکې داخلي بې ځایه شویوکسانو ته لاس رسی ولری.

یوناما د حکومت د پرلپسې هڅو هرکلی کوي چې د داخلي بې ځایه شویوکسانو په باب د پالیسۍ د تصوب لپاره یې کوي.[267] د یو این ایچ سی ار په قول دغه پالیسي د افغان حکومت لپاره یو داسې ضروری چوکاټ برابروي چې د بې ځایه شویوکسانو په باب خپل مسوولیتونه وپېژني، د بې ځایه کېدنې د مخنوي لپاره ستراتیژي طرح کړي او د ملي او ولایتي چارواکو فعالیتونه په تفصیل سره بیان کړي څو بې ځایه کېدنه کې د بې ځایه شویو خلکوګڼ اړخیزې اړتیاوې رفع کړي او د دوی د مسالو لپاره دوا مداره حل لارې ومومي.

## د پولی پوری غاړی دګولو ورول/د پولې اخوا ډزې

یوناما د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې ۴۴ د پولې د بل اړخ څخه دګولو د ورولو داسې پېښې مستندې کړي دي چې د پاکستان څخه وېشتل شوي دي چې ۱۴ تنه ملکي تلفات یې اړولي دي چې له هغې څخه دوه تنه وژل شوي او ۱۲ تنه نور ژوبل شوي دي. دغه پېښې دکنړ ولایت د دانګام، سرکانو، مرورې، خاص کنړ، شګل او شولټې ولسوالیو او د نورستان ولایت دکامدېش په ولسوالي او د ننګرهار ولایت د لعل پورې په ولسوالي کې رامنځ ته شوي دي. دغه حادثې د ۲۰۱۲ کال د همدې مودې په پرتله سل سلنه زیاتوالی څرګندوي.[268]

په ملکي تلفاتو سر بېره، یوناما ته د هستوګنې د ځایونو د تخرب او څارویو د وژلو راپورونه هم رسدلي دي. که څه هم یو این ایچ سی ار په ۲۰۱۳ کال کې په دغو سیموکې د بې ځایه کېدنې نوې حادثې نه دي مستندې کړې، له ۷۰۰ څخه زیاتې کورنۍ (نږدې ۴۵۰۰ کسان) په ۲۰۱۲ کې دکنړ ولایت د دانګام له ولسوالۍ څخه بې ځایه شوي چېرې چې د پولې له بلې خوا څخه دګولو ورولو خلک متاثره کړي دي.[269]

---

[266] همدا ماخذ.

[267] وګورئ: "د داخلي بې ځایه شویوکسانو په اړه د پالسي مسوده." دویمه مسوده- ۱۴ اکتوبر ۲۰۱۲، دکډوالو او راستندونکو وزارت. 15 July,2013http://morr.gov.af/en/page/8105.accessed

[268] د ۲۰۱۲ په لومړیو شپږو ماتشوکې، یوناما مستنده کړې چې یو تن ملکي شخص وژل شوي او شپږ تنه نور په ۷ جلا پیښوکې ټپیان شوي دي.

[269] د څلورو پیښو په استثنی، نورې ټولې پیښې په کنړ ولایت کې او اکثرت د دانګام په ولسوالي کې رامنځ ته شوې دي.

پاکستان په رسنوکې ویلي دي چې دوي ګولۍ د هغو شورشانو په ضد ورولي دي چې د افغانستان له سرحد څخه را اوړی او په پاکستان کې شورشي فعالتونه کوی.[270] یوناما د سرحد په اوږدو کې له نورو ولسوالو څخه چې له پاکستان سره په سرحدکې پرتې دي لکه د ننګرهار ولایت د اچین ولسوالي او د کنړ ولایت د ناړۍ ولسوالي څخه د دې سره سره چې هلته شورشي او د پولې د دواړو خواوو فعالتونه زیات دي د پولې د بلې خوا څخه دګولو د ورولو راپورونه نه دي تر لاسه کړي. د سرحد په اوږدو کې د دولت ضد عناصرو د خوځښت مخنوی ښایي دګولو ورولو لپاره یوه انګیزه وی، خو یوناما داسی څه معلومات نه دي تر لاسه کړي چې له مخې یې دګولو ورول د دولت ضد عناصرو د وژنې سبب ګرځېدلی وي.

د سرحد په دواړو خواوو کې دګولو ورول په ۲۰۱۳ کې ادامه پیدا کړه چې خصوصا د مۍ ۲مه ،هغه حادثه چې د افغان او پاکستانی سرحدي قواوو په منځ کې یو ټکر واقع شو، د غوسې او اعتراض سبب وګرزیده. له دې پېښې وروسته ۱۷ جلا جلا مظاهرې وشوې چې د سرحد په دواړو خواکې یې دګولو په ورولو اود تاوتریخوالي د نښتې پر ضد په اعتراض کې وې، چې له هغو څخه۱۱ مظاهرې یوازې دکنړ په ولایت کې وشوې.

---

[270] د مثال په ډول دولان ویلچ اوکتارین هوربلدا "افغان اردو د پولې د هغه خوا راکټې بریدونه غندي په اړه د پاکستان." رویټرز، ۲۷ مارچ، ۲۰۱۳.په http://www.reuters.com/article/2013/03/27/us-afghanistan-pakistan-shelling-idUSBRE92Q0EF20130327.accessed15July, 2013

## ضمیمه

**دطالبانو دمیاشتنۍ اعلامیې" جنګي جرمونه" جنوري – مۍ۲۰۱۳ له مخې د ملکي کسانو تلفات او د یوناما له ارقامو او ډېټا بس سره د هغو مقاسه**

| شمېره | د طالبانو ادعاوې او تفصیل | د یوناما موندنې |
|---|---|---|
| ۱ | د۲۰۱۳ د جنورۍ په ۴مه، بوکلوال د بارکزی په نوم دکندهار ولایت د شاولي کوټ په ولسوالي کې د قاربان په کلی کې برغلګرو له خوا شهید شو. | یو ناما دغه پیښه نه شی تصدیقولای |
| ۲ | د جنورۍ په ۵مه برغلګرو قوتونو د شپې په عملیاتوکې دکابل ولایت د سروبی په ولسوالي کې د انکول په کلی برید وکړ. دوي هیڅ جنګی مواد پیدا نه کړل، سره د دې بې هم دوه تنه ملکي کسان و وژل او دوه نوریې ټپیان کړل. | یوناما دغه پېښه نه شي تصدیقولاې. |
| ۳ | د جنورۍ په ۸مه برغلګرو قواوو د اروزګان ولایت د چارچینو په ولسوالي کې دګوهرجن د ناجوي په کلي کې شپږ تنه ملکي کسان بندیان کړل او مولوی شرمحمد نو ځوان عالم یې په دغه ساحه کې شهیدکړ. | یوناما دغه پیښه نه شی تصدیقولای. |
